# د بوپال پښتانۀ

لیکونکې: صفیه حلیم

د ۱۹٤۷ م کال د اگست دیارلسمه نېټه وه.د بهو پال په سرکاري دفتر کې نوای حمیدالله خان د خپل مېز سره ولاړ دی.د هغه توپنچه ډکه پر مېز پرته ده.د هغه تندی تریو او لاسونه یې یوپر بل کلک نیولي دي.لږه شېبه وروسته دهغه مشره لور دفتر ته راننوزي.دواړه یوبل ته سلام اچوي.او سمدلاسه نواب خپلې لور ته وایي "زه پاکستان ته ځم.غواړم چې د بهوپال چارې ته پر مخ یوسې.کېدای شي ما د پاکستان مشر وټاکي.ماته جناح ویلي دي چې راشه، خو زه غواړم چې ته ماته د یوې خبرې ډاډ راکړې.او هغه دا چې ماته به د بهوپال له خزانې پینځه لکه روپۍ دکال رالېږې.ته دا خبره منې؟

لور یوه شېبه د پلار په سترگو کې سترگې واچولې.خو خپل قهر یې نشو څرگندولی. پلارته یې بې ادبي نشوای کولای. پر مېز ایښې توپنچې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل."ته ولې په ما ددې توپنچې ډز نه کوې.؟"زه بې وسلې یم.دا نوابي تا پورې اړه لري.دا سیمه که له هند سره یوځای کېده نو په دې فیصله زه خپله گوته نشم لگولی.او سبا به خلک وایي ښځه وایي ځکه خو یې ددې خاورې له هند سره د یو ځای کېدو مخه یې ونه نیووله.او هغه وطن چې زمونږ مشرانو په تېرو دوه نیم سوه کلونو کې د خپلو سرونو په بدل ساتلی وو.یوې ښځې هند ته تسلیم کړ."

د نواب حمیدالله خان دا لور عابده سلطان وۀ چې د بهوپال د وروستۍ نوابې په توگه په دیارلس کلنۍ کې نومول شوې وه.او په ۲۰۰۲ د مې پر ۱۱ نېټه د کلونو ۸۹ په عمر په کراچي کې په حق ورسېده.

دا داورکزو د هغې کورنۍ غیرتي مېرمن وه چې د هند په مدهیه پردېش ایالت کې یې د اتلسمې پېړۍ په سر کې د بهوپال د خپلواکه نوابۍ بنا کېښوده.

دهندوستان په پراخه خاوره کې له لرغونو وختونو څخه هرې سیمې د انتظامي چارو لپاره یو واکمن لرلو.د پښتنو،عربانو،ترکانو او مغلو لخوا چې هرکله دا سیمه نیول شوې او د دوی سلطنت پرې جوړ شوی دی.دې سیمه ییزه واکمنو تته یې درناوی کړی دی.او که جگړه یې وررسره نه

کوله.نو د باج او خراج په بدل کې یې ورته القاب او خطابونه ورکړي دي.هغه سوبې یا ایالتونه چې لکه د پاچاهانو پکې راجه ګان او نوابان واکمن وو.د خپلې سیمې د خلکو لپاره هم مهم وو.د مزکو د بشخړو ،د امنیت ،دوبا او دغسې نورې ورځنۍ چارې دنوابانو لخوا ټاکل شوي پولیس ،پوځ ،قاضیانو او وزیرانو اداره کولې.د یوپاچا دیوه کامیابه حکومت تر شا هم دغه نوابان او راجه ګان وو.د بهرني یرغل پر ضد د پوځ برابرولو لپاره به هم دې نوابیوډېر لوی رول ترسره کاوه.

په ۱۹۰۰ عیسوي کال کې چې انګرېزانو د هند په لویه وچه واکمن وو.ددې نوابیو او راجواړو په اړه یې یوه تذکره لیکلې چې د هغې له مخې د هند او اوسني پاکستان او بنګله دېش په ګډون دلته تر شپږ سوو ډېر نوابان او راجه ګان وو. په نولسمه پېړۍ کې ځینې ریاستونه او ایالتونه لکه آسام ،مرهټه او پنجاب په انتظامي توګه خپل حثیت له لاسه ورکړی وو.

په ۱۹٤۷کې د انګرېزانو په حساب ٥٦٥ ریاستونه موجودوو. په دې کې زمینداری او ټیکانې هم شامله وه.زمینداري یوازې په یو څو کلیو مشتمله وه.دوی ته به یې تعلق دار یا جاګیردار هم ویلی.یوه زمیندار یا جاګیردار به له خلکو د مالیو راټولوکار هم کاوه. په دې کې زیاتره مورثي وې خو کله کله باچا د انعام په توګه هم داسې جاګیرداری ورکولې.

جون پور داسې یوه زمینداري وه.له زمینداری پرته د "وصل"په نوم هم یوانتظامي یونټ وو چې واړه او کوچني کلي به له ګاونډي نوابۍ یا راجه سره وصل وو.خو دوی به کله کله خپلواکه اخیتارات هم لرل.شورپور او ګړوال ددې ښه بېلګې دي. په راجواړو او نوابیو کې هم دوه ډوله امتیازات وو.هغه چې لوی ریاستونه وو لکه بهوپال حیدرآباد لرلی دې ته به یې ګن سېلیوټ یاني هغه چې د توپو سلامي لري.دا دود د انګرېزانو په وخت کې پیل شو.او هغه نواب یا راجه چې دوی به ډېر درناوی ورته کاوه هغه ته به یې د یوویشت توپو سلامي امتیاز ورکولو.چې تر ټولو لوړاعزاز وو.تر ټولو وړوکی د دریو توپو سلامی واله وو.

دویم هغه ځینې وو چې د توپو سلامي امتیاز یې نه لرلو. په دې کې بسوده (چې د پښتنو ریاست وو) ،نواب ګنج او خېرګړ غوندې ځایونه شامل وو.د یووویشت توپو د اعزاز ریاستونه یوازې پینځه وو.چې د حیدرآباد نظام،مېسور مهاراجه،د جمو او کشمیر مها راجه او د بړوده ګالیک مهاراجه او دګوالیار مها راجه سندهیا وو.

د نولس توپو سلامي به د بهوپال نواب د اندور او اودې پورراجه ګانو ته ورکول کېدې. په دې کې هم فرق دا وو چې ځینې موروثي او ځینې مواقتي وو.هغه وخت د مزکې او شمېر له حسابه د مسلمانانو تر ټوله لویه نوابي د حیدراباد دکن وه چې واکمن به "نظام" بلل کېدو.له دې وروسته د مزکې له پوله د مسلمانانو لویه نوابي د بهوپال هغې وه.چې بنسټ یې د اورکزو یو تن دوست محمدخان اېښې وه.دلته ځلورو بنځو پرله پسې دوه سوه کاله حکومت کړی دی.ددې وړوکي سلطنت د پوځ لپاره به زیاتره دسوبه سرحد یا پټېره د قبایلي سیمو خلک روزل کېده.د خلکو لپاره به دا هم نوې خبره وي چې په بهوپال کې اوس هم اپرېدي ،یوسفزي او میرزي خېل پښتانه نه یواځې دا چې ژوند کوي ځینې په کې اوس هم پښتو وایي.ما ددې سیمې تاریخ لوستی او خپله هلته ورغلې یم.هلته مې دځینو کورنیو سره لېدلي اود هغوی د ژوند ژواک حال مې له نژدې څخه اخیستی دی.دا کتاب د بهوپال مکمل تاریخ نه دی.یواځې د تېرو درو سو کلونو حال دی چې پکې دوه نیم سوه کاله د پښتنو مېرمنو او د دوی حالات بیان شوي دي. په وروستی برخه کې مې د بهوپال داوسنیو پښتنو حال لیکلی دی. په دې لاره کې ما سره ډېرو خلکو مرسته کړېده. پټېره بیا د وروستۍ واکمنې عابده سلطان زوی شهریارخان چې د خپلې کورنۍ په اړه یې ډېر مالومات راکړل.

# لومړی باب

## د سوبه سرحد په لویدیځ کې د تېراه غرونه دي چې پکې د اپرېدو نهه قامونه

ملک دین خېل ،سپاه ،کوکي خېل ،اکا خېل،زکا خېل ،کمبرخېل،حسن خیل،او آدم خېل آباد دي. په ۱٦۷۲ م کال کې د اورکزو د یوه سردار نورمحمد خان په کور کې یو ماشوم وزیږدی چې په دوست -محمدخان ونومول شو.مور پلار یې ډېر خوښاله وو.د پنځو کالو په عمر کې د قران د لوست او دیني زدکړو لپاره ورته یو استاد وساتل شو.دا استاد ملا جمالي نومېده چې د بدخشان اوسېدونکی وو.دوست محمد خان چې د آس د سورلی شو نو پلار ورله یو آس ورکړو.له دې سره سره یې د تورې او غشي ویشتلو تربییه هم ترلاسه کړله.

۱۷ مه پېړۍ چې په ختمېدو وه نو دوست محمدخان یو تکړه او غښتلی ځوان وو.هغه وخت د هندوستان پر تخت د مغلو پاچا اورنګزېب ناست وو.اود خپل سلطنت ساتلو لپاره له مرهټو سره په جنګ وو.

د مغل دربار د شان او د هند د شتمنۍ کیسې هرچا اورېدلې وې. له تېراه څخه هم ځوانانو ډېلي ته د تللو ارمان لرلو.ځیني ځوانان د دوست محمدخان له سیمې هم هندوستان ته ورغلي وو.او د مغلو په پوځ کې به شامل شو نوډېره ښه تنخواه به ورته ورکول کېده.هندوستان ډېره لویه مځکه لري او د هر یو ریاست والي ته به د پوځ لپاره مېړني ځوانان پکاروو. د پوځ لپاره تکړه ځوانان او ښه آسونه د پښتنو له سیموهم ور تلل. په تېراه کې ځینو کورنیو ددې جنګیالو لخوا په رالیږلو پیسو خپل ژوند ته وده ورکوله. په ۱٦۹۷ کال کې دوست محمدخان له ۲۰ کالو اوښتی وو.او تل به ناقراره وو.مور پلار ورله د یوې بلې اورکزۍ کورنۍ انجلۍ غوښتې وه چې معراج بي بي نومېده.

خو دوست محمدخان لکه د کاواکه آس ژوند کاوه. په نه څه خبره به یې توره راایستله او وینه به یې تل په جوش کې وه.د معراج بي بي مورپلار

چې دا حال ولیدی نو و یې پتیله چې خپله لور د دوست محمد خان یوه بل تربره ته ورکړي.دا خبره د دوست محمدخان لپاره د منلو وړ نه وه.خو څرګنده نه ده چې ایا دی پخپل سپکاوي ناراضه وو او که معراج بي بي ورباندې ډېره ګرانه وه.خو د ځوانۍ جوش او د دوست محمد خان کاواکه طبعیت اخر دی دې ته ورساوه چې خپل تربور یې ووژلو.

په دې کړنه نه یواځې د هغه د قام خلک پر ده په قهر شول بلکه د هغه خپله کورنۍ مور پلار هم ناراضه شو.او دوست محمد له قامه ووابېستل شو.دده لپاره بې له دې بله هیڅ چاره نه وه چې له خپل اخوره(طبیلې) یو ښه آس واخلي او خپل ټاټوبی پرېږدي.ده ختیز لوري ته مخه کړه او جلال اباد ته ولاړو . ........(داد ننګرهار جلال آباد نه بلکه د ډیلي په شمال لوېدیځ کې سل میله لرې یو ښار دی.)

دی له تېراه څخه د جلال آباد په لاره د پېښور ،لاهور امرتسر او پنجاب له ټولې ښېرازې مځکې تېر شو .د لارې په هر یو سرای کې به یې پښتانه لیدل.او له دود سره سم به هغوی ورته غېږه خلاسه کړه.ډوډۍ ،استوګنې او د وخت د حالاتو د خبرېدو لپاره څه مشکل نه وو .څو میاشتې وروسته له جلال آباد سره نژدې د لوهاري په سیمه کې د سردارجلال خان مېلمه شو.دی هم آپرېدی وو او د دوست محمدپه لېدو ډېره خوشاله شو. په خپل مېلمستون کې یې د هغه د استوګنې بندوبست وکړ.سردارجلال خان په لوهاري کې د مغلو منصب دار وو.او د ده نیکونو ته هلته ځمکې ورکړل شوې وې چې ورباندې دده خپل تېر ژوند کاوه.دوست محمد د سردارجلال خان د کورنۍ له ځوانانو سره د آس ځغلولو ،د غشي ویشتلو او غېږې اېستلو سیالۍ کولې. په همدې وخت کې د هغه د سردارجلال خان په کور کې یوه ځوانه خدمت ګاره خوښه شوه.یوه ورځ چې سردارجلال خان په کور کې لویه مېلمستیا کړې وه د هغه د ځوی او د دوست محمد خان ترمنځ ددغې انجلۍ پرسر خبرې وراني شوې.

د جلال خان ځوی ورباندې د غشي ګوزار وکړو دوست محمد خان هم سمدلاسه خپل خنجر راوخیست او د هغه پر وجود یې ومنډلو.د ځوان د مړیني سره هغه ته اندازه وشوه چې دی له لوی خطر سره مخامخ شوی

دی.د خپل مريي څوی يې په لوی لاس وواژه. دا ډېره د شرم خبره وه او په پښتنو کې د مرگ بدل مرگ وي.مخکې له دې چې د جلال خان خلک يې ونيسي ده هم هغه وخت راټوپ کړل. پر خپل آس سپور شو او له هغه ځايه يې پښې سپکې کړې.

خو په دې تېښته کې هغه ټول وخت په دې ويره کې وو چې د جلال خان خلک ورپسې دي.دا سيمه د هغوی لپاره نوې نه وه. په هر کلي کې هغوی خلک پېژندل.ددې سيمې د لوړو او ژوروو نه هغوی خبر وو او د دوست محمد خان لپاره د پټېدو ځای نه وو.ده ته لاره هم نه ومعلومه. خو دومره خبر وو چې ډيلی په جنوب ختيز کې ۱۰۰ ميله لرې وو.لمر ته په کتو ده اندازه لگوله کومې خوا ته د آس مخ وگرځوي.دی تر شپږ ساعته پورې په منډه وو.اوآس يې د يوې شېبې لپاره هم دمې ته نه ابله کاوه .نتيجه يې دا شوه چې په يوه ځای کې دده وفاداره آس راپرېوتو او ساه يې ورکړه.د دوست محمد لپاره دا يو لوی گوزار وو.ده فکر وکړو چې خدای پاک ورته سزا ورکوي.خو اوس دی بېرته نشو گرځېدای .همدا وو چې ده په پښو مزل پيل کړی.ډيلي ته ۳۰ مېله لا پاتې وو چې دی د کرنال سيمې ته ورسېدو.ببر سر او لوږې تندې وهلی وو. شونډې او په بدحال دوست محمد په دې سيمه کې يو نامالومه شخص وو....... پلي مزل يوه گټه دا ورته ورکړه چې دی له خپلو لټونکو يو څه پټ شو چې د آس سپور د يوه لوړ دنگ پښتون په اړه يې له خلکو پوښتنې کولې.دوست محمدخان د خپل ژوند ځينې حالات په يوه کتابچه کې ليکلي دي چې روزنامچه نومېږي.دوست محمد پدې کې ليکي.....له خپلو ناليدليو د ښمنانونه په تېښته ما داسې فکر کاوه چې دوی راپسې دي تر ډېرو ورځو مې هېڅ نه وو خوړلي ،جېب مې تش وو او د ژوند هيڅ هيله مې نه لرله...زه د يوه نانبايي تنور مخې ته ودرېدمه ....زړه کې مې راگرزېدل چې يو څو ډوډۍ او اگۍ وتېښتووم ځکه نور مې د لوږې توان نه درلود.( په هندوستان کې اوس هم د لارې پرسر ډوډۍ او اگۍ د مسافرانولپاره ارزانه خواړه دي.). په دې حال کې يو زوړ سړی چې لويه سپينه ږيره يې لرله د دوست محمد څنگ ته ودرېدو...ده ته ځير شواو بيا يې ترې په ادبي فارسي پوښتنه وکړه " ته د تېراه دوست محمد نه يې "

دوست محمد ساه نیولی ودرېدو.فکر یې وکړو چې اخر دښمن ورپسې راورسېدو. په یوه شېبه کې د هغه د ژوند ښایسته مانۍ راونړېده .....بله چاره یې نه لرله ، دې سپین ږیري ته یې وویل "هو زه دوست محمد یم ."
سپین ږیري ورته وویل ته مانه پېژنې څویه .....زه د کاشغر ملا جمالي یم او په تېراه کې مې درته دقران کریم درس درکاووه.هغه وخت ته وړوکی هلک وې..د دوست محمد دخپل استاد په لیدو بېرته د ژوند هیله راوټوکیده.......له هغه سره یې روغبړ وکړ....او کله چې ملاجمالي پوښتنه ترې وکړه چې له تیراه څنګه راووتلې .نو دوست محمد خان په لنډو خپله کیسه ورته وکړه.ملا جمالي هغه وخت له غوښتنو سره سم له خپلې سیمې هندوستان ته ورغلی وو.او په ډیلي کې یې یوه اسلامي مدرسه پرانستې وه....دی یې له ځانه سره خپل کورته بوتلوډوډۍ یې ورله ورکړه.او کله چې د هغه ساه صورت پر ځای شو نو دوست محمد ورته خپل مشکل وویلو.دی نږدې یو کال د ملا جمالي په کور کې پاتې شو.

ملا جمالي د بدخشان اوسېدونکې وو او په ډیلي کې د ده د مدرسې او دیني تعلیم له کبله ډېرو خلکو پېژندلو.هغه وخت مغل باچا اورنګزېب د اتیاو کالووو او زیاتره به د ملک په جنوب کې په جنګونو بوخت وو. په جنوب کې دده ځامنو پخپلو کې ناندرۍ اېرې وهلې.

چې مې د پلار د مړینې وروسته به څوک پر تخت کښېني.اورنګزېب ته وفاداره دده والیان چې افغان، ترک،هنداود مرکزي اسیا اوسېدونکي وو د خپل قدرت د ساتلو لپاره ځان ځان ته لګیا وو.مغل سلطنت په ټوټې کېدو وو او هر چا غوښتل چې په راتلونکې کې د واکدارۍ لپاره سمه لاره غوره کړي . په دې وخت کې اروپایي ملکونو هم اندازه لګولې وه چې هند یو مهم ځای دی او د دوی لخوا هم تجارتي او سفارتي ډلې پرله پسې راروانې وې چې خپلې اغېزې قوي کړي.انګرېز خو د ایسټ انډیا کمپنۍ دفترونه په مدراس او بنګال کې ښه پاخه جوړکړي وو.د حیدرآباد او اودهه غوندې نوابیو کې یې پوځ هم ساتلی وو. په دې وخت کې دوست محمد خان چې د تېراه غرونو کې یې ژوند کړی وو،د هند د هغه وخت کلتور ته سترګې وازې نیولې وې.دغه وخت ډیلی د بېلا بېلو قامونو او کلتورونو په ورګډېدو ډېر پر مختللی ښار وو هر ډول هنرمندان ،لیکوالان ،شاعران او عالمان

دلته راتېول وو.خو دوست محمد خان ددغه يوه کال په موده کې له ملا جمالي څخه ډېر ه زدکړه وکړه.له ژبې پرته يې د بېلابېلو مذهبونو کلتورونو او د دوی د اخلاقو مطالعه او مشاهده کوله.او ځان به يې ورته برابرولو .دی به مشاعرو ته ورتللو،دلوبو او آس ځغاستې په سياليو کې به يې ونډه اخيستله.د نظام الدين په درگاه کې به يې قوالي اورېدله او د هندي نڅاگرو ننداره به يې کوله.

خو له دې هرڅه سره له هغه خپل هدف هېر نه وو.......د مغل په پوځ کې نوکري اوس هم دده ارمان وو.ملا جمالي هڅه وکړه چې دوست محمدخان ديني زدکړو ته پام وکړي او دده غوندي عالم شي.خو دوست محمد خان دا نه غوښتل نو اخر ملا جمالي ورته يو آس او پنځه اشرفۍ ورکړې چې ځان په مغل پوځ کې ورگډ کړي.هغه وخت د اورنگزېب د وسله تون مشر مير فضل الله وو.

په ۱۷۰٤ کې دوست محمد خان خپل لومړي مسلکي جنگ ته حاضر شو.دا جنگ په گواليار کې د بنديل کنډ سيمه کې وو.ددې ځای والي تردي بېگ له باچا بغاوت کړی وو.او هم دده د مخنيوي لپاره د مغل پوځ وروااستول شو.دوست محمد په لومړی دسته کې شامل وو.خو ډېر ژر مغل پوځ په گونډو شو.د تردي بېگ قومندان کاشکوخان نومېده او سخت جنگيالی سړی وو،.....دوست محمدخان د تورې گوزارونه وخوړل او ټپي هم شو،چې ويې ليدل دده پوځ په بدحال کې دی نو فيصله يې وکړه قومندان ته ځان ورسوي.ده خپله نېزه راواخيسته او په هغه هاتي يې يرغل وکړو چې کاشکوخان پرې سپور وو.خو د هغه ساتونکو او هاتيوان ورباندې گوزارونه وکړو.دوست محمدخان په دې هم بې حوصلې نه شو او خپلې حملې يې جاري وساتلې.دی په خپلې روزنامچې کې کاږي يو وخت هاتي دی په خپل خړتم کې ونيولو خو ده ترې ځان خلاص کړو او د خړتم په مټ لوړ ورروخوت او په يو گوزار يې کاشکو خان ووژلو.

د قومندان په وژنه د تردي بېگ پوځ وارخطا شو او د مغل پوځ ماتې په بري واوښته.اورنگزېب ته خبر ورکړی شو او ورسره د دوست محمدخان

د مېړاني کیسه هم ډیلي ته ورسېده.میرفضل الله هغه  خپل دربار ته وروغوښتلو او تابیا یې وکړه  چې اورنګزیب یې ووینې.

په ۱۷۰۵ کې اورنګزیب  ۲۱ کاله له مرهټو سره د جنګونو وروسته ډیلي ته بېرته راغلی .دوست محمدخان  اوس د ۳۳ کالووو.......دی په خپله روزنامچه کې کاږي  یوه  ورځ دده لښکر د مغل باچا د معاینې لپاره اوورنګ آباد ته ووروغوښتل شو.دی لیکي که څه هم اورنګزیب پاچا ډېر زوړ او ستړی ښکارېدو ولې دده شخصیت داسې ووچې دی  پرې اغېزمن شو.اورنګزیب پر ټولو عسکرو او د دوی پر قومندانانو یو ځغلنده نظر واچاوه.او  بیا یې سترګې پر دوست محمدخان اېسارې شوې. پر ده یې غږ وکړ  " اې ځوان روهیله راوړاندې شه او ما ته ځان حاضر کړه"

بیا ده فضل الله ته مخ ورواړاوه او ورته ویې ویل چې دا ځوان ښکلی ،قوي او د اوچتې کورنۍ ښکاري .ددې خبرې تابیا یې وکړه چې دی ونازوۍ او د یوه ستر لښکر قومنداني ورته وسپاری.بیا پاچا دوه موټې اشرفۍ راواخیستې او د دوست محمدخان په لاس کې یې ورکړې.دوست محمدلیکي چې د پاچا په مهربانی دی ډېر تر اغېز لاندې راغلی او ورته څرګنده  یې کړه چې دی به ورته پتمن وي.اورنګزیب پاچا له دې پېښې څه موده وروسته  مړ شو.او داورنګزیب  ځامنو (اعظم شاه او بهادرشاه)ترمنځ د تخت پر سر جګړه پیل شوه.دواړو دوست محمدخان  ته پیغامونه وروستول چې د دوی په  ملاتړ  دې ودرېږي.خو دوست محمدخان ورته ځواب ورکړو چې ما ستاسو له پلار سره د پټ قسم خوړلی وو او نشم کولای چې د هغه د یوه ځوی پرضد ودرېږم.دی هغه مهال په مالوه کې د پوځ قومندان وو.هر خوا ته  راجواړې جوړې شوې او د حکومت پوځ په څو برخو وېشل شووی وو. په داسې  حال کې له دوست محمدخان سره یواځې ۵۰ تنه پښتانه پاتې شول.د ځان ځانۍ په دې دور کې دوست محمدخان له خپلو ملګرو سره کله د یوه راجه او  کله د بل نواب د واک ساتنې لپاره د هغوی په بلنه جنګ کاوه.دوی لکه د کرایې د ساتندویانو ډېرې جګړې وکړې،او په بدل کې به دې نوابانو او راجه ګانو ښه ډېرې پیسې ورکولې.د اورنګزیب له مړینې یو کال وروسته دوست محمد خان په مالوه کې ټولو خلکو پېژندلو.

پدې وخت کې منګل ګړه راجپوت راجه انند سنګ چې د خپلو ګاونډیو راجه ګانو نه په ویره کې وو دوست محمد ته یې د ساتندوی په توګه نوکري ورکړه .لږه موده تېره شوه چې راجه مړشو.خو دهغه مور دوست محمدخان ته خواست وکړو چې د دوی د ساتنې لپاره دې اېسار شي.

په ۱۷۰۸ م کال کې رانۍ دوست محمدخان دټولې راجواړې مختار وټاکلو چې دی به د رانۍ او د منګل ګړ د ریاست ساتنه کوي. په دې وخت کې دوست محمدخان د راجه د کورنۍ له یوې راجپوتې انجلۍ سره واده وکړو.هغه مسلمانه شوه او نوم یې فتح بي بي شو.دوست محمد نور ودونه هم کړی وو خو فتح بي بي ورته ډېره ګرانه وه.دې مېرمنې له خپل ځان سره ډېره شتمني د دوست محمد خان کور ته یووړه.فتح بي بي د بهوپال د مسلمان نوابۍ لومړۍ مېرمنه وه چې د حکومت په چارو کې یې مهم رول درلود.خو عجیبه خبره دا ده چې د نوابۍ د تاریخ لېکونکوڅخه یوازې فتح بي بي وه ولې هغه خلک چې مسلمانان نه وو ،د هغوی په اړه ډېر څه نه دي لیکل شوي. پتېره هغه ځینې چې د ودونو له لارې یې کورنۍ ته ورداخل شوي وو له پامه غورزول شوي دي. په داسې تاریخونو کې د میراث او د وارثانو ذکر ښه په تفصیل شوی دی.

فتح بي بي یو عامه ښځه نه وه.دا هوښیاره ،په زړه پورې او له ژونده ډکه وه.له دوست محمد سره به هر ځای پر آس سوره وه.هغه که به جګړه وه او یا هم په سیل وتل او ښکار کول وو.

دوست محمد به پرې ډېر باور او اعتماد کاوه. په راتلونکو څو کلونو کې له ده څخه منګل ګړ پاتې شو او له هغه ځایه یې شا و خوا سیمو ته پوځ کشي کوله.خو ډېر ژر یې فیصله وکړه چې د ځان ځانۍ په دې دور ه کې به دی د نورو لپاره تل جګړه نه کوي.اوده ته د ښنو لګولو یو ځای پکا ر وو.ده له بهوپاله ۲۲ کلومیټره لرې شمال لور ته د بیراسیا نومي ځای د مغلو له یوه نوابه په اجاره واخیست ،چې کلنۍ اجاره یې ۳۰زره روپۍ وه.

دوست محمد دلته یو وړوکي غونډي نوابي جوړه کړه.یو جومات او یوه کلا یې په کې جوړه کړه.او د انتظام لپاره یې خپل بااعتباره افغانان په کې مقرر کړل.خو د گجرات په یوه معرکه کې دی د خپلو یوځیانو لخوا مرهټه سردار ته وسپارل شو او هغه بندي کړی و .فتح بي بي د هغه د راخوښي کولو لپاره ډیرې روپۍ مرهټه سردار ته ورکړې او دی یې راخوښی کړی.دویمه دا چې د سازشونو په دې دوره کې هغه په هیچا هم باور نه کاوه.او غوښتل یې چې خپل خپلوان له تیراه راوغواړي.

دوست محمدخان خپل یو استازی تیراه ته واستاوه چې خپل پلار نورمحمد او د میراثي خپل ۵۰ نور کسان بهوپال ته راولي.دا ۱۷۱۲ عیسوي کا ل وو. په دې کې دده پلار ،ښځه او پنځه ورونه شامل وو.دا د بهوپال لومړي مېشته کډوال وو.او ځایي خلکو به ورته بروکټ پټهان ویل.(مانا په ځنگلونو کې اوسېدونکي )

دوست محمد له فتح بي بي سره په منگل گړه کې اوسېده.خو د هغه لومړی مېرمنه معراج -بي بي د دوست محمد له نور ټبر سره په بېراسي کې اوسېدله.

د منگل رانۍ چې دوست محمد یې خپل ځوی کړی وو،د هغې څوک وارث پاتې نه وو ،نو د دمنگل گړه ټوله خزانه او شتمني د دوست محمد لاس ته ولوېده.

له بهوپاله ٤٦ میله ختیز لور ته د گینور کلا وه چې پر ۲۰۰۰ فټ جگ غره جوړه وه .دې ته د ورتلو یواځنۍ لار ه له ځنگله څخه تېرېده .د گینور کلا له راجه نظام شاه سره وه.د نظام شاه یوتربور هغه له زهر ورکړل او د چین پوربرا _یو بل راجه عالم شاه ووچې غوښتل یې دده له کونډې کملا پتي سره واده وکړي.کملاپتي د خپل وخت یوه ډېره ښایسته ،هوښیاره او ځیرکه ښځه وه.هغې د دوست محمد د مېړانې په اړه اورېدلي وو او ده ته یې خواست وکړو چې د یولک روپو په بدل کې ددې ساتنه وکړي.دوست محمد دا وړاندیز ومنلو او د کملاپتي کلا ته له خپل لښکر سره ورغلو.عالم شاه غوښتل چې په سیمه کې خپل قدرت پیاوړی کړي نو یوه ورځ یې نظام

شاه  ته په ډوډۍ کې زهر ورکړو.عالم شاه له کملاپتي سره واده غوښتل.خو هغې دده د مخنيوي لپاره په دوست محمدخان غږ وکړ.خو کملاپتي دومره ځيرکه وه چې هغې د دوست محمد په ليدو د هغه پر څنګلي راکهي وتړله.( راکهي  يو زرين تاردی چې په هندو مذهب کې خويندي خپلو ورونو ته په مړوند ورتړي.يا پردۍ ښځه چې غواړي  يو سړی خپل ورور کړي نو د ښي لاس په مړوند ورله يو زرين تار وتړي او خوله ورله خوږه کړي دا د راجپوتو يو دود دی) دوست محمد په دې لحاظ له کملا پتي سره خپل پت وپاللو او د هغې ساتنه يې وکړه.راني کملاپتي پنځوس زره روپۍ ورکړې او د نورو روپو په بدل کې يې د بهوپال کلي وروبښل.دا د دوست محمدد نوابۍ د پلازمېنې لومړۍ بنسټ وو.خو د دوست محمدخان لمسي فيض محمدخان ابله دا کار وکړو چې پلازمېنه يې له اسلام نګر څخه بهوپال ته ولېږدوله.کملا پتي ۱۰ کاله ښه په آرام ژوند وکړو،کله چې هغه په ۱۷۷۳ م کال کې مړه شوه نو دوست محمدخان دا کلا او ددې ټوله شتمني تر خپل لاس لاندې راوستله. په دې وخت کې د کملا پتي ځوی نوال شاه وسله پورته کړه او له دوست محمد سره په جنګ شو.خو د دوست محمد د ځواکونو لخوا ووژل شو.

اوس چې دوست محمد ته د پښې ايښودلو ځای پيدا شو نو هغه خپلې پښې ټينګې کړې اود يوه خپلواکه حکمران په توګه  د بهوپال او شاوخوا سيمو واکمن شو. په دغو شپو ورځو کې د مغل دربار او مرهټوو ترمنځ د واک پر سر جنګ روان  وو.نو دوست محمدخان په داسې حال کې يو خوا مغل دربار ته سوغاتونه واستول او هغوی ته يې خپله وفاداري څرګنده کړه نو بل لور يې د مرهټه واکدار لخوا اخيستونکې ماليه (چوت)چې د حاصل څلورمه برخه کېده ورکوله.خو مرهټه وو  ته يې ماليه په دې شرط ورکوله چې هغوی به دده چارو  کې لاسوهنه نه  کوي.

په ۱۷۲۰ م کې بهوپال د يوه کلي غوندې وو او  دې کې تقريبا  زر کسانو ژوند کاوۀ.خو دوست محمد په اسلام نګر کې اوسېدو له دې زړې ماڼۍ سره جوخت هغه ځان له يوه ماڼۍ جوړه کړې وۀ چې تر اوسه پاتې ده.بهوپال له دې ځايه ۱۵ ميله جنوب ته دی.

او دغسې په ۱۷۲۳ م کې دوست محمدشپاړلس کاله وروسته د یوه اېله جاري او جنګیالي پرځای د یوه حکمران په توګه رااوچت شو.

په دې وخت کې دده وفاداره فتح بي بي ورسره وۀ.ددې نوابۍ د انتظام کار پېل شو لکه چې د وخت رواج وو.ټولې لیکنې به په فارسي ژبه کې کېدلې.او له مغل درباره یې ځان ته د نواب نوم (خطاب)هم واخیستو. په ۱۷۱۷ م کال کې هغه د نواب دلېر جنګ نوم ځان ته ګټلی وو.خو لکه چې د پښتنو دود وو دوست محمد چرې هم د پلار او د مشر ورو په موجودګۍ کې دا نوم ځان کله هم نه کارولو .خو آخر دهغوی دواړو په ټینګار یې دا خطاب ځان ته غوره کړ.

یو ه ورځ فتح بي بي او دوست محمد خان د ښکار لپاره ځنګله ته ورغلي وو. څو ساعته په ګرمۍ کې دآس له ځغاستې ستړي شو او د بهوپال له سفېد سره نږدې یې د ونو سیوری وموند او د دمې لپاره هلته اېسار شول.ددې ځای خاموشي کې دواړو آرام کاوۀ او د دوست محمد سترګې سره ورغلې،په خوب کې ګور ي یو بزرګ ورته وایي په دې ځای به یوه کلا جوړه وې .دی چې راپاڅېدو نوفتح بي بي ته یې خپل خوب بیان کړ هغې سوګند ترې واخیست چې هرومرو به پر دې ځای کلا جوړوې.

او دا د فتح ګړ د کلا بنا وۀ.د دې کلا لومړۍ تیږه د رای سین قاضي محمد معظم کېښوده چې وروسته د بهوپال مشر قاضي هم شو.دوست محمد ،فتح بي بي او د بروکټ پښتنو پخپلو لاسونو دا کلا جوړه کړه.او د بهوپال پخوانۍ کلایې ورسره یو ځای کړه . پدې کې شپږ دروازې وې چې د شپږو ورځو په نومونو وې.او هم په دې کلا کې د بهوپال لومړی جومات چې د دوه نیمو پوړو جومات یې ورته وایه جوړکړل شو.

{د دوست محمداو فتح بي بي قبرونه څنګ په څنګ د بهوپال په فتح ګړ کلا کې جوړ دي }.

د دوست محمد لومړی دیوان یانې مشر وزیر بیجې رام د شجال پور یو هندو مشر وو . په داسې وخت کې چې نظام د حیدرآباد او مرهټه یوې خوا

ته او مغل بلې خوا ته په خپلو کې سره په جنگ وو نو دوست محمد له د خپلې نوابۍ ساتل گران کار وو. له عسکري پلوه مغل کمزوری وو .نظام او مرهټه دواړو د هند جنوب نیولی وو او د مغل واک یې نه منلو.خو دوست محمد د کمزوري مغل واکدارانو مله کوله. په ۱۷۲۰ کې د نظام او مرهټه گډځواکونه د بهوپال له لارې دکن ته تېرېده چې د دوست محمد وروړمیراحمد له خپل ځواک سره په دې لښکر حمله وکړه.خو ماتې یې وخوړله او خپله هم ووژل شو. په داسې حال کې نظام د دوست محمد سخت مخالف شو. په ۱۷۲۳ م کال کې له دوست محمد سره ۱۰ عسکر وو او د مرکزي هند یوه لویه برخه دده په نوابۍ کې شامله وه.خو له دې وخته بیا د هغه تر مرگه یانې تر ۱۷۲۸ م کال پورې دده مشکلات هم مخ په زیاتېدوشول. په ۱۷۲٤ م کې نظام مغل ځواک ته سخت گوزار ورکړلو ، وروسته یې بهوپال ته مخه کړه چې له دوست محمد سره حساب برابر کړي.دوست محمد ورسره جنگ ونکړو.او د لنډې محاصرې نه وروسته یې یوه لوظنامه ورسره وکړه.ددې لوزنامې ترمخه ده خپل ۱٤ کلن ځوی یارمحمدخان نظام ته د یرغمل په توگه وسپارلو او دوست محمد د نظام لخوا د اسلام نگر کلا دار وټاکل شو.

دا هر څه ښایي دوست محمد ډېر ځیرک شوی وو او د نظام له ځواک سره د ډغرې وهلو پر ځای یې چې نتیجه به یې د دواړو کمزوري او د مرهټه پیاوړتوب وو.ده د سولې لاره غوره کړه.د ده تر واک لاندې اوس اوه زره کلومیټره مربع ځمکه وه چې د اوسني اسراییل هومره ملک ترې جوړېږي.

په دې وروستیو څو کلونو کې دوست محمد زیات شمېر روڼ اندي ،استادان ،آرټستان او عالمان بهوپال ته وربلل.د برو کټ پښتنو پرته دلته یوسفزي فېروزخېل او روهیله پښتانه په زیات شمېر کې مېشته شول چې خپل پښتني کلتور یې له ځانه سره راوړو.د هند د نورو مسلمانانو لپاره هم هغه وخت بهوپال یو د امن ځای وو.هم په دې وروستیو کلونو کې د فتح بي بي له مرگه وروسته دوست محمد صوفې لاره خپله کړه.

دی په ۱۷۲۸ م کې د ٥٦ کلونو په عمر کې مړ شو.ده له بېلا بېلو ښځو شپږ ځامن یارمحمد،سلطان محمد،صدرمحمد،فاضل محمد،واصل محمد، خان بهادر او پنځه لوڼه درلودې.

{ دهغه پر وجود تر ۳۰ ډېر ټپونه وو چې دده د جنگونو دمېړنتوب نښې وې.}

د معراج بي بي څلور اولادونه وو خو یارمحمد د هغې ځوی نه وو.فتح بي بي اولاد نه درلود.او هغې یو ماشوم په غېږ اخیستی وو چې ابراهیم نومېده.دوست محمد د کنور سردار بایي سره هم واده کړی وو چې د راجپوت انند سنگ لور وه او یو څو اولادونه یې لرل.

یوه دریمه هندوانۍ ښځه د یوه بریالیتوب وروسته په انعام کې ورله ورکړل شوې وه چې نوم یې جای کنور وو.او د مسلمانېدو وروسته یې ورته تاج بي بي وویل.او ددې درې اولادونه وو.

دا څرگنده نه ده چې د هغه ځای ناستي یارمحمد چې وروسته د بهوپال دویم نواب شو د دوست محمد د کومې ښځې ځوی وو.ځینې اندازې داسې دي چې کېدای شي دی د یوې مسلمانې ښځې ځوی وي چې له معراج بي بي څخه وروسته دوست محمد کړې وه.

په دې کې شک نشته چې دوست محمد د پخې ارادې خاوند وو گنې په داسې یوه سیمه کې چې په سلو نوي (۹۰فیصده) هندوان وي او خوا شا له هر لوري په دښمنانو کې راگېر وي د یوې مسلمانې نوابۍ جوړول اسان کار نه وو.هغه له فتح بي بي سره دومره مینه لرله چې د بهوپال سرکاري بېرغ فتح نشان تر اوسه نومېږي.

# د دوست محمد ځای نیونکی

ددوست محمد خان مشر ځوی یارمحمدخان د حیدرآباد د نظام سره څلور کاله د یرغمل  په توګه پاتې شو.او چې کله د پلار د مړینې وروسته بېرته حیدرآباد ته راغلو نو د اتلسو کالو وو.هلته د وړاندې د هغه  اته کلن ورو سلطان محمدخان د نواب په مسند کېنول شوی وو.خو مجبوره شو چې دا منصب خپل ورور ته ورکړي.یارمحمد ډېرې ښځې لرلې او یوه پکې راجپوته وه چې د ماملہ بایي په نامه یادېده.دا مسلمانه شوې وه.د یارمحمد د مړینې نه ورروسته دده ځوی فیض محمد نواب شو.خو دده  تر شا ماملہ بایي ولاړه وه.او دده تربوران یې نه پرېښودل چې د نوابۍ په  مسند کښېني.دا هم ددې مېرمنې زور ووو چې د فیض محمد د مړینې وروسته د یارمحمد بل ځوی حیات محمد خان  نواب شو.ده تقریبا ۵۰ کاله د بهوپال په سیاست کې خپل فعاله   ونډه ولرله.ماملہ بایي خپل اولاد نه لرل.یارمحمدخان د ۳۲ کالو په عمر کې مړ   شوی وو.او د دده ورور سلطان محمد خان یو واري بیا هڅه وکړه چې خپل منصب بیرته واخلي.خو ماملہ بایي د هغه د بغاوت مخه ونیوله.راتلونکو ۳۵ کالو پورې فیض محمد خان تش په نوم د بهوپال  نواب وو.ماملہ بایي د دووست محمد خان مرکز له اسلام نگر نه بهوپال ښار ته بدل کړو.او د فیض محمد د مړینې نه وروسته دده ۴۳ کلن ورور حیات محمد خان د څلورم نواب په توګه اعلان شو.د ماملہ بایي د مړینې نه وروسته حیات محمد خان د یوه کمزوري نواب په توګه پاتې شو او څو واري د مرهټو د یرغلونو سره مخامخ شو او ددې نوابۍ ډېرې مزکې د خوا وشا راجاګانو ونیولې.دی په ۱۸۰۷ م کال کښې د ۷۳ کالو په عمر کښې مړ   شو نو دده ځوی غوث محمد خان په مسند کېناستو.ده سمدلاسه د ناګپور د مرهټو سره پټې معاملې وکړې او د بهوپال لوی مرکز یې هغوی ته وسپارلی .دده شپاړلس اولادونه د بېلابېلو ښځو  نه وو او ۴۰ اولادونه یې بې له واده لرل .

غوث محمد خان په خپله یو کمزوری نواب وو او د هغه نه خوښېده چې وزیرالملک دې په بهوپال کې نفوذ ولري.د نواب کېدو سمدستي وروسته ده ورته امر وکړو چې په خاندان کې بغاوت وکړی.هغه له بهوپاله ووتولو او د گنور په کلا کې یې پناه واخیسته وروسته بیا د حیدرآباد د نظام په پوځ کې نوکر شو. .خو غوث محمد خان ډېر ژر د مرهټو له لاسه پخپله کلا کې بند پاتې شو.دده ځوی موعیز ناگپور ته د بندي په توگه یووړل شو.وزیرالملک یو واري بیا د بهوپال د ساتنې لپاره لښکرې راوستلې .باغیانو ته یې سزا ورکړله او غوث محمد خان ته یې بد رد وویل چې د پلار نیکه وطن یې نشو ساتلای.د گوالیار او ناگپور راجاگانو دا فیصله کړې وه چې بهوپال به نیم کړي او د خپلو راجواړو سره به یې شامل کړي. پدې وخت کې وزیر الملک له انگرېزانو مرسته وغوښتله
بهوپال تریوه کاله پورې تر محاصرې لاندې وو نژدې ۸۲۰۰۰ پوځیان ددې چارچاپېره ولاړ وو.د وزیر ملاتړي ،سکان راجپوت د ټونک اوسېدونکي د پنداري پښتانه له کلا څخه ووتل.له وزیر سره یواځې ٦۰۰ افغانان پاتې وو. غوث محمد خان دلوړې او محاصرې د سختو زغم نه لاره او وزیر هغه ته اجازه ورکړه چې له خپلو هیجړاگانو او د کورنۍ سازوسامان سره د بهوپال له کلا څخه ووزي او یو کور کې مېشت شي.عجیبه خبره دا وه چې محاصره کوونکو هم د نواب په راتلو ورباندې هیڅ غرض ونکړو.د هغوی لپاره غوث محمد خان اوس یوه له کاره وتلې سیکه وه.یوه بله عجیبه خبره دا وه چې غوث محمد خان لومړۍ مېرمن زینت بېگم او د هغې ١٤ کلنه لور قدسیه په بهوپال کې پاتې شول.او دا هوډ یې وکړ چې تر مرگه به د بهوپال په دفاع کې هلته پاتې وي.

د محاصرې شپږ میاشتې چې پوره شوې نو په کلا کې د خوړو لپاره هیڅ پاتې نشول.مرهټو به هره شپه حمله کوله.گولۍ او بارود په ختمېدو وو. پدې موقع زینت بېگم له پردې راوتله .ټولې ښځې ورپسې شوې او دوی د پوځ تر شا ودرېدلې.دوی به پوځیانو ته خواړه رسول.د توپو او ټوپکو ډکول یې کول د سړو په شان جامې یې واغوستلې او له باروده د کار اخیستو چل یې زدکړو.یوه پلا دوی په فلزي نغریو کې بارود کېښودل او له کلا څخه یې پر دښمن ورویشتل چې په مزکه له لگېدلو سره به وچوېدل.زینت بېگم په دسترخوان ټولې ښځې راټولولې او ډوډۍ به یې ورکوله.یوه ورځ د هغې

یوه خدمتگاره چې کور به یې جارو کولو رانغله .زینت بېگم له نورو پوښتنه وکړه نو هغو ورته وویل چې د خدمتگارې ماشومانو له دوو ورځو هیڅ نه دي خوړلي ،هغې ورته د املی (یو ډول بوټی) پاڼې ویشولې چې ویې خوري.زینت هغه خدمتگاره راوبلله او سمدلاسه یې خپلې لور قدسیې ته وویل هغه دوه چپاتي چې د خپل ورور فوځدار لپاره یې اېښي وو دې ښځې ته ورکړي.قدسیې هغې ته یوه چپاتې ورکړه او بل هغه یې په خپلو جامو کې د خپل وړوکي ورور لپاره وساتلی.کله چې خدمتگاره روانه شوه نو زینت هغه ودروله او چپاتی یې ولېدی.لور ته یې مخ واړوو او په قهر یې ورته وویل زه خبره وم چې ته به درغلي کوې.او یو چپاتی به ورور له ساتي.ما درته وویل چې دواړه ډوډی دې ښځې ته ورکړه. په یوه بله موقع د هغې ځوی موعېز دمعېز د کلا په څنډو د توپچي دنده په غاړه لرله چې نابېره د ټوپک په یوې گولی ټپي شو.زېنت په منډه ورته ورغله ،له خپلې لوپټې نه یې پټی ورته جوړې کړې.د هغه پرهارونه یې پرې پټ کړل او بیا دا خپله توپې ته ودرېده او د خپل ځوی د هوش تر راتلو پورې یې په خپله توپه چلوله.د محاصرې په نهمه میاشت چې نور د خلکو حوصلې ماتې وې وزیرالملک یو جنگې مشاورت راوبللو.هغه اعلان وکړو چې دی به د ښځو او ماشومانو د خوندیتوب غوښتنه وکړي .او کله چې دوی له کلاڅخه ووتلو نو ۳۰۰ تکړه ځوانان به یو وروستی یرغل په محاصره کوونکو وکړي او سرونه به بایيلي..د وروستی حملې فیصله یوه ورځ وځنډول شوه هغه ځکه چې د کلا له یوه دېوال سره نږدې د بارود وسلو یوه زېرمه موندل شوې وه .ښځو د سړو جامې واغوستې او د کلا پر دېوال په کتار کې له سړیو سره یوه ځای اوږه پر اوږه ودرېدې.چې بریدکونکو ته خپل شمېر ډېر وښیي.دوی خبر نه وو چې د مرهټو په پوځ کې د کولرا وبا گډه وه او د دوی ځواک هم کمزوری شوی وو.له دې علاوه د ناگپور د پوځ مشر صادق علي د گواليار له مشر جاگوا باپو سره اختلافات پیدا شوي وو او هغه خپل پوځ له محاصرې لرې کړی وو.ځکه خو دبهوپال لخوا د حملې په ورځ محاصره کوونکوهیڅ مقاومت ونکړو.کله چې د حملې لپاره د کلا لویه دروازه خلاصه شوه نو د باپود پوځ ډېره وړه برخه هلته موجوده وه.د کلا له دېواله څخه ښځو د توپو ډزې پیل کړې او د وزیر محمد خان په مشری یې په پوره زور باندې حمله وکړه.او هغوی یې تېښتې ته اړ وېستل.د مرهټه وو مشر له کولرا مړ شو او کومندان یې د الماسو زرې

وخوړې او ځان يې په خپله ووژلو.د بهوپال د دفاع اتل وزيرمحمد شو .او د دوست محمد د مړينې نه وروسته يو واري بيا د دوی مشري ديوه غښتلي کس په لاس وورغله .خو وزير په رسمي توگه د نوابۍله اخيستو انکار وکړو.هغه غو ث محمد خان ته بيا هم د نواب په سترگه کتل خو په ښکاره يې له واکه لرې کړی وو.عامو خلکو وزير ته په درنه سترگه کتل او غوښتل يې چې دی د بهوپال د مشر په توگه پاتې وي.د محاصرې ختمېدو لږه موده وروسته د گواليار يوه کلي پر بهوپال د خېټې اچولو هڅه وکړه. په ۱۸۱۹ کښې انگرېزانو په هند کښې خپلې پښې کلکې کړې وې او د مغل واک تر ډيلی پورې محدوده وو.دوی د گواليار راجه ته په سخته وويل چې بهوپال به د يوې ازادې نوابۍ په توگه پاتې وي او د انگرېزانو تر تحفظ لاندې به وي.

# دریم باب
# د پښتني مېرمني دعوی

وزیر محمد خان نهه کاله د بهوپال نواب پاتې شو او په ۱۸۱٦ عیسوي کال کې د ۵۰ کالو په عمر کې مړ شو.دده دوه مېرمنې وې او له دواړو نه یو یو ځوی لاره.پوامېر محمد خان او بل نذرمحمد خان نومېده.د نذرمحمد مور یوه راجپوته هندوه وه.غوث محمدخان خپله لور گوهر بېگم (قدسییه)نذرمحمد ته په نکاح کړې وه.او وزیرمحمدترمرگ له مخه د خپل ځوی امیرمحمد خان پر ځای نذرمحمد دنوابۍ لپاره ځای ناستی ټاکلی وو.نذرمحمد چې نواب شو نو په ۱۸۱۷ کښې گوهر بېگم ورته واده شوه. په هغو وورځو کې دا رواج وو چې د پښتنو کورنیو ترمنځ د انجلۍ او هلک د کوزدنې او نکاح فیصله به ډېر وړوکوالي کې کېده.داددې لپاره چې کورنۍ یې خپلو کې یوه ټینگه خپلوالي ولري.کله ناکله به د دوو کورنیو ترمنځ د تاوتریخوالي ورکولو لپاره هم دا کار کېدو.د دښمنۍ او تربورانو ترمنځ یو بل ته د سازشونو مخنیوی هم پدې رشتو خېښیو کېدو.
د نذر محمد خان د نوابۍ دوره په بهوپال کې د امن او بیا رغوني یو زرین دور وو.ده لکه د خپل پلار وزیرمحمد خان له انگرېزانو سره ښه اړیکي ساتلي وو چې اوس ورو ورو د هندوستان له ساحلونو ددغه هېواد مرکزي خاورې ته یې پښې غزولې وې.هغه نوابۍ او راجواړې چې انگرېزانو ته خواخوږي ووخپلې مزکې ځان سره وساتلې.
نذرمحمد خان به د کال ۵۱ لکه روپۍ انگرېزانو ته ورکولې.او په بدل کښې دوی ورته هغه پنځه پرگنې بېرته ورکړې چې مرهټوو نیولې وې.د مرهټه وو مشر سندهیا د هوشنگ اباد اوو د اسلام نگر کلاگانې هم بېرته بهوپال ته ورخوشې کړې.همدغه وخت کښې د یرغل گرو یوه ډله چې پکښې دهر نسل او مذهب خلک شامل وو په وړو وړو نوابیو او راجواړو حملې کولې اوچو ر تالان به یې پرې گډ کړو.دا یرغل گر پنډاري نومېده او تر ډېرې مودې یې د انگرېزانو پوځ په مخه اخیستی وو.د بهوپال پخوانی نواب غوث محمد خان لا ژوندی وو.خو په اصل کې نذرمحمد د بهوپال واکمن وو چې په رسمي توگه یې نوابي نه وه اعلان شوې. په ۱۸۱۸ کې نذرمحمد له انگرېزانو سره یو تړون لاسلیک کړو چې له مخې یې بهوپال

د یوې خپلواکې نوابۍ په توګه له نوابانو سره پاتې شو. د انګرېزانو لپاره له بهوپال سره دا تړون په مرکزي هند کې د امنیت لپاره یو مهم ګام وو.
خو دا خپلواکي تر دې حده وه چې خپله په بهوپال کې نواب هر ډول اختیار ولري ولې د ګاونډي راجه ګانو اونورو ریاستونو سره د انګرېزانو د اجازې پرته هیڅ تړون او بله معامله نشي کولای. په دې وخت کې انګرېزانو په بهوپال کې خپله چاونۍ هم جوړه کړه چې ٤٠٠ پلي عسکر او ٦٠٠ اسونه به په کې ساتل کېده.نذرمحمد او ګوهر بیګم (قدسییه) یو ه لور وشوه چې دوی ورته سکندر بېګم نوم ورکړو. په ١٨١٩ کې کله چې نذدمحمد د اسلام نګر په کلا کې د خپلې ماشومې لور سکندر بېګم سره لوبې کولې د ګوهر بېګم وړوکي ورور پوځدارخان چې اته کلن وو له یوې تمانچې سره لوبې کولې په ختایي کښې یې ګولۍ وچولوله او نذرمحمد ټپي شو.یوه بله کیسه داسې ده چې د نذرمحمد دښمنانو پوځدار خان ته د تمانچې چلولو چل ورزدکړی وو او دی یې پوه کړی وو چې پر خپل تربره دې ډزوکړي. پښتانه هلکان له وړوکوالی د وسلې په چلولو پوهېږي او کېدای شي چې دا خبره رښتیا هم وي. پوځدار خان د غوث محمد ځوی وو.اود نذرمحمد په وژلو کېدای شوه چې غوث محمد بېرته د بهوپال واکمن شوی وای.
د انګرېزانو استازي مېجر هېنلې ددې وژنې په اړه په خپل رپو ټ کې کښلي چې د تمانچې ډز له دومره نژدې شوی وو چې د هغه ویښتان او د مخ پوستکی یې سوځېدلي وو.هغه په دې کښې شک لاره چې نذرمحمد په ختا ویشتل شوی وو.د نذرمحمد وژنې د بهوپال لپاره بیا یو خطر راپیدا کړو.وزیرمحمد او نذرمحمد چې تر اوسه کوم ګامونه پورته کړي وو په دې د بهوپال عام ولس او د دوست محمد کورنۍ یو څه نا څه خوشاله وو.
د بهوپال د پوځ دکومندان خطاب بخشي بهادر وو.د بهوپال د محاصرې پر وخت محمد خان بخشي بهادر وو.
له تېراه څخه له دوست محمد خان سره یو بل اورکزی چې له میشتي خېل قام څخه وو د بایزید ځوی کیلیګ خان نومېده.د دوست محمد خان د مړینې وروسته د کېلیګ خان ځوی عمرخان د خپل پلار په شان د دوست محمد خان کورنۍ ته پتمن پاتې شو.دا هغه خلک وو چې د نن سبا په الفاظو ورته مسلکي پوځیان ویلای شو.

د عمرخان ځوی الف خان د نواب فېض محمد خان د پوځ کومندان (بخشي بهادر وو).او ده خپله دنده خپل ځوی محمدخان ته وسپارله چې د حیات خان د پوځ کومندان وو.د محمدخان ځوی بهادر خان هم د بهوپال په محاصره کښې تورې برېښولې وې او د خپلې مېړانې لپاره يې ښه نوم ګټلی وو. په راتلونکې کې بهادرخان او د هغه اولادونو د بهوپال په تاریخ کې مهم رول ولوبولو.

د نذرمحمد په مړينې د د وست محمد په کورنۍ کښې د نوابۍ لپاره ډېر دعوه داران راپورته شو.د غوث محمد ٦٥ اولادونه وو.دده مشر ځوی موعېز چې د ګوهر بېګم سکه ورور هم وو د نوابۍ قوي مدعي وو. غوث محمد په خپله ژوندی وو خو دومره کوم کمزوری او زوړ شوی وو چې د بېرته نواب کېدو امکان يې ډېر کم وو.

د وزير محمد خان مشر ځوی امير محمدخان هم په دې هيله وو چې د ګدۍ اصلي وارث دی دی.

د نذرمحمد د مړينې دريمه ورځ وه د اورکزوو ټول ټبر د هغه په کورکې د دربار په لوی تالار کې يو ځای شوي وود نذرمحمد خان د پوځ کومندان بخشي بهادرر هم هلته موجود وو.له فاتحې او خيرات ورروسته پر دې خبره بحث روان وو چې د نوابۍ لپاره مناسب کس به څوک وي.د نذرمحد کونډه نولس کلنه ګوهر بېګم (قدسييه) په بورقه کې پټه ناسته وه. په غېږ کې پنځه کلنه لور سکندر بېګم نيولې وه. دويم ماشوم يې په نس وو.هغې په تالار کې د ناستو پښتنوپه منځ کې له مخه پرونۍ لرې کړ او هغوی ته يې خپله وينا پيل کړه.هغې د خپلې کورنۍ د اختلافاتو او د بهوپال د تېرو سختو ورځو شپو د ذکر نه وروسته خپله دعوا وکړه چې د نوابۍ حقداره د هغې ماشوم لور سکندر بېګم ده.بيا د خپل مړه خاوند نذرمحمد ليکلی وصيت ټولو ته ښکاره کړو چې په کې يې کښلي وو که دی چېري ناڅاپه مړ شي نو سکندر بېګم دده لور به نوابه وي.او تر څو چې دا ځوانه شوې نه وي پخپله ګوهر بېګم (قدسييه)به ددې سرپرسته او د بهوپال واکمنه وي.سکندر بېګم چې ځوانه شي نو د اورکزو په کورنۍ کې به ودېږي.او د واده نه وروسته به د هغې خاوند د بهوپال نواب شي.ګوهر بېګم دا دعوا هم وکړه چې په دې فيصله د بهوپال خلک هم خوشاله دي.او ځينو مذهبي مشرانو دا فيصله لا پخوا منلې وه. بيا ټولو ته وويل که څوک په دې

فیصله اعتراض لري نو راپوررته دې شي.او په ډاګه  دې خپله خبره وکړي.
په دربار کې ناست ټول خلک غلي وو.د اعتراض مانا دا وه چې دوی به د نذرمحمد د وژلو په سازش کې څه ناڅه لاس لري.
نذرمحمد ته پټمنو څلورو سلاکارانو هم هغه وخت د قدسییه بېګم په فېصله خوښي څرګنده کړه.نورو هم ورته  سرونه ټیټ  کړل.ډېر ژر په بهوپال کې د سکندر بېګم د نوابۍ او دهغې د مور قدسییه بېګم د سرپرسته  کېدو خوشالي ولګېده.
د خپلو مخالیفینو د خولې بندولو لپاره قدسیې ډېر ژر  هر چا ته مراعات او امتیازات وروسپارل.خپل لوی مخالیف مشر ورور موعېز ته جاګیر ورکړو. پوځدار خان وړوکی وو هغه یې تر خپلو وزرو لاندې کړ.له خپل لېور امیرمحمدخان سره یې ژمنه وکړه چې د هغه ځوی منیر محمد خان  ته به خپله سکندر بېګم  ورکوي.او دغه ډول به  منیر نواب هم شي.او قدسییه پوهېده چې سکندر لا وړه ده او تر راتلونکو  ١٦ کلونو پورې به  دا واکمنه وي.
ددې هر څه سره قدسییه د انګرېزانو استازي مېجر هېنلي ته د تصویب لپاره خپله فېصله واوروله.هغې د نذرمحمد د وصیت دلیل ورته ورکړو.
د انګرېزانو لپاره د یوې ښځې مشري د تشویش وړ وه.دوی د بهوپال په ملګرتیا کښې د مرهټو مخالیفت منلی وو.دوی فکر کاوه که په دې ریاست کې سړی واکمن وي نو د دوی دریځ به غښتلی او ټینګ وي.خو په ولس او کورنۍ کې دننه د هغې ملاتړ انګرېزان دې ته مجبوره کړل چې هغه د نوابې په  توګه ومني .
د نذرمحمد د مړینې درې ورځې وروسته قدسییه بېګم د خپلې ماشومې لور د سرپرستی په توګه  د نوابۍ په تخت کېناسته.ددې لپاره چې ځوک د اسلامي اصولو له مخې د هغې لاره ونه نیسي دې د یوه فتوا د بهوپال له مفتي او بله د  قاضي لخوا تر لاسه کړه.دغه سسند هغې خپلو خپلوانو،امیرانو  او سردارانو ته هم ورکړی چې تصویب وربانديې وکړي.
په هغه وخت کې یو داسې اوازه ګډه شوه چې قدسیه  بېګم د خپل خاوند نذرمحمد په وژلو کې لاس  لرو.ددې وخت د پرېشانیویو تاوان دا وشو چې نازېږېدلی  ماشوم یې ضایع شو.او ددې خبرې امکان نور هم کم شو چې د

دوست محمدخان د اولادونووزیر محمد او د غوث محمد کورنۍ به بیا متحده شي.
انگرېزانو په دې وخت کې د سکندربېگم او منیر محمد خان د کویژدنې خبره ومنله.او میاشت وروسته یې ماشوم منیر په رسمي توگه د نوابۍ په گدۍ کېنولو.خو شرط دا وو چې قدسییه بېگم به یې سرپرسته وي.او کله چې ددې لور سکندر بېگم د ځوانۍ سین ته ورسېده او منیر ته واده شوه نو پخپله به نوابي هغه ته ورپرېږدي.
قدسییه بېگم د خپل خاوند د وصیت پرځای کولو ،خپلو تربورانو سره سره د یو بل قام په استازي د خپلې خبرې د منلو لپاره له ډېرو ستونزو سره مخامخ وه.خو د هند په هغې اړې گړې کې د ځان ساتنې لپاره یې ډېر په هنر او استقامت چلن کاوه.
دآس د سورلی ،پوځي تربیت او د جنگ دفن او په دې کې د بریالیتوب لپاره یې زدکړه پېل کړه.دا په عقیده ټینگه مسلمانه مېرمنه وه خو دا خبره یې نه منله چې ښځه د ریاست مشره کېدای شي .هغې دا وویل چې د ښځې مخنیوي لپاره خلکو له اسلام څخه ناوړه گټه اخیستې ده.
د قدسییه بېگم لپاره د خپل پلار د عېش خوښونکي شخصیت اوو د مور مېرانه چې د جگړې په ډگر کې یې ښودلې وه ددې سوب شوه چې ځان ته خپله لاره وټاکي.
دا به د بهوپال په کلو باندو کې گرځېده چې د عامو خلکو له حاله ځان خبر وساتي او په وړو پوځي مهماتو او معرکو کې به یې د عسکرو مشري کوله.
قدسیې بېگم چرې هم د عېش وعیشرت ژوند نه وو تېرکړی.له ماشومتوب څخه یې د جنگ سختې لیدلې وې.د هغې د لارې مشال د هغې خپله مور زینت بېگم وه.خو د پښتنو په ټبر کې ځینو خلکو اوس هم د نذرمحمد وصیت ته د شک په سترگه کتل.د خپلې ماشومې لور د سرپرستې په توگه د واکمنۍ په لومړنیو کلونو کې خپلو خپلوانو او انگرېزانو دواړو ته دا جوته شوه چې دا ددې مهمې دندې لپاره وړاوقابله ده.
هغه له امیرمحمدخان او د هغه له پلویانو څخه هم په اندېښنه کې وه چې په دې انتظار وو چې کله به سکندر بېگم ځوانېږي.او کله به منیر د نوانۍ په گدۍ کېني.

په بهوپال کې اوس په ځرګنده پښتانه په دوو ډلو وېشل شوي وو او دواړو د يووه بل په فعاليتونو داسې نظر ساتلی وو لکه يو باز چې يې په خپل ښکار ساتي.

# څلورم باب
## د قدسيې بېگم واکمني

د يوې مسلمانې او پتېره بيا پښتنې ښځې لپاره د نولسمې پېړۍ په پېل کې واکمن کېدل اسانه کار نه وو.او هغه هم په داسې حالاتو کې چې په کور دننه او د باندې ورته د مخالفانو ډلې ناستې وې.قدسيه بېگم د پردې او ستر ساتلو سره د بهوپال چارې پر مخ بيولې.او په دې انتظام کې د هغې مرسته هم هغو اميرانو او مشاوورينو کوله چې دښځې مشري ورته عيب نه ښکارېدو. په دې مشاورينوکې پوه او مسلکي خلک شامل وو چې درې تنه پکې مهم دي.راجه حشونت راى،بهادر محمدخان (بخشي بهادر) او شهزاد مسيح (فرانسوي نژاد)
د شهزاد مسيح د کورنۍ کيسه ډېره په زړه پورې ده.ويل کېږي "په ۱۷٤۰ م کې چې د ايران نادرشاه افشار په ډيلي حمله وکړه او دا يې ويجاړکړ نو پدې وخت کې د مغلو له دربارڅخه يوې فرانسوي کورنۍ لومړى گواليار او وروسته بهوپال ته پناه يو وړه.ددې کورنۍ مشر سيلواډور بوربېن نومېده. په بهوپال کې دې کورنۍ ماموله بايي ته ځان ورسولو چې د دوست محمدخان د لمسي فېض محمدخان کونډه وه.ماموله بايي بوربېن ته مزکې ورکړې او کله کله به يې د جکومتي کارونو لپاره ترې مشورې اخيستې.سيلواډور يو ډېر ځيرک او پوه انسان وو.او تر ډېرې مودې يې د بهوپال د نوابې کورنۍ خدمت کاوه.دى وزير محمد خان ته هم نژدې وو او په بهوپال کې ده د عنايت مسيح په نوم شهرت لرلو.
د بهوپال د محاصرې په وخت دى له خپل ځوى بالتازار –چې د شهزاده مسيح په نوم پېژندل کېدو يو ځاى د نذرمحمد خان په پوځ کې د مرهټو پر ضد جنگېدو.
کله چې قدسيه بېگم د خپلې لور لپاره د نوابۍ دعوا وکړه نود پېرنگيانو سره د خبرواترو لپاره به شهزاده مسيح د هغې د استازي په توگه ورتلو.د قدسيي بېگم د نوابۍ په لانجه کې شهزاده مسيح (بالتازار)د هغې په ملاتړ ودرېدو.او له انگرېزانو سره د خبرو اترو لپاره د بهوپال د نوابۍ په استازيتوب ورتلو. قدسيي بېگم پر ده لوى باور درلود.همدا وو چې د پښتنو

په منځ کې داسې ګنګوسې راپورته شوې چې ګوندې شهزاده مسیح له قدسیې بېګم سره اړیکي لري.
شهزاده مسیح یو لوستی پوځي وو.او په انتظامي معاملو کې یې ساری نه لرلی.هغه اردو او فارسي ژبې رواني ویلې او د فطرت په نامه یې شاعري کوله.یو فرانسوی لیکوال او هند ته سفر کوونکی ویتولادي ګولېش پخپل کتاب "د هند نوابي سلطنوتونه"کښې لیکي کله چې "قدسیې بېګم د بهوپال نوابي تر لاسه کړه نو دا او شهزاده مسیح یوه بل ته د مینانو په څېر نږدې شول."
په دې وخت کې د بوربېن کورنۍ دومره قوي شوه چې نیم بهوپال یې په لاس کې وو.او که دوی انګرېزانو ته غږکړی وای کېدای شي هغوی ورته د بهوپال نوابي ورکړې وای.خو شهزاده مسیح داسې ونکړل او قدسییه بېګم په امر د ډیلي له یوې انګرېزې انجلۍ ازابېلاسټون سره یې واده وکړو.قدسیې بېګم د شهزاده مسیح مېرمنې ته "دسرکار دلهن"خطاب ورکړو.او په بهوپال کې د جهانګیر آباد په سیمه کې یوه کېتولیک کلیسا ،هدیره او یو ښوونځی ددې په نامه ونومول شول. په دې سیمه کې د یوه پخواني کور کنډوالې اوس هم شته دي چې ورته د "سرکار دلهن حوېلي " وایي.
قدسییه بېګم د بهوپال د چارو ،حکومتي کارونو او له انګرېزانو سره د معاملو سره سره پخپله کورنۍکې دننه له مخالفتونو سره مخامخ وه.هغې د ماشوم منیر محمد پالنه هم کوله فچې خپل لوی مخالف یانې د خپل لېوره امیر محمد په مقابله کښې ترې برمتا نېولی وو.
منیر محمد او د قدسیې بېګم لور سکندر بېګم د هغې تر سیوري لاندې لویېدل.امیرمحمد به انګرېزانو ته دا خبره یادوله چې د تخت اصلي وارث دده ځوی منیر دی.اوپکار ده چې دی دې واکمن اعلان شي.منیر چې زلموټی شو نو دی هم د پلار او د کورنۍ د نورو سړو فکر ته اوښتی و.دا خبره به تل کېده چې د ښځو واکمني غېراسلامي کار دی.
قدسیې د وخت واګې په خپل لاس کې نیولې وې.او د امیر محمد د اغېز کمولو لپاره یې له انګرېزانو څخه یوه بله خبره هم په سند لیکلې واخیسته ،هغه دا چې د منیر او سکندر بېګم د نکاح نه وروسته او په دې حالت کې چې که د هغې لور خپل مېړه ته نوابي پرېښوده نو امیر محمد به د بهوپال په حکومتي چارو کې د مداخلې هیڅ حق نلري.خو بل لوري به

هغې له اميرمحمد خان سره ښه اړيکي ساتل.هغه ته به يې ويل"ته زما له اننتظام نه دومره بد ګومانه يې چې د دوو ماشومانو په واده دې زور راوړی دی.دوی تر اوسه ځانونه نشي سنبالولی نو ملک به څنګه سنبال کړي.لږ نور انتظار وباسه"
خواميير محمد خان به په دې نه قانع کېدو.د بهوپال غوندې ښېرازې مزکې واک يې د خپلې ورېنداري په لاس کې نه شو زغملای.آخر ده د خپل اوخښي اسد سره د قدسيې بېګم له واکه د لرې کولو يو سازش جوړکړ.دوی د اورکزو ځېني غړي او د روهيله پښتنواېله جاريان له ځان سره مله کړل.او د قدسيې د وژلو لپاره يې له يوه پټ مرکز څخه د حملې پلان جوړ کړو. په دې سازش کې منير محمد هم شامل وو .خو قدسيې بېګم تر دوی زيات قوي استخبارات لرل.ددوی پوځ هغه مرکز محاصره کړ چې مخاليفو يې مورچې پکې نيولې وې. په بهوپال کې خانه جنګي پېل شوه.دواړو غاړو ترر څلورو ورځو پر يوه بل ډزې کولې.او آخر د بهو پال پوځ ددې سازش خاتمه وکړه.يو څو کسان پکښې ووژ ل شول.کشران يې ونيول.او منير محمد يې لاس تړلی قدسيې بېګم ته حاضر کړو.منير د هغې په پښو پرېوتو او معافي يې وغوښته.قدسيې بېګم دی وبخښلو خو اميرمحمد او اسد يې له درباره څخه منع کړل.دا ديوې ښځې هغه انصاف وو چې دخپل سر دښمنان يې ژوندي پرېښودل .انګرېزانو له دې جنګه وروسته د قدسيې بېګم د ساتنې لپاره د خپل پوځ يوه ډله هغې ته ور واستوله.
قدسييه بېګم اوس پوه شوې وه چې ددې مخالفان به کله هم دا ارام ته نه پرېږدي. په ١٨٢٧ م کال کې چې سکندر بېګم اوس هم د ١٠ کالو وه .قدسيې بېګم دا خبره اعلان کړه چې منير ناځوان دی.د يوې مسلمانې ښځې لخوا ددې خبرې ډنډوره کول ډېره عجيبه کار وو.منير د هغې تر سيوري لاندې لوی شوی وو.او په نوابې کورنۍ کې به نر ښځي(هيجړاګان) خدمتګاران وو.
دوی به د هلکانو او جينکو دواړود ځوانۍ او پېغلتوب له عادتونو خبر وو.او قدسيې چې دا خبره وکړه نو مانا يې داشوه چې هغه به اولاد نشي زېږولی.امير محمد ددې خبرې په اورېدو سره د خپل کشر ځوی جهانګير لاس وړاندې کړو.انګرېزانو هم دې خبرې ته غاړه کېښوده.او قدسيې ته درې کاله نوره موده پاتې شوه.چې جهانګير د نوابۍ لپاره وروزي.ځکه دی له منير څخه هم درې کاله کشر وو. په ١٨٣٠ کې د انګرېزانواستازی

لانس لوټ وېلیکنسن وټاکل شو.دی ۱۱ کاله په بهوپال کې پاتې وو.او په دې ټوله موده کې يې د قدسيې د واک مخالفت کاوه.دهغه نقادان وايي چې ده ته به د امیرمحمد خان د ډلې لخوا ډالۍ ورکړل کېدې دی به له هغوی سره په ښکار تلو.خو د هغه پلویان په دې نظر دي چې ده له انګرېزانو د هغه ټرون درناوی غوښت چې قدسيې ورسره کړی وو.او هغه د واک انتقال وو.جهانګیر په دې وخت کې د ۱۵ کالو وو.خو د قدسيې ځواب دا وو چې تر څو جهانګیر د ۱۹ یا ۲۰ کالو نشي دا به ورله سکندر په نکاح کې ورنکړي. په ۱۸۳۲ م کال کې قدسيې بورقه وغورزوله. په دې کار هغې خپلې لور سکندر ته هم لاره هواروله ځکه هغې دا تجربه کړې وه چې د پردې شا ته حکومت کول ګران کار دی.یو کال وروسته قدسيې انګرېز ګورنر جنرل ته لیک ور واستولو او تر ۱۰ کلونو پورې د خپل واک نور غزېدل يې وغوښتل چې تر څو جهانګیر او سکندر د حکومت په کارونوپوه شي.انګرېزانو دا خبره رد کړه او سمدلاسه يې غوښتنه وکړه چې د جهانګیر او سکندر نکاح دې وشي.
قدسيیه په دې خبره په قهر وه خو هیڅ يې نشو کولای.جهانګیر اوس د ۲۰ کالو وو او سکندر بېګم د ۱۸ کالو وه.هغې د آس د سپرلی ،د نېزې او تورې غشي د ویشتلو ترڅنګ د قرآن تعلیم او د فارسي او پښتو ژبې زده کړې وې.خو په وجود کې تکړه او زړوره وه.تر ټولومهمه خبره دا وه چې د هغې له جهانګیر سره مینه پیدا شوې وه.خو قدسيیه بېګم بیا هم د لور په واده کې زړه نا زړه وه.آخر امیرمحمد بیا تورې ته لاس واچاوه او د جنګ خطر پیدا شو نو قدسيیه رضا شوه.
قدسيې بیګم نژدې ۱۸ کاله د خپلې لور او د قام د سرپرستې په توګه د بهوپال واک په لاس کې لرلو.د هغې شخصیت د بهوپال د راتلونکو واکمنانو لپاره یوه بېلګه وه.ددې په حکومت کې د بهوپال اقتصاد په خپلو پښو ودرېدو.دې د خپل شخصي خرڅ لپاره له خزانې څخه یوه پیسه نه اخیستله.کالي پټري يې نه کول. په طبعیت کې دېره ساده او له غروره خلاصه ښځه وه.خو په ودونو کې به يې کله کله له نورو ښځو سره خپل غړ ورګډ کړو.ددې د وروستیو کلونو یو انځور پاتې دی چې پکې دا یوه لوړه او نرۍ مېرمنه ښکاري. په سرېې لوپټه او په سترګویې عینکې دي.
په بهوپال کې د موتي مسجد په نامه دجامعې جومات د جوړېدو وروسته يې د پرانستنې مراسمو ته ولاړه.خو په ټول وخت کې د دې لوی انګړ د

یوې ونې سیوري ته ناسته وه او سترګې یې ټیټې نیولې وې.وروسته چې له دې پوښتنه ووشوه چې ولې یې ددې دومره ښکلي جومات مېنارونو او ګنبدې ته نه کتل نو دې وویل."زه وېرېږم هسې نه ددې په لیدو سره به په ما کې غرور پیدا شي."دا به د ښار په لارو کوڅو کې پلي ګرځېده.د غریبو خلکو کورونو ته به ناڅاپه وردننه شوه چې د هغوی حالت له نژدې څخه وګوري.د مانۍ په چمن کې یې یوه لویه ټلۍ ایښې وه او خلکو ته یې اعلان کړی وو چې که هرڅوک یو ستونزه لری نو دا ټلۍ وغږوی.ددې د مانۍ په وره کې هر ورځ دوه منه غنم ایښودل کېده. د سهارلمانځه وروسته به ضرورتمندو ته وېشل کېده.او په لومړي ځل یې د څښلو اوبو لپاره په بهوپال کې یو نل (پایپ) تېر کړو.د اورګاډي پټلۍ د غزولو لپاره یې له خپلو شخصي پیسو پانګه ورکړله. په مکه او مدینه کې یې د بهوپال د حاجیانو لپاره سرایونه واخیستل.چې اوس هم شته. په خپل باغ کې یې به له عامو خلکو سره لیدل.د هغوی ستونزې به یې اورېدې او مرسته به یې ورسره کوله.د ریاست خزانه او خپله شخصي پانګه یې بېله کړله.له خپلې مانۍ څخه یې د لاسي ګنډلو کار پیل کړو .ښځې یې پکې په کار ولګولې او د خپل پخلنځي خرڅ به یې له دې پیسو پوره کولو.ډېر ژر هغې د عامو خلکو زړونه وګټل.خلکو به یې ډېر درناوی او احترام کاوه.

## د قدسیې بېګم سیاست

په ۱۸۳۵ کښې سکندر بېګم جهانګیر ته واده شوۀ او شپاړلس کاله وروسته د امیر محمدسره شوی لوز پوره شو،د دوی دواړو واده د دښمنو کورنیو تر منځ داسې یووالی وو چې د مینې او محبت پر ځای پکې تربګني او رقابت ډېر وو.له واده څخه سمدستي وروسته انګرېزانو له قدسیې بېګم غوښتنه وکړه چې نوابي دې جانګیر ته وسپاري.خو قدسیې وویل دهغې زوم لا تر اوسه نوابی ته تیار نه دی.سکندرې او جهانګیر چې ګډ ژوند پېل کړو نو هغه خپل خاوند ته وفاداره شوه.او دې په خپله له موره وغوښتتل چې واک دې د هغې خاوند ته وسپاري.د دواړو کورنیو ترمنځ اړیکي خړپړ وو.امیر محمد په خپله دا باور درلود چې قدسبه به چرې هم واک د هغه ځوی ته پرېږدي.ده یو واري بیا دبغاوت جنډه راپورته کړو.د بهوپال له ښار ه بهر سیهورنومي ځای کې یې مورچې ونیولې .او پوځ یې وربرابر کړو.قدسیې ډېر په مېړانه دا جنګ وګټلو .خو اوس انګرېزانو ورودانګل.د برتانیا د بهرنو چاروو وزیر یو لیک قدسیې ته وروواستولو چې په کې یې په دې خبرې ټینګارکړی وو چې هغه واک خپل زوم ته وسپاري.د قدسیې بې له دې نور وس ونه رسېد چې له بهوپال ښار څخه د اسلام نګر کلا ته ولاړه شي.برتانیاهغې ته اته سوه او شپاړلس کلي په جاګیر کې ورکړل.او د یولسو توپو د سلامي اعزاز یې هم ورکړو. په ۱۸۳۷ کښې جهانګیر محمد په یوه ځانګړي دربار کښې د بهوپال نواب وټاکل شوهغه د نواب کېدو سره سمدستي قدسیې بېګم ته پټمن د پوځ مشر بخشي بهادر محمدخان ته وړاندیز وکړوکه د قدسیې بېګم له ملاتړ لاس واخلي نو لویې مزکې به په انعام کښې ورکړي.بهادرخان ورته په ځواب کې وویل "زه په بد وخت کې د خپل مریې سره نیمه وچه ډوډۍ خوړی شم خو له یوه ډارن او ناسیاله کس په خدمت کې د مال خاوند نشم کېدی"

دی له خپلودوو ځامنو صدرخان او باقي خان سره یو ځای خپلې تورې د تیکو نه وېستلې او له هغې ډولی سره روان شول چې پکې قدسییه بېګم د اسلام نګر د قلا پر لوري روانه وه.

د جهانګیر د نواب کېدو سره سم د بهوپال فضا بدله شوه. په ماڼیو کې د رقص او سرود محفلونه شراب او د مېلمستاوو دوران پېل شو.دی په خپله

یو شاعر وو او آرام ژوند یې خوښېدو.د زمري ښکار ،د نورو ښځو سره روابط او د شرابو څښل ورته عیب نه ښکارېدل .
ده  په بهوپال کې یوه نوې سیمه د جهانګیر آباد په نوم ودانه کړه.د پوځ لپاره یې چاوڼۍ او د ځان لپاره یې یوه نوې ماڼۍ جوړه کړله.سکندر لېګم به هره ورځ د خپلې مور قدسیې بېګم پوښتنې ته اسلام نګر ته ورتله.د جهانګیر نواب په دربار او مېلمستیا کې به انګرېزان هم شامل وو.
سکندر بېګم به په هره موقع له خپل خاوند سره مله وه.یوه ورځ د انګرېزانواستازي ویلکینسن چې هر وخت  به د جهانګیر  نه تاویدو راتاوېدو.سکندر بېګم ته ورنږدې شو.د هغې د الماسو غوږوالی ته لاس یوړو او  ویې ویل "بېګم صېب ستا کالي څومره ښایسته دي"سکندر بېګم د ټولو خلکو په  وړاندې ویلکینسن ته پر مخ  یوه څپېړه ورکړه.او په قهر یې ورته وویل "ویلکینسن صېب ته نه یې خبر چې یوې پردی مسلمانې ښځې ته لاس وړل د هغې سپکاوی وي."
امیر محمدخان او د هغه د ډلې لخوا اوس دا سازشونه کېدل چې څرنګه سکندر بېګم له مېنځه یوسي.ځکه له قانوني پلوه دا نوابه نه وهاو سره له دې چې جهانګیر په نامه د بهوپال نواب وو.خو عامو خلکو ااوس هم د قدسیې بېګم او د هغې د لور سکندر بېګم درناوی کاوه.د جهانګیر له لارې امیرمحمد خپله غوښتل چې واکمن شي.آخر یې خپل ځوی  دومره ولمسوو چې خپله  مېرمن ووژني.دده د واده درې کاله شوي وو.سکندر بېګم اوس حامله وه او څو ورځو کې دننه یې ماشوم کېدو.دا به د شپې خپله کوټه کې یوازې ویدېده.جهانګیر به د خپل عېش و نوش له محفلونو د شپې ناوخته ورتلو.یوه شپه سکندر بېګم د هرې ورځ په شان په خپل څپر کټ ملاسته وه.هغې بهر د آس د راتلو غږ واورېدو.خوشاله شوه چې جهانګیر نن شپه د وخته کوټې ته ورروان وو. دپښو ښکالو یې تر غوږو کېده.خوهغې د لوی څپرکټ له پردو نه اندازه لګوله راتلونکی د برنډې پر  پوړو دختلو پر وخت ددې  پر څنډو بلېدونکي روغني څراغونه هم  یو یو مړه  کړل.نابېره سکندر بېګم پوه شوه چې د خاوند په جامه کې یې اجل راروان دی.هغې د چپر کټ له پردو کتل چې د هغې خاوند جهانګیر توره په لاس کوټې ته راننوتو.دا ساه نیولې ملاسته وه.مرګ ترېنه څو ګامه لرې وو.او په دې وخت کې هغې ځان په څادر کې تاوراتاوو کړو او یو غټ بالښت یې په ځان کېښود.جهانګیر د تورې یو زوروور ګوزار وکړو او د هغې په تېره

څوکه يې په ګوته د تودو وينو احساس وکړو نو پوه شو چې د هغه اندازه سمه وه .ښځې له تورې يو ګوزار کافي وي.سمدلاسه يې له کوټې پښې سپکې کړې او له  کوټې ووتلو.بهر پېرادارن حيرانه وو چې جهانګير نن شپه ببېرته په آس کېناستو او په تلوار له ماڼۍ ووتلو.خو ورسره

د سکندر بېگم چیغې یې واورېدې.او چې دوی دننه ورمنډې کړې نو ګوري چې د سکندربېگم کټ په وینو لړلی دی خوهغه ژوندی ده.
د تورې ګوزار نیم په بالښت او نیم ددې په مړوند او ملا شوی وو.هغې د ملهم پټۍ امر وکړو.او چې سپېدې چاودېدې نو د خپلو ساتندویانو په بدرګه دخپلې مور قدسیې بېگم پر لوري اسلام نگر ته روانه شوه.
په بهوپال کې ډېر ژر دا خبر خپور شو چې جهانگیر د شپې د خپلې مېرمن د وژلو هڅه کړې وه. په دې پېښې سره د عام ولس له سکندر بېگم او قدسیې سره نور هم زړه سوی پیدا شو.
د امیر محمد او غوث محمد د کورنۍ تر منځ هغه معمولي رسمي اړیکي چې پاتې وو په دې کړنې او عمل سره هغه هم له منځه ولاړل.اوس په جار دښمني پیل شوه.
په اسلام نگر کې د بخشي بهادر ،محمدخان او قدسیې نور وفاداره امیران د مور او لور دوواړو تر څنگ ودرېدل.له حملې دوه میاشتې وروسته د سکندربېگم لور وزیږېدله.اونوم یې شاجهان بېگم وربانديې کېښودی.
اوس بهوپال عملا په دوو برخو وېشل شوی وو.مور او لور د اسلام نگر او جهانگیر له بهوپاله حکومت کولو.قدسیه بېگم یوواري بیا فعالعه شوه او انگریزانو ته یې داسې پېغامونه ورلېږل چې د هغې پر لورله وژونکي برید وروسته جهانگیر د واکمنۍ حق بایللی دی.او باید چې سکندر بېگم د بهوپال واکمنه اعلان کړل شي.خو د انگرېزانو استازي هم هغسې د جهانگیر ملاتړ کاوه.د وخت په تېرېدو سره د بهوپال وضعه په خرابېدو شوه .د قدسیې هغه کارکوونکي چې د خلکو د ستونزو حلولو ته به تیار وو اوس د جهانگیر خپلو خپلوانو په پیسو اخیستي وو.کله چې خزانه په تشېدو شوه نو ویلکینسن په دې وخت کې جهانگیر ته خبرداری ورکړو چې خپل چلن دې سم کړي انگرابزانو د قدسیې بېگم غوښتنې ته ځواب ورکوو چې په بهوپال کې ښځه نشي واکمنه کېدای.ددې په ځواب کې به قدسیې د برتانیا د ملکې وکتوریه مثال ورکوو چې د دومره لوی سلطنت د واکمنې په حیث انگرېزانو ته د منلو وړ ده.نوولې بیا په دې وړوکې نوابۍ کې د ښځې واکمني نه مني. په ۱۸٤۱ کې ویلکینسن مړ شو نو د هغه پر ځای د انگریزانو استازی هېنري ټریولیان په بهوپال کې وټاکل شو.نوی استازي له نږدې څخه په بهوپال کې حالات وڅارل.د دواړو غاړو خبرې یې واورېدې نو په خپل رپوټ کې یې ولیکل چې دوی د جهانگیر په ملاتړ یوه ډېره

غلطه تگلاره یا پالیسي خپله کړېده.ده وار په وار جهانګیر ته د هغه کمزورئ په ګوته کړې او د اصلاح غوښتنه یې ترې وکړه.
په ۱۸٤٤ کښې جهانګیر د پښته ورګي په ناروغئ اخته شو او ډېر ژر یې حالت خراب شو.خپل مرګ ورته نزدې ښکاره شو او خپلې مېرمنې ته یې لیک ورواستولو.د خپلې پخوانئ مینې واسطه یې ورکړه او ورته یې وویل که هغې ورسره ګډ ژوند کولی نو ده به د یوه ښه نواب په توګه حکومت کړی وای.د هغه لور شاهجهان بېګم اوس د شپږو کالو وه .
سکندر بېګم چې دا لیک تر لاسه کړونو هغې خپل خاوند وبښلو.د خپل قتل سازش یې هم هېر کړلواو له خپلې لور سره یو ځای له اسلام نګره و بهوپال ته روانه شوه.
دې نږدې یوه اونۍ د خاوند له کټ سره تېره کړه هغه د خپلې ماشومې لور په لیدو سره ډېره ډېر خوښاله وو.خو د اونۍ په پای کې د جهانګیر پلار اوو د هغه ماما له سکندر بېګم نه غوښتنه وکړه چې له دې ځایه دې ولاړه شي.د جهانګیر د ژوند وروستی شېبې وې او امیر محمد په دې پوهېدو که سکندر بېګم د جنازې پر وخت هلته موجوده وي نو د نوابۍ دعوه به وکړي.همدغه وجه وه چې خپله مړ.ور او لمسۍ یې په زوره له ماڼۍ وویستلې.مور او لور دواړه په سرو سترګو په ګاډي کې کېناستې خو نیمایي لاره کې خبرې شوې چې جهانګیر ساه ورکړه.
د هغه د مرګ سره سمدلاسه امیر محمد انګرېزانو ته ولیکل چې جهانګیر نارینه اوولاد نلري او حکومت د نارینه وو کار نو ځکه د نوابۍ حق او د خپل ځوی وارث دی په خپله دی.له دې دعوې سره د اورکزو په کورنۍ کې د دوست نور لمسي هم راپورته شول او د خپل حق غوښتنه یې کوله .قدسیې بېګم یو واري بیا د خپلې لور د حق لپاره نوي استازي ته لیک ورواستاوه.د انګرېزانو له لیکنو داسې ښکاري چې دوی هغه وخت کې سره له دې چې د انګلستان او ټول هند واکمنه ملکه ویکټوریا وه خو په بهوپال کې یې د یوې مسلمانې ښځې واکمني نه پرېښوده. دوی د نوابۍ لپاره د قدسیې بېګم د ورور موعېز فوجدارخان پلوي کوله.
په ۱۸٤٥ کې دوی اعلان وکړ چې د بهوپال نوابه به اوه کلنه ماشومه شاهجهان بېګم وي چې د خپل پلار وارثه ده.
داچې هغه د اوو کالو ماشومه وه نو ځکه دهغې پر ځای دقدسیې بېګم تر ټولو کشر ورور موعېز فوجدارخان به د هغې لپاره فیصلې کوي(یانې

عملا فوجدار خان واکمن وو.خو سکندربېګم به دخپلې لور سرپرسته وي.او فوجدار به په حکومتي معاملو کې  له هغې څخه مشورې اخلي.له دې فیصلې سره د امیرمحمد او دهغه  د پلویانو دعوو ته د پای ټکی کېښودل شو.خو دقدرت او حکومت ترڅ پدې فیصلې بېا توري ته لاس کړو .لښکر یې جوړکړو او بغاوت یې اعلان کړو.خو په دې نه پوهېدو چې اوس د هغه مقابله له ښځې سره نه بلکه انګرېزانو سره وه. په یوه معمولي جنګ کې یې ماتې وخوړه او ګرفتارشو.انګرېزانو دی په بندي خانه کې واچاوه.او هم هلته نهه کاله وروسته په ۱۸۵٤ کې مړ شو.قدسیه بېګم له خپلې لور او لمسۍ سره لکه د فاتح په ۱۸٤٥ کې  د نوابۍ ګاډي کې یو واري بیا بهوپال ښار ته ورداخله شوه.د سړک دواړو غاړو ته خلک ددې د هرکلي لپاره راوتلي وو.
په شاهي ماڼۍ کې د سکندر بېګم او دفوجدارخان تر سیوري لاندې حکومتي کارونه پېل شولو.خو انګرېزانو ته ډېر ژراندازه وشوه چې په یوه تیکي کې دوې توري نه ځایږي.سکندر انګرېزانو ته ولېکل دا کار کول غواړي خو اختیار نه لري.انګرېزانو همدا خبره معلومه کړه او فوجدارخان یې له خپلې دندې لرې کولو ته اړ کړو.

## د سکندر بېګم نوابي

په ۲۷ جولایي،۱۸٤۷ کې د بهوپال په یوه ځانګړي رابلل شوي دربار کې د انګرېزانو استازي جې- ډي کنینګم د خپل حکومت لخوا اعلان وکړ چې سکندر بېګم به د بهوپال د نوابۍ سرپرسته او د خپلې نهه کلنې لور شاهجهان لخوا واکمنه وي.او په دې اعلان د هغې د ۲۱ کالو د نوابۍ دوره پېل شوه.لومړیو دیارلسو کالو کې دا د خپلې لور شاهجهان سرپرسته وه او وروسته اته کاله یې خپله واک لاره.

سکندر بېګم اوس د ۲۷ کالو وه دا په وجود اوو شخصیت کې د خپلې مور قدسیې بېګم په څېر وه.د خپلې مور غوندې یې د ژوند ښه شېبې په کورنې سازشونو ،جنګونو او ځان ساتلو کې تېر شوي وو.له وړوکوالي نه پوهېده چې پر اوږو به یې دروند پېټی اېښودل کېږي.دې په ماشوموالي کې د آس سپرلی ،د تورې او نېزې وهل او د غشي ویشتلو تربییه اخېستې وه. د خپلې مور قدسیې بېګم په نوابۍ کې دې د پوځي ډلګیو مشري کوله او پوځي مهماتو کې به پخپله هم شریکه وه.دا هم د خپلې مور په شان د عقېدې ټینګه مسلمانه وه.خو پرده به یې نه کوله. په بهوپال کې دننه به یې مخ نه پټولو.خو کله چې به په سفر تله نو د ورېښمو سپینه بورقه به یې اغوستله،او د هغې له پاسه به یې د مرغلرو تاج هم اېښودلو.دې ډېر ساده ژوند تېرولو.خو په رسمي مراسمو او دربار کې لکه د نارینه نوابانو غوندې په دبدبه اورعب کېنستله.له خپلو درباریانو سره به یې په سخته لهجه خبرې کولې.او هیچا ددې په حضور کې سترګې نشوې اووچتولی.

د سکندر بېګم لومړی مهم کار دا وو چې هغې د بهوپال دپوځ کنډکونه رسمي کړل.له دې وړاندې به د اورکزو د کورنۍ خانانو د خپلو ډلګیو مشري کوله او نظم به پکې نه وو.سکندر بېګم په لومړي ځل د پوځیانو د معاش سیستم معرفي کړو.د دوی لپاره یې بارکونه جوړکړل.د سپرو اوو د پلي لښکر ډلګۍ یې بېلې بېلې کړې.او یوه منظمه توپخانه یې برابر ه کړه.د سرکاري وسلو دثبت او ساتنې لپاره یې بېل وسله تون جوړکړلو.هغې په خپله د پوځي رسم ګزشت(پرېډ) معاینه کوله.ددې دویم کار دا وو چې د بهوپال مزکې یې کچ کړې.بهوپال یې په دریو اننتظامي برخو وویشلو چې هرې برخې کې یووشت ولسوالی وې.د هرې ولسوالۍ حدونه یې وټاکل او په لومړي ځل د بهوپال په سرحدونو د نښې ستنې ودرول شوې.

د هرې یوې ولسوالی یو ولسوال یا ناظم او عامل وټاکل شول.او دوی ته به معاش ورکول کېده.د مالیې راټولو لپاره یې ۵۰ سپاره او ۵۰ پلي افسران وټاکل.د خپلې نوابۍ په لومړي یوکال کې دننه هغې د بهوپال ۳۰ لکه روپۍ پور پرې کړو.چې زیاتره پیسې ددې خاوندد خپلو خرڅونو لپاره اخیستې وې.

دې د لومړي ځل لپاره د پولیس نظام هم جوړکړو چې لرې پرتې سیمې به یې اداره کولې.ددې برسېره یې د گمرک (محصول)او استخباراتو څانگې رامنځ ته کړې چې دې ته به یې د مزکو د حاصلاتو او د عامو خلکو د مشکلاتو خبرونه راوړل.دعدلیې نوی سیستم یې معارفي کړ و چې پکې قاضیان او وکیلان یې له بهوپاله بهر له نورو سیمو راوغوښتل.ددې هدف دا وو چې خلکو سره انصاف وشي.د عدالت او د قاضي د فېصلې پر ضد د اپیل حق هم خلکو ته ورکړی شو.قوانین یې داسې جوړکړل چې د هندو او مسلمان د دواړو خیال پکې ساتل کېده.

د سکندر بېگم په نوابۍ کې په بهوپال کې د لومړي ځل لپاره خپله سیکه جوړه شوه او د ډاک (پوست)نظام معارفي کړی شو،چې له بهوپاله بهر یې هم دفترونه لرل.دې دلومړي ځل لپاره د محاسبې مشر وټاکلو چې د ټولو ادارو حساب کتاب وگوري او د فساد او رشوت مخه ونیول شي.د هغې اصلاحات په دریو څانگو کې شوي وو.سیاست ،تعلیم او حکومت.

په بهوپال کې لومړۍ ولسي جرگه یا مجلس ددې په وخت کې جوړ شو چې د یوه ټاکلي پارلمان دنده یې پر مخ بیوله. په دې پارلمان کې بېلا بېلو مذهبونو او سیمو خلک چې پکې سپین ږیرې ،تعلیم یافته،بې تعلیمه،مذهبي اومسلکي هر ډول کسان شامل وو.دې شورا به قوانین جوړول او پر ستونزو به یې ازاد بحث کاوه.چې هغه وخت یو ډېر پر مختللی گام وو.دې شورا د بیان دازادۍ قانون جوړکړو او په ډېرو رایو سره ومنل شو.دې شورا له ۱۸٤۷ نه تر ۱۸٦٤ پورې ۱۳٤ قوانین جوړ کړي وو.د تعلیم په ډگر کې یې نه یوازې د هلکانو او انجونو ښوونځي جوړکړل بلکه له یمن او سعودي عربستان څخه یې استاذان او عالمان راوبلل. چې د نوابۍ کورنۍ ښځو او سړو ته به یې د قرآن او حدیث درس ورکاوهٔ.د استاذانود هستوگنې لپاره وړیا ځایونه جوړشول.او له دې پرته ورته مزکې او نغدې پیسې هم ورکول کېدې.د سکندر بېگم په امیرانو کې یو تن مولوي جمال

الدين نوميدو چې د هغې د لور شاهجهان بېگم  اتاليق وو. پدې دور کې د بهوپال رسمي ژبه د فارسي پر ځای اردو ووټاکل شوۀ.
د حکومت او اداري په ډگر کې يې  د بهوپال ښار سرکونه  پراخه کړل.چې دآس گاډي پکې تېرېدای شوی.د شپې په لارو کوڅو کې د هر پنځوس ميټره واټن کې د تېلو څراغونه بلېدل.د هندوانو اومسلمانانو لپاره يې بېل بېل سرايونه  جوړکړل.د يو لوی روغتون او بې شمېره وړوکلېنيکونو  برسېره يې د وگړو د روغتيا لپاره  قانون جوړکړو او حکيمانو ته امر وشو چې د هندوانو او مسلمانانو لپاره دې د هغوی د مذهبي حساسيت په احترام بېل بېل داروگان جوړکړي.ددې په دور کې د لومړ ي ځل لپاره د پور ورکولو سيستم پېل شو.دوی به له حکومته پور واخيستو او وروسته په اسانو قسطونو به يې پرې کوو.د حکومت لخوا د ځنگلاتو يوه څانگه هم پرانستل شوه چې د چاپېرپال ساتنه وکړي.او په  ناقانونه  توگه د ونو پرېکولو مخه ونيسي. په دې وخت کې د بهوپال  له نور هند سره دمزکې له لارې د انښلولو لپاره د اورگاډي پاټلی په جوړېدو لاس پورې شو.خو هغه د اورگاډي ليدو ته ژوندۍ پاتې نه شوه. لومړی اورگاډی په ۱۸۸۲ کې د خاني انجن سره راغلی.

د سکندربېگم کورنۍ ته وفاداره د پوځ مشر بخشي بهادر محمدخان مړ شونو دده مشر زوی صدر محمد د پوځ د قومندان وظیفه تر لاسه کړه.خو دوه کاله وروسته صدر محمد هم په ځوانه ځواني کې مړشو.او د پوځ مشري د ده کشر ورو باقي محمد ته وسپارل شوۀ.قدسيې او سکندر د نورو خپلوانو په پرتله د پښتنو په دې کورنۍ ډېر زيات اعتماد کاوه.ددې کورنۍ غړيو د قدرت او واک پر ځای مسلکي جنګ او د دوست محمد له کورنۍ سره د پت پاللو لاره خپله کړې وه.
د سکندر بېگم لور اوس دپېغلتوب په درشل کې وه.او سکندر بېگم له انګرېزانو څخه هم هغه ژمنه ترلاسه کول غوښتل چې يو وخت د دوی مور قدسيه بېگم د خپل خاوند نذرمحمدله مړينې وروسته کوله.
دواړو مېرمنو انګرېزانو ته دا ښودله چې دوی د حکومت کولو وړتيا لري.سکندر بېگم ليدل چې د انګرېزانو استازي هغه هومره مخالف نه وو لکه ويلکينسن چې وو.او تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د برتانيا پر شاهي تخت يوه ښځه ناسته وه. پدې حالاتو کې سکندربېگم د ليک له لارې له انګرېزانو سره اړيکي وو.او دخپلې لور شاهجهان بېگم د نواب کېدو په لړ کې يې خپل شرايط وړاندې کړل. په دې کې تر ټولو مهم شرط دا وو چې د شاهجهان بېگم له واده وروسته د هغې خاوندبه نه يوازې دا چې نواب نه وي بلکه انتظامي اختيارات به هم نه لري.او د بېلګې په توګه ورته د د ملکې ويکټوريې د خاوند شهزاده البرټ نوم وليکو.دويمه داچې د شاهجهان بېگم لپاره د يوه مناسب خاوند غوره کولو اختيار به يوازې د سکندربېگم په لاس کې وي. او دريم دا چې سکندربېگم به تر خپلې مزکې پورې نوابه وي. په دې و ليکونو کې سکندربېگم د ملکې ويکټوريه نوم په بيا بيا يادوو ،مانا يې دا وه چې که انګرېزانو ته يوه ښځه واکداره عيب نه دی نو بايد د بهوپال لپاره هم عېب ونه ګڼل شي.
په ١٨٥٤ کې چې شاهجهان بېگم د ١٦ کلونو شوه نو د هغې لپاره په لټون سکندربېگم د ټول هند د بېلا بېلو پښتنو کورنيو او قبيلو ١٦ زلميان هند ته راوبلل.د دوی ښه مېلمستياوې وشوې.او ځينې پکې د څو ورځو وروسته ولاړل . په اخر کې يوازې شپږ ځوانان پاتې شول چې ټول د دوست محمدخان د لمسو اولادونه وو.سکندربېگم دوی هم رخصت کړل او

انګرېز استازي ته يې وليکل. په دوی کې يو ځوان هم زما د لور وړ نه دی.دا چې سکندر بېګم ولې دا کار وکړ .لومړی خو دا چې هغې انګرېزانو ته ښودل چې دا د خپلې لور شاهجهان خوښې ته هم ګوري.کله چې دې ١٦ زلمي بهوپال ته راوبلل نو انګرېزانو ته يې دا وليکل چې هغه غواړي ددې لور په خپله ځان ته میړه خوښ کړي.او په دې خبره کې يو څه حقیقت هم وو.ځکه له ځینو ځوانانو سره شاهجهان بېګم د لیکونو له لارې د مینې لندمهالی تعلق هم پاتې شوی وو.ډېر ځوانان یوازې په دې حرص بهوپال ته ورغلي وو چې له یوې ښکلې او ځوانې شهزادګۍ سره به هم واده وکړي او د مسلمانانو د یوې پراخې نوابۍ واکمن به هم شي.
ان تر دې چې په دې ځوانانو کې د مغل واکمنې کورنۍ یو شهزاده هم شامل وو.اورکزیو ځوانانوخو دا خپل حق ګڼلو.خو سکندر بېګم نه غوښت چې هغه خونړی تاریخ بېرته تکرارشي.د واک پر سر د هغې په خپل ژوند تېری د هغې یادوو. په ١٨٥٤ کې سکندربېګم د خپلې مور قدسیې سره دصلاح مشورې وروسته د بهوپال د پوځي ځواک مشر سردارباقي محمدخان چې د بخشي بهادرمحمدخان زوی وو خپل دربار ته راوبللو اوو هغه ته يې امر وکړو چې له شپاړلس کلنې شاهجهان سره دې واده وکړي.باقي محمد پدې خبره حیران پرېشان پاتې شو.سکندر ته يې زارۍ وکړې چې دی د بهوپال يو خد متګار دی او نشي کولای چې په شاهي کورنۍ کې وردننه شي.دویمه دا چې هغه لا پخوا دوه ښځې او له هغوی څخه يې اولادونه لرل.
هم په دې ورځ باقي د سپينو زرو په یوه طشت کې سکندربېګم ته د ويښتو رنګولو بوتل ،مصنوعي غاښونه او عینکې ورواستولې .او همدا ددې خبرې نښه وه چې دی زوړ او شاهجهان ځوانه وه.خو په سکندر يې هيڅ اثر ونکړو.هغې لا پخوا دا فيصله کړې وه.باقي ته يې ډېر په سختۍ وویل چې کله د انګرېزانو هوکړه (رضایت) ورته راشي نو سمدستي به واده وي.
سکندر او قدسیې ولې دا فیصله کړې وه؟دوی نه غوښتل چې د جهانګیر په شان یوواري بیا په خاندان کې تربګني پیدا شي.د خپلې کورنۍ په خلکو دوی دواړو اعتماد نه کولو.بهرني د دوی لپاره د منلو وړ نه وو.د دوی یو داسې کس پکار وو چې بهوپال ته وفاداره او بې غرضه کس وي.انګرېزانو په دې هیڅ اعتراض ونکړو.هغوی د سکندر او قدسیې د کورني تاریخچې

نه خبر نه وو.دوی د شاهجهان په تخت د کېناستو لپاره ۲۱ کاله عمر وټاکلو.د شاهجهان بېګم او باقي محمدخان په ۱۸۵۵ کې واده وشواو پردې موقع باقي محمد ته د امراولدوله خطاب ورکړی شو.ددې سربېره هغه ته په بهوپال کې د توپو د سلامي ،لوی جاګیر،یو فیل او د پالکي عزازونه هم وو.

(پالکی هغه ډولۍ ده چې نوابان به پکې له یوځایه بل ځای ته تلل او څلورو مزدورانو به اوچتوله.)

سردار باقي محمد د اورکزومیشتی خیل وو.دده کورنۍ د دوست محمد او په تېره بیا وزیر خېلو ته ډېر خدمت کړی وو.دی په هډمظبوط او تینګ سړی وو.سهار به یې درې ساعته ورزش کوو.بیا به یې شپږ سېره شیدې څښلې . په یوه لاس به یې د اوبو هغه ارهټ چلولو چې دوو غویانو چلاوه. وایي ده یووځلي یوه غرڅه په دواړو لاسونو په هوا کې اوچت کړ.چې څلورو کسانو نشو اوچتولی.له شاهجهان بېګم سره دده واده د اطمینان هغه ګړۍ وه چې دواړو قدسیې او سکندر بېګم له ډېرې مودې غوښته.خو په دې وخت کې له بهوپاله لرې په ډیلي او ځینو نورو ځایونو کې د انګرېزانوپر ضد د خپلواکۍ یو پاڅون پېل شوی وو. په ۱۸۵۷ کې د انګرېزانو خلاف یو پاڅون وشو چې د هند خلک یې د خپلواکی جنګ او انګرېزان یې غدر یا بغاوت بولي.ددې پېل د ځینو هغو پوځیانو په بارکونو کې وشو چې د انګرېزانو چاونۍ پکې وې. په دې وخت کې سکندر بېګم چې د انګرېزانو ملاتړ یې لاره ،خپلو پوځیانو ته یې معاشونه زیات کړل او دوی ته یې امر وکړو چې د نورو سیمو د خلکو یا د پوځیانو په لمسون دې غوږنه دي.خو په بهوپال کې دریو ډلو پدې پاڅون د انګرېزانو پر ضد تورې راپورته کړې.د یوې ډلې مشري فاضل محمد کوله.چې د دوست محمد کړوسی وو.او غوښتل یې چې په دې پاڅون کې سکندربېګم له واکه لرې کړي.دویم هغه پوځیان وو چې د انګرېزانو پر ضد وو او د دوی مشري ولي شاه او مهاویر په نامه دوو افسرانو کوله. په دوی کې هندوان او مسلمانان دواړه شامل وو.دوی خپل ځینې افسران هم په دې ځایونو کې ووژل.دریېمه ډله مذهبي عالمان وو چې ددې پاڅون پر وخت یې فتواګانې ورکولې.او د انګرېزانو پرضد جنګ یې جهاد ګڼلو.او د مغل پاچا بهادرشا ظفر تر بېرغ لاندې د راټولېدو غږ یې کولو.د پوځیانو بغاوت پنځه میاشتې جاري وو.اخر دوی چاونۍ ونیوله او شاهي ماڼۍ یې چارچاپېره محاصره

کړله.او غوښتنه يې وکړه چې سکندر بېګم دې دوی ته وسپارل شي.هغې خپل زوم اومراولدوله راوبللو او غوښتنه يې ترې وکړه چې له پوځ سره دې خبرې وکړي.او د حل لاره دې راوباسي. په دويم ورځ د پوځ غوښتنه ومنل شوه د دوی معاشونه يې زيات کړل او سمدستي خطر لرې شو.
عجيبه خبره دا وه چې د پاڅون په لومړيو ورځو کې قدسيې بېګم خپله هم د هغه ياغي پوځيانو ملاتړ کاوۀ چې د انګرېزانو پر ضد راپاڅېدلي وو.او هغوی ته يې شخصي پيسې هم ورواستولې.کله چې سکندر خبره شوه نو خپلې مور ته يې يو سخت ليک ورواستولواو د بهوپال لپاره په راتلونکې کې ددې عمل د نتيجو خبرداری ورکړو.قدسيې بېګم په دې خبره له بغاوته لاس واخيستو.سکندر بېګم پوهېده چې که دا پاڅون کامیابه شي نو د دوی واک به هم له مېنځه وولاړ شي.بهوپال به نه د علماوو،نه پوځيانو او نه هم د فاضل محمد لاس ته ورشي بلکه دا به د دوی دځواکمنو ګاونډيو مرهټو لاس ته ولوېږي.او يا به پکې انارشي او ګډوډي جوړه شي.باقي محمد ورو ورو په سېهور کې پوځيان بېرته خپل لاس ته کړل.هغه وخت له ده سره د پښتنو هغه ډلې مل شوې چې د اوسني صوبه سرحد څخه يې راوستي وو.اخوا په ډيلي کې هم د مغلو پاڅون ناکامه شوی وو.انګرېزانو اوس د هند ټول سلطنت په لاس کې لاره.د بهوپال باغيان هم تيت و پرک شول.فاضل محمد ونيول شو او غرغره يې کړلو.
د بهوپال سرکاري سندونه ښيي چې په دې ټول پاڅون کې ۱٤۹ ياغيان ووژل شو.د پاڅونکو دعوا داوه چې د دوی ۳٥٦ غازيان يا غرغره شوي او يا هم په جنګ کې شهيدان شوي دي.
دانګرېزانو هغه ډلګۍ چې د بهوپال خواو شا له حملو راتيښتېدلې وې هغوی هم دغه سيمې ته کډه کوله.سکندر بېګم خپلو سردارانو ته امر کړ ی وو چې دوی دې په لويو کلاګانو کې وساتل شي او د دوی تر څارنې لاندې دې وي.
وروسته بيا يو چا له سکندربېګم څخه پوښتنه وکړه چې که انګرېزانو په دې جنګ کې کاميابي نه وای ترلاسه کړې نو بيا به يې څه کولو .هغې ورته په ځواب کې وويل."په دې حالاتو کې د بهوپال پوځ دا خبره يقيني کوله چې دوی (انګرېزان) بې وسلې شي.{دا دسکندر بېګم هغه صلاحيت ښيي چې په يو سخت وخت کې د راتلونکې په اړه د پلان او تدبېر خاونده وه.}

د غدر یا د ازادۍ د جنګ نه وروسته د برتانيې سلطنت بهوپال ته نور مراعات هم ورکړل د مننې پيغامونه،امتيازات او بادرۍيې ورته اعلان کړې. په ۱۸۵۸ د شاهجهان بېګم او باقي محمد د واده درې کاله وروسته د دوی لور وزيرېده.چې سلطان جهان نوم يې ورته وکړو.هغه وخت شاه جهان د شلو کالو وه.مور يې د ٤٠ او انا قدسيه بېګم يې د ٥٨ کالو وه.يو کال وروسته به دې د بهوپال دنوابې په توګه رسمي واک ترلاسه کاوۀ.خو سکندر بېګم غوښتل چې په خپله د واک په ګدۍ ناسته ووسي.هغې د انګرېزانو استازي ته ليک ورواستاوه.
د هغې دليل دا وو چې سکندر بېګم د پنځلسو مياشتو وه چې د هغې پلار ووژل شو.او ددې تر ځوانۍ يې مور واکمنه وه.بيا دا واده شوه نو خاوند يې نواب شو.او اوس چې دې په غدر کې خپل صلاحيتونه انګرېزانو ته ښودل نو واک ددې پر ځاې د هغې لور ته سپارل کېږي.چې تر اوسه د سياست اوواکمنۍتجربه هم نلري. په دې خبره برتانويان په مشکل کې بند شو.يوې خوا ته د سکندربېګم قوي شخصيت او د هغې د انتظام ښه والی وو او بل لوري د دوی خپل تړون او شرايط وو چې شاه جهان ته د مکمل اختيارات په ورکولو يې د ښځې پاچهي منلي وه.هغوی سکندر ته د نوابې د سرپرستی لپاره ټول عمري اختيار ورکاوه.خو دې ورسره نه منل اوو پر دې به يې ټينګارکوو چې دا به ټول عمري نوابه وي.
د انګرېزانو استازي رچمنډ شېکسپيېر بهوپال ته ورغلو او له شاه جهان بېګم سره يې يوازې د ليدلو غوښتنه وکړه. په دې غونډه کې شاه جهان هغې ته خپله فيصله واوروله.هغه دا چې د خپلې مور د نوابۍ لپاره په خپله خوښه له واکه لاس اخلي. پدې فېصله د انګرېزانو ستونزه حل شوه.دا فيصله انګرېزانو په ۱۸٦۰ کې په يووه رسمي دربار کې اعلان کړه.او د لومړي ځل لپاره يوه مسلمانه ښځه سکندربېګم د بهوپال واکمنه او د هغې لور شاهجهان بېګم يې ځاې ناستې شوه.
له دې اعلان سره سکندربېګم سمدستي يو څه آرامه شوه. په بهوپال کې اوس د هغې پښې ټينګې شوې.د دښمنانو لخوا هغه خطر چې هروخت به ورسره وو کم شو.اوس هغې کولای شو چې له بهوپاله بهر ووزي.او د يو څه وخت لپاره اداري کارونه خپلې لور ته پرېږدي.د باقي محمد په موجودګۍ د پوځ لخوا هم هغه بې غمه وه.هم دا حالات وو چې هغې د حج لپاره ملا وتړله.

په ۱۸٦۳ کال د نومبر په میاشت کې سکندربېگم له خپلې مور قدسیې بېگم او ماما مویز فوجدار سره یوځای د حج لپاره مکې ته روانه شوه.دا سفر په دې لحاظ تاریخي دی چې تر دې وړاندې د هندوستان یو واکمن هم چې ښځې او نارینه دې دواړه پکې شامل وي ،حج ته نه ووتللي.له هغې سره ۱۵۰۰ کسان مله وو.دا سفر لومړی په سړک بیا په اورگاډي او بیا په دریو سمندري بېړیو ترسره شو.ددې لپاره په میاشتو میاشتو تیارئ شوې وې. په لویو سردارانو کې د هغې دیوان مولوي جمال الدین ،د پوځ قومندان یو شمېر وزیران ،جاگیرداران،ډاکټران،نرسانې،ساتندویان،خانسامې(ډوډئ پخوونکي)،نایان،دوبیان،پیاده ،سایین خدمتگارې، پیاده او قاصدان او بې شمېره نور خدمتکونکي شامل وو.دوی د کاروان په شکل د سړک له لارې په پیلانو او آسونو 'سهاره مهارگام ' ته ورسېدل.هلته په اورگاډي کې ممبئ ته ولاړل.او په ۱۸٦٤ م کال د جنورئ پر شپږمه نېټه د سمندر له لارې جدې ته روان شولو.یوه بېړئ دخاني او دوه بادباني وې.۲۰ وورځې وروسته دوی جدې ته ورسېدل.خو دوی د سفر له مشکلاتو او ستونزو ډک وو.

جدې ته په رسېدو د ترکیې یوه والي (گورنر) او د مکې شریفې شیخ عبدالله بن محمد ابن عاون دوی ته د توپو په ډزو سره رسمي هرکلی وکړو.خو د دوی د دومره لویې ډلې راتلل او ځایول گران کار وو. په بندر کې د سکندر بیگم د قیمتي سامانونو د تلاشي په پلمه د هغې د لرگي یوه پېټئ ماته کړی شوه او له هغې څخه کالي او گاڼې غلا شوې .د هغې په قیمتي سامان د مالیې غوښتنه وشوه.د سکندر بیگم د اوسېدو لپاره چې کوم کور ټاکل شوی کله چې دا هغه ته ور روانه شوه نو ورته خبر ورکړل شو چې د مصر یو شهزاده راروان دی نو ځکه دا په هغه کې نشي ایسارېدای. سکندر بیگم خپل ځان ته د استوگنې بل بندوبست وکړو.وروسته مالومه شوه چې د مصر شهزاده هیڅ رانغلو.

له جدې نه مکې ته سفر هم له خطره ډک وو.له کاروان سره د عثماني سلطنت یو استازی سلېمان بېگ او د مکې د شریف ورور مله وو.چې ورسره عرب او ترک محافظان وو او د کاروان بدرگه یې کوله.سکندر بېگم سره په خپله د بهوپال ساتندویان هم وو. په دې سیمه کې د بهوپال د واکمنانو د شته منئ او سخاوت کیسې لاا پخوا مشهورې وې،په تېره بیا قدسییه بېگم چې د خپل گاډي څخه به یې روپئ بهر ته غورزولې او ددې په

نتیجه کې به د سوالګرو هم پر دوی راټول شول. ددغسې خیرات په کولو سره سکندر بېګم ځو ځلي خپله مور وترټله.خو هغې به نه منل.د عربستان د دښتو بدو قبایلو ته هم د دوی د شتمنۍ خبرونه رسېدلي وو او ځو واري په دې قافله حمله وشوه خو څه خاص تاوان یې ونکړو.
یوه شپه د قدسیې بېګم او ښ ځینو بدوګانو په مخه کړو او نژدې دا تېښتول شوې وه چې ددې په شور زوږ د بهوپال محافظانو ورپسې خپل آسونه وزغلول او د یوې لنډې جګړې وروسته یې دا وژغورله.مکې ته په رسېدود شریف لخوا د هرکلي په توګه د بهوپال حاجیانو ته پنځوس ډوله خواړه د ورځې درې ځلي ورواستول شول.سکندر او قدسیې دواړو دا ډوډۍ ونه خوړه. په عربي نړۍ کې د چا ډوډۍ نه خوړل د هغه سپکاوی ګڼل کېږي.د مکې د والي غوږ.ته دا خبره وورسېده او په دویم ورځ شل ترک پوځیان د سکندر بېګم د کور پخلنځي ته ورننوتل او لوښي لرګي یې ورمات کړل.مولوي جمال الدین یې ووهلو او ګواښ یې وکړو چې دوی به هغه چا ته سزا وررکوي چې د شریف یا دوالي سپکاوی وکړي.سکندر بېګم په دې پېښه خپل کوربه ته د احتجاج یو لیک ورواستاوه چې پکې یې لیکلي وو هغه د یوه مسلمان سلطنت دواکمنې او د یوې مسلمانې ښځې په توګه چې حج ته راغلې ده د داسې چلند تمه یې نه لرله.شریف د روغې جوړې لپاره بیا د پنځوسو خوړو خوانچې ورواستولې.او سکندر بېګم زړه نا زړه دا ډوډۍ په خپله هم وخوړله او د خپلې ډلې په نورو کسانو یې هم وخوړله.خو ورسره یې دا خبره هم په خپلو یاداښتونو کې لیکلې چې ډوډۍ خوندوره نه وه او یخه وه.
پدې کارسره د دواړو ډلو ترمنځ روغه وشوه ،شریف هغې ته بلنه ورکړه چې دده په ماڼۍ کې دده د کورنۍ له ښځو سره ووینې.
سکندر بېګم هم داسې وکړل او ددې لیدنې حال یې ټکي په ټکي لیکلی دی.
د هغې له یاداښتونو نه مالومېږي چې په عربستان کې د هغې یوه خبره هیڅ خوښه نشوه.هغه دا چې ښځې یو مېړه پرېږدي او بل کوي.د یوه ښځې چې به له خاونده زړه تور شو نو والي ته به یې خواست وکړو چې دا خلع اخلي .والي به دا ومنل ،ښځې به یو بل واده وکړو داسې به یوې ښځې درې څلور او ان پنځه مېړونه کړي او پرې ایښي وو. پر یوه بله خبره چې د هغې اعتراض وو هغه په خپله د خانه کعبه او د مکې د ښاربد انتظامي وه.ښار له ګداګرو او له هغو خلکو ډک وو چې د هند له لویې وچې

ورغلي وو. په دوی کې معیوب،شل شوټ،غله او داسې کسان شامل وو چې په خپلو ملکونو کې يې ځای نه لرلی.
سکندربېگم د حج اداکولو وروسته بېرته بهوپال ته ورسېده.دې ټول سفر یوولس میاشتې واخیستې.او ددې په غېرموجودگي کې ددې لور شاه جهان بېگم  د بهوپال چارې پر مخ بیولې.

دا د ۱۸۵٤ کال وو او په بهوپال کې د سکندر بېگم لخوا د عالمانو او د دیني استادانو ډېر هرکلی کېدو.د هندوستان له گوټ گوت نه به خلک هلته د کارروزگار موندلو لپاره ورتلل.هغه وخت د برېلي یو ۱۷ کلن ځوان سید صدیق حسن بهوپال ته کډه وکړه.دده پلار په عقیده شییعه وو.خو یو وخت یې اعلان کړی وو چې دی له شییعه مسلکه سني عقیدې ته اوښتی دی. همدا وو کله چې صدیق حسن د پینځو کلونو په عمر کې یتیم شو نو د خپل پلار له وراثته محروم کړی شو.
بیا دده کونډې مور صدیق ډېرپه سختو او خوارو رالوی کړ.هغه د عربي او فارسي ژبې له زدکړې سره د قرآن او حد یث علم هم حاصل کړو.دی چې د روزگار موندلو لپاره بهوپال ته ورسېدوو نو هلته یې په لومړي سر کې د خوشبوی (عطر) په خرڅولو لاس پورې کړو.له دې سره سره به هغه د جمعې ورځ په یوه یا بل جومات کې خطبه هم ورکوله. په خطبه کې به یې د حنفي عقیدې پر ضد خبرې کولې او ډېر ژر خلکو د وهابي ټاپه ورباندې ولگوله.دی د سکندر بیگم لخوا په ۱۸۵۷ کال کې له بهوپاله وشړل شو.عامه خبره دا کېده چې ده له یوه مولوي سره مخالفت پیدا کړی وو خوپه نوابې کورنۍ کې ویل کېده چې سکندر بېگم ډېر ژر په دې پوه شوه چې صدیق حسن ښه ارادې نه لري.او په بهوپال کې مذهبي شر راپورته کوي.
صدیق حسن له بهوپاله د وتو وروسته د پښتنو یوه بل ریاست ټونک ته مخه کړه.خو ډېر ژر د ۱۸۵۷ کال د می غدر یا د خپلواکی پاڅون پیل شو.او ویې لیدل چې هلته د انگرېزانو پر ضد د خلکو د راپورته کېدو څه امکان نه وو نودی قنوج ته ولاړو.دده مور او خور هغه وخت په قنوج کې اوسېدل.د غدر په دې کال او ورسته هم صدیق حسن کار روزگار نشو موندلی.نو یو واري بیا بهوپال ته ولاړو او دا ځلي یې مولوي جمال الدین ولیدو چي د سکندر بېگم د لور شاه جهان استاد هم وو.مولوي نوابې ته د هغه سفارش وکړو او په خپل دفتر کې یې د منشي کار ورته وسپارلو.سکندر بېگم هغه ته د بهوپال د تاریخ لیکلو دنده ورکړه او ددې کار لپاره یې ورته پیسې هم ورکړې.صدیق حسن ډېر ژر خپله مور او خور هم بهوپال ته راوستل.او یو کال وروسته په ۱۸٦۰ م کې مولوي جمال الدین خپله مشره لور چې کونډه وه او اولادونه یې لرل او له صدیق حسن

نه ۱۱ یولس کاله مشره وه ورته په نکاح کړه. پدې واده صدیق حسن د خپل راتلونکي او له معاش نه بې غمه شو.دده تګ راتګ د سکندر بېګم کورنۍ ته هم زیات شو.او د خپل خسر له برکته یې ډېر ژر ژر د اداري کارونو لوړو عهدو ته ځان ورسولو.دده تر ټولو لویه کامیابي د شاه جهان بېګم استاد مقررېدل وو.دشاهجهان لور سلطان جهان اوس د شپږو کالو وه.سکندر بېګم چې حج ته تللې وه نو په ټول سفر کې یې د بېلا بېلو ځایونو حال په لیک کې خپلې لمسۍ ته ولیکلو.شپږ کلنې سلطان جهان به د خپلې نیا (انا) لیکونو ته ځوابونه هم لیکل.دا د سکندر بېګم تر سیوري او روزنې له پروګرام سره سم تربییه کېده.
د هندوستان د ډېرو مسلمانو کورنیو دا دود وو او په ځینو ځایونو کې دا دود اوس هم ساتل شوی دی چې ښځې د خپلې لور یا د زوی مشر اولاد لکه دخپل اولاد غوندې لویوي. په هغو ورځو کې چې جینکۍ به ډېر ې وړې ودېدې.نو په دې لاره به هغو ی د ماشوم د سمبالولو او د هغه له ساتنې بې غمه وی.سکندر بېګم د شاه جهان بېګم روزنه په خپله کوله.شاهجهان بېګم د خپلې مور او نیا په پرتله ډېر شاعرانه طبیعت لرلو.د هغې کالي پټري خوښېدل.د ژوند ښایسته شیان به یې ستاییل.د هغې خاوند باقي محمد له هغې په عمر کې ډېر لوی وو اودا هم د هغې د نا ارامۍ یو سبب وو.بلخوا سکندربېګم په خپل ژوند کې د سخت ډیسیپلین خاونده وه.او له حج نه چې بېرته راغله نو د خپلې لمسۍ سلطان جهان د راتلونکي په اړه یې فکر شروع کړی.
په ۱۸٦۷ م کې امرالدوله (باقي محمد)د حج لپاره ولاړ خو کله چې بېرته د مصر له لارې په بېړۍ کې راتلو نو ناروغه شو او لږ ورځې وروسته مړ شو.د هغه مرګ د شاهجهان لپاره دومره داندېښنې او خپګان وړ نه وو څومره چې د سکندر بېګم لپاره وو.شاهجهان بېګم په ځوانه ځوانۍ کونډه شوه او سکندربېګم ته یو واري بیا په کورنۍ کې دننه سازشونه جوړ شول.سکندربېګم د خپلې لور شاهجهان بېګم له کړو وړو دومره خوشاله نه وه.هغه اوس د اوویشتو (۲۷) کالو وه.۳۳ کلن صدیق حسن د هغې استاد وو چې عربي او فارسي لوړې زدکړې یې ترې کولې.دوی د سبق نه علاوه په شعر او ادبیاتو هم خبرې کولې.او په نوابې کورنۍ کې داسې ګنګوسې خورې شوې چې دوی د درس پر وخت نوکرانې له هغه ځایه وباسي. د کورنۍ د ملازمانو لخوادا خبره هم وشوه چې یوځلې سکندربېګم

دا ښه ووهله او په کوټه کې یې بنده کړله.سکندر بېگم په دې هم ښه پوهېده که د هغې لور ښه واکمنه نه شوه نو لمسۍ به یې بې واکه شي.د دوست محمد په کورنۍ کې د هغې ورېرونو او نورو ځوانانو اوس هم د بهوپال واکمني غوښتله.او تل به یې سازشونه کول.د دوی د خطر د مخنیوي لپاره سکندر بېگم له خاندانه بهر په یوسفزو او پیروزخېلو کې د یوه مناسب هلک لټون پیل کړی و.او په دې لړ کې هغې د لوهاري د سردارجلال خان کورنۍ ته خپل یو وزیر ورواستاوۀ.دا هغه کورنۍ وه چې دوست محمد پکې پناه اخیستې وه. په ۱۸٦٦م کې د آګرې په دربار کې له ګډون وروسته سکندربېگم د اورکزو ځینې ځوانان اګرې ته راوبلل چې په خپله یې وویني. په دوی کې یوه کونډه محمدي بېگم له خپل ۱۷ کلن زوی احمد علي خان سره ورغله. د احمد علي ښه تربیې پر سکندربېگم اغېزوکړو .
محمدي بېگم له خپلو دوو اولادونو احمد علي او چندا بي سره بهوپال ته کډه وکړه.د هغې په کورنۍ کې داسې څوک سړی نه وو چې د هغې واکمنۍ ته یې خطر رامنځ ته کړی وای.له اګرې نه بېرته د راتلو سره سکندربېگم ناروغه شوه او دوه کاله وروسته د ٥٠ کلونو په عمر کې مړه شوه.دا تر۲۱ کالو پورې د بهوپال نوابه وه.
ددې د مړینې اوولس ورځې وروسته په ۱۸٦۸ م کال کې شاهجهان بېگم په دویم ځل د بهوپال نوابه اعلان شوه. په دې وخت کې دا اعلان هم وشو چې لس کلنه سلطان جهان بېگم به ددې ځای ناستې وي.شاهجهان د ۳۰ کالو وه ،ددې خبرې امکان وو که هغې دویم واده وکړو اوو زوی یې وشو نو د انګرېز او د اسلامي قانون تر مخې به د هغې ځای ناستی وي.خو سکندربېگم د مرګ نه وړاندې له انګرېزانو دا ژمنه اخیستې وه چې د هغې لمسۍ به راتلونکې حکمرانه وي.دویمه دا چې سکندربېگم غوښتل چې د بهوپال واک دې په اورکزو کې پاتې وي.همدا وجه وه چې هغې د سلطان جهان لپاره یواورکزی پښتون غوره کړی و.
کله چې شاهجهان نوابه شوه نو هغې صدیق حسن خپل مشر منشي اعلان کړو.او په دې توګه به دوی دواړو یو بل سره لیدل.شاهجهان اوس ده ته د صدیق حسن پر ځای د صدیق حسن حان نوم اخیستو.مانا یې دا وه چې دی د یوه پښتون په توګه وروښایي. اوس د هغې پر سر د سکندربېگم غوندې مور هم نه وه چې ددې کړه وړه وڅاري.دا څرګنده وه چې د شاهجهان

بېګم له صديق حسن سره مينه وه او خپله  صديق حسن د هغې احساسات او ذهن دواړه په لاس کې نيولي  وو.
د خپلې نوابۍ په لومړيو څلور کالو کې شاه جهان د حکومت په  کاروونو کې ښه په لېوالتيا برخه اخيسته.د ماليو انتظام يې ښه کړو د پوليس او پوستې سيستم يې ښه پر مخ يو وړ.د سپرو پوځيانو معاش يې زيات کړی.
په خپله به د بهوپال لرې پرتو سيمو ته ورتله او د خلکو له حاله به يې ځان خبراوه.ددې په حکومت کې د بهوپال خاوره کچ شوه او سرشمېرنه يې وکړه.چې له دې حسابه هلته  ٧٢٤٠٠٠  (اوه لکه څلورويشت  زره)خلک اوسېدل.اوو داپه داسې حال کې وه چې هلته د څو کلونو په سوکړی او يوواري د طاعون وبا ډېر خلک مړه  کړي اوبې شمېره نورو  له دې ځايه کډې کړې وې .
د وچکالۍ له کبله د مزکي حاصل کم شوی وو.همدا وجه وه چې په بهوپال کې د اپيمو کر ته اجازه ورکړل شوه.خو ورو ورو ددې نوابۍکلتور هم په بدلېدو شو.شاه جهان په خپله شاعره وه ،آرټ ،ادبيات او موسيقي يې خوښېدله.هغه دربار چې ورته يواځې عالمان او مذهبې خلک تلل.اوس د شاعرانو،ليکوالانو،انځورګرو او سندرغاړو تګ راتګ پکې زيات شو.شاه جهان به د دوی په تخليق انعامونه او مزکې ورله ورکولې.
د شاه جهان لور د لسو کالو د وړوکي عمر نه خپله روزنامچه ليکله.او يو ځای ليکي چې د نيا(سکندربېګم)د مړينې نه وروسته چې يې له خپلې مور سره ژوند پيل کړو نو ددې ورځنۍ مهال وېش چې پخوا ټاکل شوی وو اوس نيمايي ته راولوېدو.
د سکندر بېګم په  وخت   کې د سلطان جهان لپاره  دا مهال وېش ټاکل شوی وو.

سهار له پينځو نه تر شپږوبجو_____       ازاده هوا کې ورزش
اتو نه تر لسو بجو         ____________ دقرآن زدکړه
دولس نه تر يوې بجې __________   خطاطي او ليکنه
 دريو نه تر څلورو        _____________ انګرېزي درسونه
څلورو نه پينځو بجو پورې ________ حساب
پينځو نه تر شپږو بجو __________ پښتو او د تورې تربيه د آس سپرلی

خو شاهجهان بېگم دا مهال وېش بدل کړو.
سهار له اوو بجو نه تر نهو _____ دقرآن درس
د غرمې له دوو نه تر څلورو ______ د سرکاري اسنادو مطالعه ورپسې
ټول وخت د تفریح لپاره

سلطان جهان له وړوکي عمره لیدل چې صدیق حسن ددې پر کونډې مور څومره اغېز لري.او دا یې هم احساس کړی وو چې د هغه له کبله یې له خدلې مور سره واټن او لرېوالی پیدا شوی وو.د دوس په سرکاري استوګنځي کې د شعروشاعرئ او موسیقي په محفلونو کې به صدیق حسن هرو مرو موجود وو.
په ۱۸۷۱م کال کې چې سلطان جهان د دېارلس کالو وه هغې د قرآن کریم زدکړه پای ته ورسوله او له رواج سره سم شاه جهان بېګم د خپلې لور لپاره د نشرح محفل جوړکړو .او تر څلوېښتو ورځو پورې په بهوپال کې ددې خوشالي ولمانځل شوه.
صدیق حسن له هغې ورځې راهیسې چې شاه جهان په رسمي توګه نوابه شوه.قدرت ته د رسېدو لپاره یې لاس وپښې وهلې.دده لومړی کار دا وو چې خپل خسر مولوي جمال الدین یې له حکومتي کارونو لرې کړو. په شاه جهان بېګم یې دومره اغېز پېدا کړو چې ځان یې مدارالمهام (مشر وزیر)کړو.عجیبه خبره دا وه چې د صدیق حسن مېرمنې ذکیه بېګم ددې هر څه ملاتړ کاوۀ.هغه اوس پینځوس کلنه وه او خپل خاوند یې دې ته هڅاوه چې له شاه جهان بېګم سره واده وکړي.
صدیق حسن په بهوپال کې د انګرېزانو استازي مېجر اېډورډ تامسن ته یو پټ خبر ور واستولو چې شاه جهان بېګم سره په جنسي اړیکو کې هغه حامله کړېده.او هغه یې په دې قانع کړو که شاه جهان بېګم ډېر ژر له ده سره نکاح ونه تړي نو دا به د بهوپال لپاره یوه لویه بدنامي وي.انګرېزانو دا خبره ومنله او د دوی استاځي چې له شاه جهان بېګم سره ولیدل نو دا خبره یې ورته وکړه چې دهغې لپاره به دا بهتره وي چې بل واده وکړي.ځکه چې اسلام کې د ښځې لپاره د دویم واده اجازه شته.
شاه جهان په خپلو یاداشتونو کې ډېر په معصومانه ټکیو کې لیکي 'چې هغې د انګرېزانو لخوا یو لیک تر لاسه کړو چې ورته پکې د واده مشوره

ورکړل شوې وه. دې خپلو خپلوانو کې وکتل چې څوک دومره علم او شرافت لري چې له دې سره د واده کولو وړ وي.نو دا څرګنده شوه چې دا محترم (صدیق حسن) له تېرو لسوکلونو راهیسې د بهوپال خدمت کوي او زما د مورسکندربېګم منشي هم پاتې شوی وو او په ټول بهوپال کې دده غوندې علم له هیچا سره نه وو.نو ما د قرآن له تعلیماتو سره سم او د انګرېزانوپه مشوره دا فیصله وکړه چې زه دویم واده وکړم'په دې به هغه شېطاني خبرې هم ختمې شي چې زه ولې له یوه پردي سړي سره یوازې یمه.اوودا خو ښکاره ده چې زه به د حکومت د کارونو لپاره له خپل مشر وزیر سره یواځې کښېنم. په ۱۸۷۱ کې شاه جهان بېګم له صدیق حسن سره واده وکړو .او صدیق حسن په رسمي توګه د شاه جهان بېګم بې اختیاره سرپرست وټاکل شو.قدسییه بېګم لا ژوندۍ وه او اویا کلنه وه.هغې چې دا خبر واورېدو نو ډېره سخته خپه شوه.هغې لا پخوا د شا ه جهان او د صدیق حسن د اړیکو مخالیفت کاوه.د هغې کرکه او قهر لا زیات شو.صدیق دا خبره یاد وساتله او د نیا او لمسۍ تر منځ یې فاصله زیاته کړه.

له واده سمدستي وروسته ده پر شاه جهان فشار راوړ چې د نوابۍ لقب دې هم ورته ورکړل شي او انګرېزانو ورته نواب والاجاه امیرالملک خطاب ورکړو.شاهجهان بېګم په دې دومره خوشاله شوه چې دی یې په یوه هاتي سپور کړ اوو د جلوس په شکل یې د بهوپال لارو ته وویستلو.د بهوپال خلکو له هغه دومره نفرت کولو چې په کور کېناستل او هیچا یې هرکلی ونـکړو.

صدیق حسن په دې خبره ناراضه شو او شاه جهان بېګم ته یې وویل چې دا د هغې د خپلوانو او د بروکټ پښتنویو سازش وو. هغه شاه جهان بېګم چې د شعر وشاعری او د موسیقي په محفلونو کې به کېنستله.او هغه صدیق حسن چې په دې محفلونو کې یې خپله هم ګډون کولی او خوند به یې ترې اخیستی ،اوس د دواړود اسلام د سپېڅلي دین په درناوي د پردې اوو ستر فیصله وکړه.یاني دا چې شاه جهان بېګم اوس له پردې شاته حکومت کوو.او د خلکو مخې ته به نه راتله.تر واده له مخه چې صدیق حسن څه ډول ژوند کاوه له واده وروسته ورته هر څه عیب ښکاره کېدل د پوښتنې وړوو.شاه جهان بېګم په دې کار له عملي پلوه د بهوپال واک صدیق حسن ته وسپارلو.او د کوم واک اختیار لپاره چې د هغې مور اونیانیمه پېړۍ وړاندې مبارزه کړې وه هغه یې له لاسه ورکړلو.د صدیق حسن په لمسون

شاه جهان له خپلې نيا قدسييه بېگم سره هم اختلاف پېدا کړلو،تر دې حده چې هغه به يې خپل کور ته نه رابلله.او کله چې د سلطان جهان واده وو نو هغې ته يې اجازه ورنکړه چې خپلې لمسۍ ته سوغات راوړي.

تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د بهوپال اورکزي پښتانه د صديق حسن له غروره او د هغه  له فيصلو په عذاب وو،خو د هغه د موجوديت تر ټولو لوی گوزار د سلطان جهان  ژوند وو چې له مور سره يې اړيکي د ورځې په تېرېدو سره خرابېدل.

# اتم باب
# مور لور او سیاست

د۱۸۷۱م کال د بهوپال خلکو د سلطان جهان د نشرح د جشن په توګه یاد وساتلو خو دا کال د شاه جهان د دویم واده کال هم وو.سلطان جهان په لومړي ځل د صدیق حسن له منفي شخصیت سره مخامخ شوه .دا له وړوکوالي راهیسې د جلال اباد یوه اورکزي احمدعلي ته ناسته وه.او هغه یې د خپل ژوند ملګرى منلى وو.له ده سره یې د ځوانۍ مینه هم پیدا شوې وه خو اوس صدیق حسن د هغې د پلندر په رول کې ورباندې فشار راوړو چې دا کویژدنه دې ختمه کړي او دده له ځوى نورالحسن سره واده وکړي چې د لومړۍ مېرمنې نه یې وو.شاه جهان به د صدیق هره خبره منله او په دې معامله کې یې هم څه اعتراض ونکړو.خو شاه جهان سکوټ انکار وکړو.

شا ه جهان انګرېزانو ته ولیکل چې دوى څه مشوره ورکوي .هغوى هیڅ اعتراض ونکړو.بیا دې له خپلو سردارانو او نورو امیرانو سره مشوره وکړه دوى هم په دې واده ورسره رضا شولو.خو صدیق حسن د دوى واده تر یوه کاله پورې وځنډولو. په دویم ګام کې ده احمد علي له شاهي مانۍ نه وشړلو او دى له خپلې مور سره په یوه بل سرکاري کور کې مېشت شو.ده هڅه کوله چې د احمدعلي کمزوري پیدا کړي یا دى مجبور کړي چې ورته نافرماني وکړي خو احمد علي هوښیار ځوان وو. پدې پوهېدو چې یوه معمولي خبره به د واده د ختمېدو سوب وګرځي.اخر په ۱۸۷۵ م کال کې احمد علي د احتشام الملک او د سلطان الدوله له القابو سره سلطان جهان په ډولۍ کې خپل کورته بوتله.

کله چې شاه جهان بېګم له پردې شاته پټه شوه نو په رسمي دربارونو کې یې د بهوپال د نوابۍ په توګه له ګډون نه ډډه کوله.او د عذر په توګه یې انګرېزانو ته ولیکل چې ددې استازیتوب به یې مېړه صدیق حسن کوي.

د انګرېزانو لخوا په ۱۸۵۷ م کې د خپلواکۍ له پاڅون څخه د بریالیتوب وروسته په

بېلا بېلو صوبو کې دربار رابلل کېدو.دې دربارونو که یوې خوا ته نوابانو او راجه ګانو ته موقع ورکوله چې له یوه بل سره ووینې .نو انګرېزانو به

بلخوا د دوی د سیمو په باب اورېدل چې د دوی نوې تګلاره څنګه پلي کوي. په دودیزه توګه نوابانو او راجه ګانو د عېش او آرام ژوند کولو او په دې دربار کې به دوی خپل نوکران او خدمتګاران هم ځان سره وړل.د استوګنې لپاره به دوی خېمې لګولې او لکه د یوې لويې مېلې غوندې حالت به جوړ شو. په رسمي غونډو کې به د هرچا ځای مالوم وو.د راجه ګانو او نوابانو ځای ناستي به هم په کې شامیلېدل او د دوی ځای به مالوم وو.د دوی د مېرمنو ځای به تل د غونډو په وروستیو لیکو کې وو. په ۱۸۷۷ م کال کې انګرېزانو شاه جهان ته د یو اعزاز ورکولو اعلان وکړو.نو هغې د صدیق حسن نوم وړاندې کړو چې د هغې پر ځای به دی دا اعزاز ترلاسه کړي.خو انګرېزان په دې پوهېدل چې صدیق د واک ترلاسه کولو په لاره روان دی.دوی انکار وکړو او ورته یې وویل چې په خپله به دربار او نورو سرکاري سفرونو ته ورځي .
له واده وروسته سلطان جهان په شپږو کلونو کې پینځه ماشومان وزېږول. لومړۍ لور یې بلقیس جهان نومېده له دې وروسته په ۱۸۷٦ م کې ددې زوی محمد نصرالله خان وزېږدی.چې د څلورو واکمنو ښځو نه پس لومړی هلک وو.ورپسې عبیدالله خان او یوه بله لور آصف جهان پېدا شوه.څوارلس کاله وروسته ددې زوی حمیدالله خان په ۱۸۹٤ کې وزېږېدو چې د بهوپال راتلونکی نواب وو.
په دې کلونو کې چې سلطان جهان کال پر کال اولاد زېږولو.د شاه جهان بېګم او د صدیق اولاد نه کېدو.دوی د اولاد لپاره ډاکټرانو،حکیمانو،پیرانو او عالمانو ته ولاړل چې پکې هندوان او مسلمانان دواړه شامل وو خو فایده یې ونکړه. په دې وخت کې د بهوپال ټولنه هم دوو برخو وویشل شوه یو هغه وهابي او مزکه وال وو چې په صدیق حسن راټول وو دویم هغه پښتانه چې د باقي محمد د کورنۍ او د جلال ابادنه له احمدعلي سره ورغلې وه.د سلطان جهان تر ټولو لوی ملاتړد هغې د مور نیا قدسییه بېګم وه.
د مور او لور ترمینځ رابطه به د سلطان جهان د مشر لور بلقیس جهان له لارې کېده چې په ورځ کې به یوځلي د خپلې نیا سلام ته ورتله.
صدیق حسن د حکومتي کارونو لپاره ټول خلک په خپله لګول.د پولیس مشر،مشروزیرمیرمنشي او دغسې نورې مهمې چوکۍ یې د خپلې خوښې خلکو ته ورکړې.

په ۱۸۷۷ م کال کې صدیق حسن یو دربار راوبللواوپه خپله یوه اوږده وینا کې یې د سکندربېګم د وخت او د هغې پر حکومت یې نیوکې وکړي.اوسنۍ دور یې وستاییلو او د باقي محمد د دوو زامنو لطیف محمدخان او مجید محمدخان په اړه یې وویل چې د دوی له احمدعلي سره پټې رابطې دي او سازشونه کوي.

سلطان جهان او احمدعلي هغه ګړۍ هلته ناست وو خو هیڅ غږ یې ونکړ.خو هغې دا هر څه په خپلو یاداشتونو کې ولیکل.

په ۱۸۸۱کې د هندوستان ټول واکمن کلکتې ته په یوه دربار کې مېلمانه شول.شاهجهان له خپلې ځای ناستې سلطان جهان سره وربلل شوې وه.شاه جهان د صدیق حسن په بدرګه هلته ولاړه.د انګرېزانو لخوا د هر یوه نواب او راجه لپاره ببله چوکۍ او دسلطان ځای ناستو لپاره یې ببلې چوکۍ وې.سلطان جهان لیکي چې کله هغې له وایسرای سره سترې مه شي کول نو صدیق حسن ولاړ و او هغې ته ټاکل شوې چوکۍ باندې کېناستلو. په دې وخت کې د انګرېزانو د مراسمو مشر راوړاندې شو .له هغه یې غوښتنه وکړه چې دا ځای دې پرېږدي. په دې خبره صدیق حسن سخت په قهر شو او انګرېزانو ورته په سخته وویل چې دی هلته نشي کېنستلی.دی مجبوره شو چې هغه ځای سلطان جهان ته پرېږدي.

د ورځو په تېرېدو سره دقدرت لپاره د صدیق حسن حرص او د سلطان جهان لپاره مشکلات زیاتېدل.

په ۱۸۸۱م کې قدسییه بېګم د ۸۲ کلونو په عمر کې مړه شوه.صدیق حسن یوازې د بهوپال واکمني نه غوښتله هغه د وهابي عقیدې تبلیغ هم کاوه او د انګرېزانو پر ضد یې د رسالو او کتابونو د چاپوولو اجازه ورکوله.

د بهوپال له خزانې به یې پیسې اخیستې او علماو ته به یې ورکولې.چې په جوماتونو کې وعظونه وکړي.هغه په سوډان کې له مهدي سره اړیکې جوړکړي وو او له دې پرته یې په ترکیې ،عربستان او برما کې له انګرېزمخالیفو ځواکونو سره رابطې وې.

انګرېزان په دې خبر وو او شاه جهان بېګم ته یې څو وواري وویلي وو چې دده فعالیتونو ته پام وکړي.هغې به ورته په ځواب کې وویل چې ددې سرپرست د حکومت په معاملو کې هیڅ لاس نلري.

د انګرېز استازي سر لیپل ګریفین د صدیق حسن په فعالیتونو دومره نا ارامه وو چې خپل حکومت ته یې دده پر ضد د ګام اوچتولو غږ وکړو.خو د هند واېسرای لارډ ډېفرین د بهوپال نوابه کورنۍ خپه کول نه غوښتل.
په ۱۸۸۵م کال کې د برتانیا حکومت په بهوپال کې د استخباراتو پوه داسې شبکه یا جال جوړکړی و چې د صدیق حسن د هرې ګړۍ حال به یې مالومولو.نوموړي د انګرېزانو د تهدید نه وروسته په پټه خپل کاروونه سرته رسول.
په ۱۸۸۵م کال کې سر لیپل ګریفین بهوپال ته ولاړو یو دربار یې راوغوښتو چې پکې د صدیق موجودیت لازم وو ،دبهوپال په خلکو کې ګنګوسې وې چې دی به د صدیق حسن په اړه پوه مهمه فېصله کوي،د شاه جهان بېګم پښتنو امیرانو که څه هم له صدیق حسن څخه بدوړلو خو هغې یې ته ډاډ ورکړی وو که انګرېزانو په دربار کې د بېګم نواب یا د هغې د سرپرست سپکاوی وکړو نو دی به ژوندی له بهوپاله ونه وزي.
ښاغلي ګریفین په خپله وینا کې د شاه جهان بېګم د اصلاحاتو او د هغې د انتظام ستاینه وکړه.نو د دربار خلک آرامه شول.بیا هغه د صدیق حسن د پټو سیاسي فعالیتونو خبره وکړه او دا چې هر څوک د برتانیې د حکومت پر ضد عمل کوي هغه به د امتیاز ټایټل څخه بې برخې وي.نو ځکه د صدیق حسن ټول القابات او امتیازات بېرته ترې اخیستل کیږي.

هغه د خپلې وینا په ورستیو کې د رشوت خورو غندنه وکړه.او د صدیق حسن لخوا ټاکل شوي دوه بدنامه په درغلۍ او فساد تورن افسران یې ونیول او په خپله یې دوی ته په لاسونو کې ولچکې ورواچولې.
شاهجهان بېګم او صدیق حسن په خاموشۍ دا هر څه وزغمل .له دې وروسته تر ټولو مهمه فیصله د انګرېزانو لخوا دا وه چې د صدیق حسن د بدانتظامي له کبله د برتانیا حکومت به په خپله د بهوپال مشر وزیر(cheif minister ) ټاکي .نوابه به په ټولو مراسمو کې د مشرۍ په توګه پاتې وي.خو د حکومت چارې به د مشر وزیر په لاس کې وي.دوی عبدالطیف خان چې د باقي محمدخان زوی وو پر

دې ځای وټاکلو.خو د شاه جهان بېگم لپاره دا د منلو وړ خبره نه وه.هغې د خپلې کورنی ﺉ پښتانه نه غوښتل او آخر عبدالطیف خان څلور میاشتې وروسته له خپلې عهدې استعفاورکړه.
انگرېزان په دې خپه وو خو شاهجهان بېگم ورته وویل چې دا د یوه هندوستاني امر ته سر نشي ټیټولای نو ښه به دا وي چې مشر وزیر دې یو انگرېز وټاکل شي.کله چې انگرېزانو دې ته غاړه کېښوده نو دې سمدستي د کرنل بروک نوم وړاندې کړو.دی په کلکته کې اوسېدو و له صدیق حسن سره یې نژدې اړیکې وو.گریفین پر دې پښه کېښوده او نه یې غوښتل چې صدیق حسن بیا نفوذ ومومي.ا بالاخره د کرنل وارډ په نوم یو تن مشر وزیر ووټاکل شو.دی هغه وخت په شمله کې وو.او کله چې دی د خپلې دندې لپاره ونومول شو نو له بهوپاله د شاه جهان بېگم لخوا یو استازی ورته ولاړو او له ده یې وپوښتل چې آیا مېرمن وارډ به گانې په سوغات کې ومني.وارډ په دې خبره ټکان وخوړو او سمدلاسه یې انکار وکړو.دی پوه شو چې په بهوپال کې بو څه لوبه روانه ده.د وارډ په راتگ د صدیق حسن زور مات شو.هغه له سلطان جهان بېگم سره زړه سوی لاره.او که څه هم د شاه جهان بېگم دی نه خوښېده چې هغه تگلاره ومني ځکه ددې لپارهغې خپله ویلي وو.هغې داسې احساس کولو چې ددې هر څه تر شا یې د لور سلطان جهان لاس دی.
صدیق حسن د شاه جهان بېگم د خاوند کېدو له کبله د انگرېزانو له خوا له سختې سزا پاتې شو.گریفین خپل حکومت ته ویلي وو چې دی دې تورو اوبو ته واستول شي.خو وایسرای یې مرستې ته راغلی و .
شاه جهان بېگم ځان ته ښیله مانۍ جوړه کړې وه چې تاج محل نومېده.او ډېر ژر له صدیق حسن سره دې مانۍ ته کډه شوه.له دې سره د شاه جهان لمسۍ بلقیس بېگم هم وه.چې د هغه وخت د ډېرو مسلمانو کورنیوله دود سره سم خپلې نیا لویوله.بلقیس اوس د ۱۲ کالو وه.او دهغې مور په دې خبرونو وارخطا شوه چې شاه جهان بېگم د صدیق کشر زوی علي حسن چې هغه وخت نولس کلن وو د واده لپاره بلقیس ورته کېنوي.او ډېر ژر یې د کوژدنې اعلان کېدونکی وو.

په دې ورځو شپو کې بلقیس ډېره سخته ناروغه شوه او په نوابې کورنۍ کې داسې گنگوسې شوې چې د صدیق حسن کورنۍ ورباندې څه ټوټکې کړې دي.تر څو میاشتو د هغې علاج کېدو چې بیا وروسته یوڅه روغه شوه نو د خپلې مور لیدو ته ورغله .سلطان جهان د خپلې لور په زېړ مخ او کمزري بدن ډېره وځورېده.او هغه یې په خپل کور کې ایساره کړه.شاه جهان په دې کار ناراضه شوه او په پېل کې بلقیس هم خپه وه.خو وروسته د خپلې مور په احساساتو پوه شوه اوس به هغه هره ورځ د نیا لیدو ته له یوې مانۍ نه بلې ته ورتله. دې سر ه د هغې نارووغي بیرته راوگرځېده .د بلقېس د ژوند هیله چې ختمه شوه نو یوه ورځ سلطان جهان د خپلې مور مانۍ ته ورغله له هغې یې بخښنه وغوښتله او ورته یې و ویل چې د بلقیس لیدو ته دې راشي.خو شاه جهان دومره مروره وه چې د هغې خبره یې ونه منله. خو څو وررځې وررروسته دولس کلنه بلقس مړه شوۀ.د مور اوولور ترمنځ د روغې جوړې یو بل ور وتړل شو.شاه جهان تر پینځو کلونو پورې هڅه کوله چې د صدیق حسن په اړه د انگرېزانو مخالیفه رویه واړوي.او هغه ته خپل امتیازات او القابات بیرته ورواخلي.هغې د یوې پټمنې پښتنې مېرمنې په شان له انگرېزانو سره د خپل خاوند په دفاع کې خبرې اترې کولې.د دپېرنگیانو استازي بدل رابدل شو او دوی په دې غور کاوه چې صدیق حسن ته خپل امتیازات بېرته وکړي،چې د ینې په ناروغۍ اخته شوی وو.او هغه ته تورژېړې (یرقان) ولگېدو. په ۱۸۹۰ کې دا څرگنده شوه چې دی د مرگ غاړې ته نژدې دی.انگرېزانو خپل ډاکټر ورواستاوو خو د هغه کټ ته لا پخوا لس حکیمان او یو هندو جوشي ولاړ وو.څو ورځې وروسته صدیق حسن مړ شو خو شاه جهان بېگم بیا هم هڅه کوله چې د هغه له نامه تهمت لرې کړي.انگرېزان پردې رضا شو او له مرگه وروسته یې صدیق حسن ته د نواب خطاب بېرته وروبخښلو.

پرته له دې چې څوک د صدیق حسن د اغېزو په رڼا کې د شاه جهان قضاوت وکړي.د هغې د دورې کاروونه به په نظر کې ونیسو. په بهوپال کې د اورگاډي د راوستو پلان د سکندربېگم په ژوند کې پېل شوی وو او د پیسو د کمي له کبله څو کاله ډېر ورو کار پرې

رووان وو.قدسيې بېگم له خپلو شخصي پېسو ورته بوجه (بجټ) برابره کړو.د دوی دواړو په ژوند کې د اورگاډي راتگ ونشوو.خو اخر په ۱۸۸٤ م کال کې لومړی اورگاډی بهوپال ته ورداخل شو.شاه جهان بېگم په برتانيا کې د ووکنگ په سيمه کې لومړی جومات جوړ کړوچې په اروپا کې هغه وخت د عبادت لپاره لومړی جومات گڼل کېږي.له دې نه پرته يې په بهوپال کې تاج المساجد جوړ کړو چې د هندوستان تر ټولو لوی جومات گڼل کېږي.ددې دوره ۳۳ کاله وه چې په دې کې هغې د فنون ،علم او د مذهب لپاره ډېر کارونه وکړل.د ښځو د تعليم لپاره يې اداري جوړې کړې.د روغيتا لپاره کلينيکونه اود مسافرو لپاره سرايونه،

هغه هنرمندان چې خلکو به ورته په سپکه سترگه کتل عزت يې ورله ورکړو او د دوی د استوگنې لپاره يې مزکي اوکورونه وورکړل.

د هغې لوی کار په علي گړ کې د مسلمانانو لپاره دلومړي پوهنتو ن جوړېدو ته پيسې ورکول وو.دا په خپله يوه ليکواله او شاعره وه .په اردواو فارسي کې يې ليکنې کولې.او د تاجور او شېرين تخلص يې کارولو.فارسي دېوان يې دېوان شېرين نومېږي.اردو کې مثنوي صديق البيان تاج الکلام او نثر يې تهذيب النسا په نوم چاپ شوي دي.د هغې په وخت په بهوپال کې ارامي وۀ.

په ۱۹۰۱م کې شاه جهان بېگم د خولې په سرطان اخته شوه.هغې له علاجه ډډه وکړه.سلطان جهان د مور د حال په اوورېدو د هغې نه د بخښنې لپاره ورغله.دوی دواړو ديارلس کاله له يوه بل سره خبرې نه وې کړې سلطان جهان ځان سره خپل اوه کلن زوی بوتلو چې شاه جهان هيڅ نه وو ليدلی.شاه جهان د مرگ په بستره پرته وه او خپلو خلکو ته يې پېغام استولی وو "که زما په رعيت کې څوک داسې وي چې په تېرو ۳۳ کلونو کې يې زما له لاسه بې گناه سزاخوړلې وي نو زه دوی ته وايم چې د خدای لپاره دې ما وبخښي".

سلطان جهان د خپلې مور د ليدو حال په خپلو ياداشتونو کې ليکي زه د هغې کټ ته ورنژدې شوم.هغې زه ونه پېژندلم. پوښتنه يې وکړه'ته څوک يې'.زه وېرېدم هيڅ ځواب مې ورنکړو.هغې بيا وپوښتل ما بيا ځواب ورنکړو،دريم ځل چې يې پوښتنه وکړه نو خدمتگارې زما نوم

ورته واخیستلو .هغې د افسوس او قهر په ګډ غږ کې وویل چې "ما پرېږده زما له مړینې وروسته بیا دلته راشه"زه لا بیا هم ورته ولاړه وم چې هغې راته بیا په سختۍ خپله خبره وکړه.زه پوهېدم چې هغه زما په لیدو نا ارامه وه نور طاقت نشو کولای او له هلته نه په اوښکو راوتلمه.

شاه جهان بېګم په ۱۹۰۱ م کال کې مړه شوه.

د خپلې مور له مړينې وروسته او ۳۳ کاله د وار ثې په توګه په سختو کې د ژوند کولو وروسته سلطان جهان په ۱۹۰۱ کې د ۴۳ کلونو په عمر کې نوابه شوه.د مور سره خرابو اړيکو ،په ځوانۍ کې د سازشونو او د دوو لوڼو د مړينې درد يې وليدلو.د هغې د مشرې نازولې لور بلقيس له مرګه لږ وروسته يې دويمه لور آصف جهان هم د دولسو کلونو کې په عمر کې له يوې نامالومې ناروغۍ له امله مړه شوه.
د سلطان جهان بېګم روزنه د خپلې مور سکندربېګم اوو نيا قدسيې بېګم په لاس کې شوې وه.دا په عقيده ټينګه مسلمانه وه او د عېش او عيشرت ژوند يې نه خوښوو.د نوابۍ د واک د ترلاسه کولو وروسته سلطان جهان چې د خزانې حال وليدو نو هلته هيڅ نه وو.د شاه جهان بېګم ددورې اداري فساد هغه وله شتمني زبېښلې وه چې د سلطان جهان نيا په خوارو راټوله کړې وه.نه يواځې ده بلکې ډېر پوروړي هم وو.لکه د يوې مبارزې غوندې هغې خپلې مټې ونغښتلې او پر کار يې پيل وکړو.خپلې شخصي پيسې يې حکومتي خزانې ته ورواړولې چې د کارکونکو تنخواګانې پرې پوره کړي.بيا خپل بااعتماده او ايماانداره کسان يې پر لوړو چوکيو ولګول.فاسد او رشوت خواره يې لرې کړل.
دې ډېر کار په خپله کولو ټول فايلونه او د حکومتي کار سندونه به يې په خپله مطالعه کول.د هغې د سختۍ نتيجه دا شوه چې د وخت لومړي وزير عبدالجبار خان استعفا ورکړه.
سلطان جهان په دې ډېره خوابښينې نه شوه او د لومړي وزير کار يې هم پر خپله غاړه واخيستلو.هغې به د لرې پرتو کليو سفرونه کول او د مزکې او کر حال به يې په خپله معلومولو.انګرېزان چې ددې له کاراو محنت څخه خبر شولو نو يې پورا ملاتړ ورسره وکړو.هغې خپلو دوو زلميو زامنو نصرالله او عبېدالله ته هم کارونه سپارلي وو.او وړوکی اته کلن زوی حميدالله به يې هم له ځان سره ګرځولو.

د سلطان جهان خاوند احمد علي ته د سلطان الدوله خطاب ورکړی شوی وو.او کله چې دا نوابه شوه نو د خاوند د کورنۍ خلک چې له جلال اباده ورغلي وو په نوابۍ کې د خپلو ګټو لپاره په راټولېدو بوخت شول.د احمدعلي خور چې چندا بي نومېده د هغې اوه پېغلې او ښایسته لونې وې. په دوی کې دوه قیصر جهان او شهریار جهان د نوابې د دوو ځامنو لپاره کېنول شوې.د واده تیاری پېل شوی او هم په دې ورځو کې(۱۹۰۱) کې احمدعلي د زړه په حمله کې مړ شو.د سلطان جهان لپاره دا یو لوی ټکان وو.ځکه احمد علي ددې لپاره یوه لویه تکیه وه.او له ماشوموالې څخه یې ورسره مینه درلوده.
د دواړو ځامنو ودونه یې وځنډول خو د څلوېښتې وروسته یې وادونه وکړل او ځامن یې له خپلو مېرمنو سره بېلو کورونو کې مېشته شول.
په ۱۹۰۲ م کال کې له دې ټولو بحرانونو د راوتلو وروسته سلطان جهان په ډیلي دربار کې د ګډون لپاره په لومړي ځل په اورګاډي کې سفر وکړو.له هغې سره ۱۴۲ کسان مله وو.هغې لا پخوا ۴۲۶ کسان د ځای او کیږدیو لټولو لپاره ډیلي ته استولي وو.
سلطان جهان د خپلو دوو مشرانو زامنو د تعلیم لپاره هم هغسې دودیزه طریقه کارولې وه.دوی د آس د سپرلی ،د تورې او غشي ویشتلو تربییه واخیسته.عربي،فارسي او انګرېزي یې زدکړه.د قرآن او حدیث تعلیم یې وکړو.
نصرالله چې مشری زوی یې وو له ښکار او موټر سره یې دېر شوق لرلو.او د مور سترګې ده ته وې چې دی د څلورو نسلونو نه وروسته د نوابۍ لومړی هلک وو.
عبېدالله د ۱۲ کلونو په عمر کې د قرآن حافظ شو.ده له جنګي فنونو سره شوق لاره او سلطان جهان راهڅاوه چې د بهوپال پوځي خدماتو کې ورداخل شي.
په ۱۹۰۳م کال کې سلطان جهان له خپلو درو زامنو سره حج ته ولاړه. په دې سفر کې هغه د مدینې او مکې په لاره کې څو واري د عرب بدو قبیلو لخوا له خطر سره مخامخ شوه.ددې پر قافلې حملې وشوې.خو د پینځو میاشتو د سفرنه وروسته بېرته بهوپال ته راوګرځیده.هغې د خپل حج کیسه په یوه کتاب کې ولیکله.

د سلطان جهان د دوو زامنو ودونه د جلال اباد د اورکزوکورنۍ کې واده شوی وو.او ډېر ژرورته دا جوته شوې وه چې هغوی د بهوپال په حکومتي کارونو کې خپلې اغېزې زياتې کړې وي.سلطان جهان ځان له يوازې پاتې وه.د هغې انړيندو غوښتل چې خپله وړه خور هم حميدالله ته واده کړي.خو د سلطان جهان دا نه وو خوښ هغې د خپلې خسرگنۍ له اغېزو ځان خلاصول غوښت.دي کتل چې دواړو مشرانو زامنوته يې د خوشامدگرو او بوټپاکو درباريانو ډلې چاپېره وې. هغې نه غوښتل چې ۱۱ کلن حميدالله هم دې کندې ته ولوېږي.اوس دشلمې پېړۍ پيل شوې وو او په هند کې د انگريزي تعليم او سياسي شعور زيات پيدا شوی وو.
سلطان جهان بېگم حميدالله لپاره په ټول هند کې د يوه مناسب ښوونځي په لټه کې وه.او آخر يې فيصله وکړه چې دی به د بهوپال په الېگزانډرا ښونځي کې سبق وايي .دا ښوونځۍ څو کاله مخکې دې په خپله جوړکړی وو.له دې ښوونځي څخه وروسته حميدالله د علي گړه پوهنتون ته د سبق لپاره ولاړو .او آخرله دوو سوو کالو د بهوپال دنوابې کورنۍ لومړۍ غړی د عصري تعليم لپاره له بهوپاله ووتلو.د حميدالله د واده لپاره هغې د اورکزو نه پرته انجلۍغوښته او خپل يوه با اعتماده استازي کندهاري خان ته يې دا دنده وسپارله چې پېښور له ورشي او د يوه ښه پښتانه کور انجلۍ د حميدالله لپاره غوره کړي.دی مردان ،بنو او کوهاټ پورې ولاړو.
په پېښور کې دی د شاه شجاع د کورنۍ يو ټبر سره مخامخ شو.او هم هلته يې د پينځو کالو يوه انجلۍ وليده چې د يوه نل لاندې يې لامبل.دا انجلۍ مېمونه سلطان نومېده.د دراني خاندان د شهزاده خېل ټبر دا انجلۍ د کندهاري خان خوښه شوه او سمدستي يې سلطان جهان ته خبر ورواستولو.
هغې هم وخت ضايع نکړواو د يولس کلن حميدالله او د پينځه کلنې مېمونې د واده لپاره يې خپل مشر زوی عبيدالله او د هغه مېرمنه شهرياردلهن سره له يوې ډلې پېښور ته ورواستول.
او لکه چې سلطان جهان سره د احمدعلي د کوژدنې غوندې د مېمونه سلطان ټولې کورنۍ له دې سره بهوپال ته کډه وکړه.د

درانیانو له راتگ سره په بهوپال کې یو ځلي بیا د پښتنو دودونه راتازه شول.
بهوپال ته په راتلو د مېمونې د تعلیم او روزنې لپاره پلان جوړ شو.د عربي،اردو او فارسي د زدکړو سره سره هغې ته د آس سپرلۍ ،د ټوپک چلولو،او د ستن تار او د ډوډۍ پخولو چل وروښودل شو.د انگرېزې ژبې د زدکړې لپاره هغې ته یوه مېرمنه د اولیور په نوم وټاکل شوه.د پیانو او وایلن غږولو پرته هغې فرانسوي ژبه هم زدکړه.
سلطان جهان د مېمونې په روزنه کې ډېره فعاله وه.او په دې خوشاله وه چې هغې د خپل زوی لپاره یوه ښکلې ښځه تېاروله.مېمونه سلطان هندي اولویدیز دواړه کلتورونه خپل کړل.
د لومړي ځل لپاره د بهوپال د شاهي کورنۍ یوې غړې له انگرېزانو او اروپایانو سره د هغوی په ژبه ښه په اعتماد خبرې کولای شوې.
د خپل حکومت په لومړیو لسو کلونو کې سلطان جهان پر هر شي خپله ټاپه لگوله.دا له برتانویانو سره نژدې وه اود هغوی په مشوره یې د پولیس ،بندي خانو،د اوبه خوړ او قضایي محکمو کې اصلاحات راوستل.هغه په خپله یاداشتونو کې لیکي.
زما خپل کارونه د ورځې اتلس ساعتونو ته غزېدلي وو.د سهار له اوو بجو د شپې تر دولس بجو ماته په دربار کې د ولسوالیو ،د تانو افسران او جاگیرداران مستجر موافع دار راځي .چې دوی سره زه د شاوخوا سیمې په اړه خبرې کوم.
لس بجې زه ناشته خوروم.له هغې څخه وروسته زه هغه ټول درخواستونه ولولم چې له تېرې ورځې څخه راپاتې وي.دا چې وشي نو بیا د مالیي وزیر راځي او د مالیې کاغذونه راښایي او مونږ د پیسو جاج اخلو.دا کاغذونه د هغه د مشورې او تصویب او د رایو په رڼا کې جوړ شوي وي.او زما د وروستۍ فیصلې لپاره راوړل کېږي.وروسته هغه لیکي چې دوه بجې دیوان ټهاکر پرشاد د مزکو کاغذونه زما په موجودگي کې مستجارانو ته ورکوي.تر شپږو دا کار روان وي.شیخ محمد حسن او منشي اسرارحسن خان د تېرو مالیو د راتولوکاغذونه راوړي.

سلطان جهان د شپې اته بجې ډوډۍ خوري.او له هغې وروسته د شپې تر يولسو بجو ان تر نيمې شپې ليکونه ولولي.ځوابونه ورته ورکوي.د طاعون دخپرېدو د مخنيوي لپاره کارونه ووېشي او داسې نور.

سلطان جهان مشاورتي مجلس يو واري بيا رامنځته کړو.او د ښاروالی انتخاب يې وکړو.د ساري نارغيو مخنيوي لپاره يې عامو خلکو ته د ستنو وهلو او د مفتو داروگانو د وېشلو انتظام يې وکړو.

هغې په لومړي ځل په بندي خانه کې له بنديانو نه د کاراخيستلو لپاره دوی ته په لاس د شيانو جوړولو ،اوبدلو،او د بوټلو تربيې لپاره قانون جوړ کړو.

په خپل ورځني ژوند کې هغه ډېره مذهبي ښځه وه. پرده به يې کوله او ان مېمونه سلطان ته به يې هم په پرده کې د اوسېدو غږ کولو.خو د سرکاري کارونو لپاره به يې له سړو سره ليدل.انگرېز مېرمنو ته دا لارښوونه وه چې د سلطان جهان د ليدو لپاره ورځې نو خپلې متې به بربنډې نه ساتي.ددې هر څه سره هغه د ښځو د تعليم زدکړوډېره سخته پلوي وه.

-----------------------------------------------------------.

؟؟؟؟؟د گريس تامسن ليکنه بايد دلته راشي

د هغې دربار ته به د يورپ اميران هم ورتلل. په ۱۹۰۷ کې هغې ته د هند د امپراتوری لوی اعزاز ورکړل شو. په آگره کې د يوه دربار پر وخت هغه د افغانستان له اميرشېرعلي خان سره هم مخامخ شوه او ورسره يې په پښتو او فارسي کې خبرې وکړې.

په دې ورځو کې هغې د حميدالله پر شخصي مزکه ځان ته يوه مانۍ د احمدآباد په نوم جوړه کړه.هغه په دې وېرېده چې که مړه شوه نو د نواب سرکاري کور صدر منزل به د جلال آباد پښتانه ترې نه واخلي.

سلطان جهان چې څه وخت حج ته تله نو په لارې په سمندري بېړۍ کې يې د خپل انگرېز ډاکټر له مېرمنې انځورگري زدکړه.او له دې

وروسته چې به  سلطان جهان هر وخت موقع وموندله نوځان به  پدې کار بوخت ساتلو.
په ۱۹۰٦ م کال د بریتانییا شهزاده(ځای ناستی)چې بیا وروسته د پینځم جورج په نوم پاچا شوهند ته ورغلو.او په بېلا بېلو دربارونو کې سلطان جهان ده او دده مېرمنې شهزادگۍ مېري سره ولیدل.
هم په دې کال په بهوپال کې یوه جرگه او قانون سازه  اسمبلی جوړه شوه چې د خلکو د استازیتوب لپاره یو بل گام وړاندې وو.
په ۱۹۱۱ م کال کې جورج پینځم د خپل پلار له مړینې وروسته د برتانیا پاچا شو.او د هغه د تاجپوشی په مراسمو کې سلطان جهان ته هم بلنه ورکړل شوې وه.هغې په ځواب کې انگرېزانو ته ولیکل چې دا په بورقه کې په دې مراسمو کې گډون کوي.سلطان جهان پوازې بریتانییا ته نه بلکه د نورو اروپایي ملکونو تر څنگ فلسطین ،ترکیې او مصر د لیدو لپاره هم پلان جوړکړو.د هغې دویم زوی عبېدالله د زړه په ناروغۍ اخته وو،او دې غوښتل که په اروپا کې یې علاج ممکنه وي نو کېدای شي چې جوړ شي.هغې نصرالله په بهوپال کې د خپل ځای ناستي په توگه پرېښودو.عبېدالله دهغه مېرمن ،حمیدالله او وړه مېمونه چې د یولس
کلونو وه په دې سفر کې له سلطان جهان سره مله وه.
په ممبۍ کې دوی په بېړۍ کې سپاره شول او په سویز کنال کې  په عدن کې  اېسار شول .دلته دبېلجیم پاچا او ملکه هم ورسره مل شول.دوی اټالیې او بیا د فرانسې مارسیلز(مارسای) ته ورسېدل.د اروپا خبریالان په بندر کې راټول وو چې غوښتل یې د هند د یوې ملکې په اړه راپورونه ولیکي.او عکسونه یې واخلي.خو سلطان جهان له بېړۍ بهر گام نه پورته کولو.آخر پولیس ټول خلک له هغه ځایه لرې کړل او دوی یې اورگاډي ته ورسول.د فرانسې حکومت دا خصوصي گاډی دوی ته ور اخیستی وو.دوی پاریس ته ورسېدل.ددې سفر ټول حال یوولس کلنې مېمونې لیکلی دي .یوځای دا لیکي چې د دوی د هوټل په غسل خانه کې دوې نلکې وې .یوه د تودو اوبو لپاره بله د سړو اوبو لپاره .یوه لویه ستونزه د حلالو خوړو وه.د پاریس د مېجیسټیک  هوټل په پخلنځي کې یوه پرده ودرول شوې وه  او د سلطان جهان اشپز پکې دوی ته حلال خواړه پخول.دوی هلته پنځلس

ورځې ایسار وو اوو میمونه لیکي چې په هوټل کې  د ټولو لپاره دوی لس زره روپۍ ورکړې.عبیدالله د علاج لپاره جرمني ته واستول شو.او سلطان جهان رودبار انګلستان نه د channel  په تېرېدو لندن ته ورسېدله.او له دې ځایه ۱۸ میله لرې د رېډ هیل نومي ځای په پېټیسن کورټ نومي کور کې یې کډه واړوله.

تر تاجپوشی وړاندې دوی په لندن  کې ښه وګرځېدل. په مېلمستیاو کې یې ګډون وکړو او آخر یې د مراسمو ورځ رانږدې شوه نو دوی د بکینګهم ماڼۍ سره جوخت یوه هوټل ته راکډه شول.

هغې خپل دواړه  ځامن او وزیران له ځانه سره بوتلل.خو خپلې انړیندې یې په رېډ هیل هوټل کې پرېښودې.

په مراسمو کې سلطان جهان په بورقه کې ولاړه  او عجیبه یې لا دا چې خپل ټول مېډالونه یې د بورقې له پاسه ټومبلي وو.د بریتانیي ورځپاڼو د بهوپال د بېګم په اړه عجیبه کیسې لیکلې.دا چې هغه ددې ځای اوبه نه څښي او خپلې اوبه یې له ځانه سره راوړي دي.دا چې هغه ژوندي چرګان خوري.د اوبو خبره دا  وه چې سلطان جهان د زم زم اوبه له ځانه سره راوړې وې.او د دې د خوراک لپاره  به ژوندي چرګان حلالېدل او بیا به پخېدل.هغه ځکه چې د ې د بازار غوښه نه خوړله.

د تاجپوشي له مراسمو وروسته سلطان جهان جرمني او ژنیو ته ولاړه او هلته  خبره شوه چې په  ترکي کې سخته زلزله راغلې ده دې سمدستي درې زره پونډه  عثماني سلطان ته ورواستولې.

د ختیز پر لوري یې خپل سفر جاري وساتلو او په اورګاډي د ویانا له لارې ترکیې ته ولاړه.

په استنبول  کې د ترکي سلطان وزیر راغب بېګ د دوی هرکلي ته ولاړ وو.دوی یې هوټل کې مېشت کړل.هغې ددې ښار ښکلي جوماتونه او میوزیمونه ولیدل.

د دولماباچي په شاهي ماڼۍ کې د سلطان لیدو ته ورغله او دهغه مېرمن سلطانه یې ولیدله. پاچا له سلطان جهان سره په فارسي خبرې کولې.او بیا خپلې مېرمنې ته په ترکي ژباړلې (ترجمه کولې).

کله چې سلطان له  هغه ځایه  ولاړ نو سلطانې ورته وویل چې بورقه دې

لرې کړه .هغې چې بورقه لرې کړه نو سلطانې په مخ ښکل کړه .خبرې په انګرېزي پېل شوې او د سلطانې لور له انګرېزي ترکي ته ژباړلې.

له ترکيې د روانېدو پروخت سلطان د ترکيې تر ټولو لوی اعزاز هغې ته د ورکولو اعلان وکړو.سلطان جهان له انګرېزانو څخه اجازه وغوښتله نو هغوی ورته وويل له بريتانييا پرته بل څوک هغې ته د اعزاز ورکولو حق نه لري.د ترکيې سلطان په دې خبره سخته په قهر شوه.خو تر هغه يې لوی سوغات ورته وړاندې کړو او دا د حضرت محمد صلی الله علېه وسلم هغه وېښته وو چې دوی ډېر په عقيدت سنبها ل کړی وو.سلطان جهان په دې عقيدوي تحفه دومره خوشاله وه چې يو وزير ته يې دا وروسپارلو چې د يوې شېبې لپاره به يې هم له ځانه نه لرې کوي.دا وېښته په بهوپال کې ډېر په عقيدت يوه مانۍ کې کېښودل شو.او د مېلادلنبي پر موقع به خلکوته ښودل کېدلو.

له ترکيې څخه سلطان جهان هنګري او ورپسې د اټاليې څو ښارونو ته وولاړه او په فلورېنس کې وه چې د نصرالله ليک وورته راورېسدو چې په بهوپال کې د طاعون وبا ګډه شوې ده.

هغې خپل نور سفرونه پای ته ورسول او سمدستي د مصر د سکندريې له لارې په سمندري بېړۍ کې بمبۍ ته روانه شوه. په مصر کې هغې جامع الازهر ته هم ښه ډېر ې پيسې ورکړې.

په بهوپال کې د طاعون پر وخت د ورځې ۱۵۰ کسان مړه کېدل.او شپږ مياشتې وروسته چې سلطان جهان بېرته راوګرځېده نوډېر خلک دې وبا خوړلي وو.

په ۱۹۱۱ کې سلطان جهان د ډيلي دربار ته وورغله چې د پينځم جورج او د ملکې مېري د هند دسفر پر مهال جوړشوی وو هم په دې کال د ټول هند د ښځو د تعليم د اصلاحاتو په اړه يو کنفرانس جوړ شوی وو چې سلطان جهان يې مشري کوله. د هغې وينا(تقرير)د هغه وخت د يوه تاريخي سند ارزښت لري.هغې د تعليم او تحقيق لپاره د ډېرو پروژو سرپرستي وکړه. په دوی کې د مولانا شبلي نعماني لخوا د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ژوند په باب د نومياتي کتاب سيرت النبي ليکل او چاپول هم شامل وو.د انګرېزانو لخوا هغه د عليګړ ه پوهنتون لومړۍ چانسلره وټاکل

شوه.له دې وروسته خپله پوهنتون هم دا دوو دورو لپاره پر دې ځای وټاکله.د يوې مسلمانې او پښتنې ښځې لپاره دا ډېر لوی برياليتوب وو.
سلطان جهان د تعليم په اړه ډېره خوابښيني وه .پخپلو يادداشتونو کې ليکي.
'زما لپاره دا ډېره د غم او نا ارامۍ خبره ده چې زما ملک د بهوپال د شپږ لکه شپېته زره نهه سوه او شپېته وګړو (٦٦٠٩٦٠)کې يوتن هم داسې نشته چې د پوهنتون سبق يې ويلي وي.اوو دا له دې حقيقت سره سره چې زما د مور د حکومت په دوره کې هر هغه کس ته مالي مرسته ورکول کېده چې له لومړيو زدکړو وروسته يې تعليم جاري ساتلو.
په خپله په ښار کې د لومړۍ زدکړو لپاره ښوونځي شته خو څلوېښت کسان به پيدا نکړې چې لسم يې ويلي وي.
په ١٩١١ کې د يورپ له سفره وروسته دی په هند کې د ښځو هرې لويې غونډې کې ګډون کولو. په دې وخت کې د هغې درېځ دا وو چې د ښځو لپاره د پردې ضرورت نشته او دا چې د غريبو او بې وزلو ښځو حالت ښه کولو لپاره کار پکار دی. په ١٩٢٨ م کال کې هغه په خپله له پردې راوتله .او خلکو په لومړي ځل اويا کلنه سپين سرې نواب سلطان جهان وليدله.
په ١٩١٢ کې مېمونه سلطان او حميدالله د ښځې او مېړه په توګه ګډ ژوند پيل کړو.او د دولس کلو په عمر کې مېمونه د يوې ماشومې مور شووه.چې عابده سلطان ونومول شوۀ.وروسته دا ماشومه د بهوپال د وروستۍ وارثې په توګه د ګوهر تاج په نوم ددې نوابۍ بې واکه واکمنه شوه.
د سلطان جهان مشر زوی به زياتره وخت په خپلو مزکو او ښکار بوخت وو.ده د نوابۍ شوق نلرلو.خو عبيدالله په ډاګه د مور مخاليفت پيل کړو.او خپلو ورېرونو (دنصرالله زامنو)او کشرورور حميدالله ته به په قهر وو.سلطان جهان د خپل زوی د مخاليفت تر شا د جلال اباد د پښتنو لاس ليدو.د عبېدالله او نصرالله مېرمنې خويندې وې.او دوی به ځان ډېر متمدن او له نورو اوچت ګڼلو.دوی به د خپلې يور مېمونه سلطان په کړو وړو او دهغې په ژبه اعتراض کولو.مېمونې به تل له پېښوره خپل خپلوان بهوپال ته وربلل. په دوی کې به ډېرو خپله جامه اغوستله چې ګېډی پرتوګ او لوی چيندار کميس وو.
جلال آبادي مېرمنو به د دوی په ليدو ملنډې وهلې.او دوی ته به يې ګهاګرا پلټن (د ګګرو اغيستونکې ډله)ويله.

دهند په مسلمانانو کې یو دود دی چې کله یو ماشوم د څلورکالو څلور میاشتو اووڅلورو ورځو شي نو دده لپاره د "بسم الله "مراسم ترسره کوي.ماشوم ته ښه ښکلې جامې اغوستل کېږي خپل خپلوان ورته راغواړي.بیا هغه څوک چې ماشوم ته د قرآن د لوست د نده ورکړی شوې وي ،له ماشوم سره کېني او د
بسم الله رحمن الرحیم په ویلو سره دیني زدکړې پېل شي. په دې موقع ماشوم ته په خوله کې خواږه ورکول کېږي.او نژدې خپلوان ورته تحفې او پیسې هم رکوي.
د بهوپال وروستی وارثه عابده سلطان په خپل کتاب کې لیکي "په ۱۹۱۸ م کال کې دجنوري پر لومړۍ نېټۀ زما د بسم الله مراسم وشو"
عابده سلطان د خپلې نیا سلطان جهان په کور کې لویه شوې وه او هم هغې ورته د قرآن او د هغه لفظي ترجمه ورزدکړېده.دا زدکړې د ماشومې عابدې لپاره سختې وې.ځکه هغه به سهار د ملا بانگ سره راپاڅېدله.د لمانځه وروسته به نیا ورته سبق ښودلو او که غلطي به یې وکړه او یا سبق به یې نه ویلو نو سلطان جهان به په سوکانو وهله.
د بهوپال د واکمنې په توگه د سلطان جهان دربار به په انگڼ کې لگېدو.هلته سلطان جهان به په یوه سپین توشک ،گدی یا دری په مزکه کېناستله. په یو شمېر نورو صندوقونو کې به یې کاغذونه اېښي وو.ددې خوا شا به عرضي کوونکي ،منشیان،او مېلمانه ناست او ولاړ وو.عابده سلطان لا د اتو کالو نه وه چې قرآن یې له لفظي ترجمې سره حفظ کړی وو.
سلطان جهان د خپلې لمسۍ په دې کامیابۍ تر څلوېښتو ورځو پورې په بهوپال کې د نشرح جشن اعلان کړو.خو د واکمنې مشرانو انړېندوله دې هر څه ځان لرې وساتلو. په سرکاري مانۍ کې به هر ماښام ښځې راټولېدې او سندرې به یې ویلې. .آخر سلطان جهان خپلو انړېندو ته د سبق ورکولو فیصله وکړه. یوه ورځ یې دوی ټول خپل کور ته وروبلل او کله چې مېلمانه په انگڼ کې راغونډ شو نو سلطان جهان د ډولکې په درز راپاڅېده. په دواړو لاسونو کې یې دسمالونه ونیول او له یوې مخې یې د پښتنو اتڼ پېل کړو.د واکمنې په دې کار سره د هغې ټولو مېلمنو هم ځان ورگډ کړلو اوس نو د جلال آبادي مېرمنو لپاره بې له دې بله هیڅ لاره نه وه چې اتڼ وکړي.،سره له دې چې جلا آبادیان په خپله هم پښتانه وو.دوی به د پېښور اوسېدونکو ته کهارې (ترخه)ویل.دوی نه غوښتل چې واکمنه ترې خپه شي

نو د لاسونو په وهلو په دې اتڼ کې ورګډې شوې.د عابده سلطان لپاره د هغې ترونو او خپل پلار په بېلو بېلو ورځو د نکریزو تالونه ورواستول.او په ۱۹۲۱ کې تر یوه ښکلي تمبو لاندې د نهو وړوکو جینکو په بدرګه چې پکې د عابدې دوې خویندې ساجده او رابعه هم شاملې وې.سلطان جهان له ټولو مېلمنو سره پر مزکه ناسته وه.د خپلې لمسۍ پر قابلیت یې یو تقریر وکړو.ټولو د الله اکبر نعره پورته کړه.او بیا عابدې سلطان په مصرۍ لهجې د قرآن تلاوت پیل کړو.سلطان جهان په خپلې ماڼۍ کې د جینکو ښوونځۍ پرانیستۍ وو چې پکې ددې لمسۍ له نورو سره یو ځای د نوې زمانې زدکړې پیل کړې.

په ۱۹۱٤ کې د لومړۍ نړېوالې جګړې له پېل سره سم د بریتانیيا حکومت د هند له لویې وچې څخه د پوځیانو برتي کول پېل کړل.د هند له ټولو راجه ګانو او نوابانودا هیله کېده چې دوی به خپل ټول وسایيل انګرېزانو ته ورکوي.د مسلمان ریاستونو لپاره دا یو ډېر سخت کار وو.ځکه چې په دې جنګ کښې د انګرېزانو مخالیف جرمني له ترکیې سره اتحاد کړی وو.بهوپال د انګرېزانو پلوي نوابي ګڼل کېده.خو سلطان جهان د ترکیې د حکومت په پلوي مجبوره وه ځکه د هغې د حج کولو پر مهال ترکي عسکرو د هغې ټوله کورنۍ ژغورلې وه.
په علي ګړه پوهنتون کې مسلمانو محاصیلینو د ترکیې په چارو کې په ډاګه احساساتي تقریرونه او بحثونه کول. په خپله په ترکیې کې د عثماني دورې بیا راژوندي کولو لپاره د هند پر مسلمانانو لویه تکیه کېده.د هند مسلمانانو د مغل سلطنت له ړنګېدو وروسته ترکیې ته سترګې نیولې وې.او غوښتل یې چې هلته د مسلمانانو یو غښتلی اسلامي دولت جوړشي.
حمیدالله له خپلو ملګرو سره د ترکیې خلافت د پاڅون لپاره هلې ځلې کولې.
انګرېزانو پر دې وخت هغې ته مرموز پېغامونه ورلېږل چې په حمیدالله دې نظر ساتي.سلطان جهان د بهوپالي عسکرو یوه ډله هغوی ته په دې شرط ورکړه چې دوی به د ترکانو پر ضد نه جنګېږي.هغې درې لکه او درویشت زره روپۍ هم انګرېزانو ته ورکړې. په ۱۹۱٥ کې جګړې زور اخیستی وو.د هغې زوی عبیدالله د پوځي قومندان په توګه عدن ته ولاړو.خو ډېر ژر ناروغه شو او بېرته یې راواستولو.حمیدالله له سبق وروسته په بهوپال کې د خپلې مور د مشر وزیر دنده پر غاړه واخیستله.هغه د علي ګړه خپل ملګري په بهوپال کې په بېلا بېلو کارونو کې بوخت کړل. په دې کار د بهوپال خلک هم ناراضه وو.
په بهوپال کې اوس هر چا له انګرېزانو څخه د خپلواکۍ اخیستلو خبره کوله. په ۱۹۲٤ کې د سلطان جهان زوی جنرال عبېدالله د سرطان په ناروغۍ مړ شو.د هغې مشر زوی نصرالله د شکرې په ناروغۍ اخته وو.او د خپل ورور له مړینې څو میاشتې وروسته دی هم مړ شو.د نوابۍ لپاره د حمیدالله چانس برابر وو.خو ها خو د نصرالله زوی حبیب الله هم د خپلې نیا د ځای ناستې په توګه او د جلال آبادیانوپه ملاتړ د بهوپال نوابي غوښتله.
سلطان جهان په دې وخت کې د خپل زوی حمیدالله لپاره یو ځل بیا د خپلو خپلوانو له مخالیفت سره مخامخ شوه.د نصرالله له مړینې لس ورځې

وروسته يې د انګرېزانو پاچا      ،خارجه وزير او استازي ته  ليکونه واستول او د اسلامي قانون له مخې يې د حميدالله د ځای ناستي د حق خبره يې وکړه.بلخوا حبيب الله هم له انګرېزانو سره رابطه ټينګه کړې وه.انګرېز استازي د سلطان جهان دعوا  په قانوني اساس ردکړه.نو هغه دومره په قهر شوه  چې سمدلاسه يې انګلستان ته د سفر نيت وکړو.
په ١٩٢٥ کې هغه يوواري بيا انګلستان ته ورسېده.دلته هغې د بريتانوي حکومت له مهمو وزيرانواو پارلماني غړيو سره ليده کاته پيل کړل.حميدالله په خپله هم د خپل حق لپاره هلې ځلې کولې.ميمونه سلطان هر ځای له خپلې خواښې سره مله وه.او کوم ځای چې به سلطان جهان په خپلې  ماتې ګوډې انګرېزي خپل مطلب نشو بيانولی نو مېمونې به ورسره مرسته کوله.
په  دې ورځو کې د انګلستان د پاچا جورج پينځم لمسۍ ابليزبيت وزيږېده.او سلطان جهان د هغې مبارکۍ له ورغله(وروسته دا شهزادګۍ د انګلستان ملکه شوه)  او  پاچا ته يې خپله عريضه واوروله. پاچا ورته په ځواب کې وويل چې دی هيڅ واک نلري او هرڅه چې د هند په باب  کيږي هغه د برتانيې حکومت کوي.دسلطان جهان له دې نه وه خبره چې د برتانيا د پارلمان ځينو غړيو په  هند کې د انګرېز حکومت له استازيو نه پوښتنې کولې.چې دوی په کوم قانون د حبيب الله ملاتړ کوي.هغوی د حکومت هغو خلکو ته مشوره ورکړې وه چې د سلطان جهان په مخاليفت ولاړ وو چې دغدر(دآزادۍ جګړه) پر مهال د بهوپال د شاهي کورنۍ رول مطالعه کړي.د انګرېزانو تر منځ قانوني ليکونه تلل راتلل.او اخر په ١٩٢٦ کې د حميدالله حق ومنل شو.سلطان جهان د زړه په  مرض اخته وه او په لندن کې يې اعلان وکړو چې دا د خپل زوی حميدالله خان په حق کې له نوابۍ لاس اخلي.انګرېزانو په خپل ليک کې ويلي وو چې له حميدالله وروسته به د نصرالله او عبېدالله زامنو ته نوابي ورکول کيږي.ځکه  حمېدالله درې لوڼه لرلې ،خو سلطان جهان دا  خبره نه منله.چې په دې فيصله به د حميدالله ژوند په خطر کې وي.دی به د ګدۍ لپاره د خپلو ورېرونو لخواو وژل شي.انګرېزانو دا دليل ومنلو خو پوښتنه يې وکړه چې که د حميدالله لور عابده سلطان د هغه وارثه شوه او وروسته د حميدالله زوی وزيږېدو بيا به څه کيږي.ځکه حميدالله د دېرشو او مېمونه د سلطان پدې وخت کې دپينځويشتو کلونو وه.سلطان جهان د خپلې لمسۍ د ورا  ثت لپاره پر دې اساس جنګېده چې د بهوپال په ١٠٧ کلن تاريخ کې څلورو ښځو ډېر په

بریالیتوب حکومت کړی دی.نو عابده سلطان به هم ددې وړ وي چې د بهوپال واکمنه شي.دوه کاله وروسته د انگرېزانو او د حمیدالله ترمنځ په یوه تړون کې عابده سلطان د هغه ځای ناستې اعلان شوه.هغې ته د گوهر تاج خطاب ورکړل شو.

د نواب حمیدالله دور په بهوپال کې ډېر لوی بدلونونه راوستل.دا بدلون په مراسمو او انتظام دواړو کې لېدل کېدو.کابینه د دوو وزیرانو پرځای اوس په شلو وزیرانو ډکه وه.سلطان جهان به په دې خپه کېده او زوی ته به یې ویل چې ولې دومره پیسې لگوې.خدمتگارانو ته سپینه درېشي(یونیفارم) ورواغوستل شو.شاهي شان شوکت پیدا شو.د مالیې مستحاجري نظام معرفي شو.

سلطان جهان نور هیڅ نشو کولای هغې اوس هم د پینځو لکو روپو مزکې او جاگیر لرلو. او فیصله یې وکړه چې پر خپله مزکه به د عابده سلطان لپاره یوه ښکلې ماڼۍ جوړوي.دا ماڼۍ نورالصباح نومېږي.او اوس یو هوټل دی.

سلطان جهان د ۷۲ کلونو په عمر کې د گردې یا پښته ورگو د عملیاتو وروسته په حق ورسېده.

په ۱۹۳۲ کې د هند نوابي ریاستونو اوو نورو راجه گانو خپله یوه اتحادیه جوړه کړې وه،او نواب حمیدالله درې واري ددې اتحادیې مشر ټاکل شوی وو. په دې کلونو کې د هند د خپلواکۍ خبرو زور نیولی وو او دا خبره یقیني وه چې انگرېزان به له هنده وزي او هند به وېشل کېږي.دکانگرس گوند خپل استازي راجه گانو ته ور واستول چې له هند سره د یوځای کېدو ( الحاق)سند لاسلیک کړي.او په رسمي توگه له هند سره یوځای شي. په دې وخت کې مسلمان ریاستونو ،حیدراباد،جوناگړ،او بهوپال له دې فیصلې څخه ډډه وکړه.

نواب حمیدالله نه غوښتل چې د بهوپال خپلواکي دده له لاسه هند ته وسپارل شي.ده غوښتل چې دا کار دهغه لور عابده سلطان وکړي.او دا یې تر څه ځایه ددې کار لپاره تیاره کړې وه.

عابده سلطان په خپل کتاب کې لیکي

"په دولسم اگست ۱۹۴۷ کې زما پلار په ډیلي کې له جناح،ماونټ بېټن،او د کانگرس له مشرانو سره د خبرو اترو نه وروسته په الوتکه کې ډیلي نه

بهوپال ته راورسېدو،په زرگونه وگړي دده هرکلي ته وولاړ وو.دوی ناري وهلې چې 'پاکستان ته مه ځه.'
حميدالله هم هلته په خپل وينا کې خلکو ته ډاډ ورکړو چې' دوی به نه مايوسه کېږي'
له انگرېزانو د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په هلو ځلو کې دی څو واري د کانگرس،مسلم ليگ او د انگرېزانو تر منځ په جرگو اوو مرکو بوخت وو،او دوی ټولو په دې اعتماد لرلو.ده مهاتما گاندهي په دې قانع کړی وو چې د
مسلم ليگ او محمد علي جناح وجود دې ومني.او دا چې د هند مسلمانان ځان له پېژندگلوي او خپله خاوره غواړي.خو دبهوپال پولې له هرې خوا دهندوانو له
اکثريتي سيمو سره نښتي دي.اوو دلته ډېری اوسېدونکې هم هندوان دي.د هند او پاکستان وېش هم په دې اساس کېدو چې د ډېرکي هندوانو سيمې به له هند سره او ډېرکې مسلمانو سيمې به له پاکستان سره شامليږي.حميدالله په دې پوهېدو چې د پاکستان له جوړېدو وروسته به بهوپال ځان ته پاتې وي.
په ۱۹٤۷ م کال کې حميدالله په کراچۍ کې يو لوی کور ځان له په بييه واخيستلو او "بهوپال هاوس" نوم يې ورله ورکړو. په دې کې د استوگنې انتظام هم وشو.او د جناح لخوا هغه ته داسې پيغامونه استول کېده چې گوندې که دی راغلوو نو کېدای شي د هغه ځای ناستي به وټاکل شي او يا هم د ختيز پاکستان چې اوس بنگله دېش دی د هغه والي مقرر شي.
خو په ۱۹٤۸ م کال کې د جناح له مړينې وروسته د پاکستان سياسي فضا بدله شوه.اخوا د هند حکومت هم زور لگولی وو چې نواب حميدالله دې په بهوپال کې پاتې شي.آخر په ۱۹٤۹ م کال کې دا خپلواکه رياست لکه د نورو سلگونو رياستونو غوندې د هند برخه وگرځېدلی .
په ۲۰۰۲ م کې د مۍ پر دولسمه نېټه د کراچۍ په ډان نومي ورځپانه کې يو وړوکی خبر چاپ شوچې"د بهوپال د پخواني رياست وارثه شهزادگۍ عابده سلطان د شنبې په سهار د ۸۹ په عمر کې وفات شوه.دا د پاکستان د پخواني ډيپلوماټ شهريارخان مور وه.او په ۱۹٤۲م کال کې لومړۍ مسلمانه پيلوټه ښځه وه.نوموړې د هاکۍ ړپولو او د ټېنيس لوبغاړې او دهند د ښځو د سکواش اتله پاتې شوه وه.

عابده سلطان د بهوپال د نواب ځای ناستي حمیدالله خان او دهغه د دیارلس کلن مېرمنې مشره لور وه.چې په ۱۹۱۳ کې په شاهي مانۍ کې وزیږېده.او سمدلاسه یې خپله پناه د نواب سلطان جهان بېگم په غېږ کې واخیستله.او تر څو چې هغه ژوندۍ وه د عابده سلطان پالنه اوروزنه یې کوله.عابدې په وړوکي عمر کې له خپلې نیا د قرآن لوست له اردو ترجمې سره زدکول پېل کړل .او په غلطي کولو به د خپلې نیا لخوا وهل کېدله.
عابده سلطان پخپل کتاب کې لیکي "دآس سپرلی او ښه ویشتل زمونږ ټولو ماشومانو لپاره یو لازمي کار وو.راته وییل کېدل به چې هر یو پښتون باید ښه نښه ویشتونکی وي."
عابدې ته په خپله د بهوپال د واکمنې سلطان جهان لخوا ډېر ښه پام کېدی.هغه ځکه چې دا د خپل پلار نواب حمیدالله خان ځای نیونکې وه.د یولس کلونو په عمر کې هغې د قرآن لوست پای ته وورساوه.نو د هغې د نشرح جشن ولمانځل شو. په ټول بهوپال کې هغه مهال ددې د لمانځلو ذکر تر ډېرې مودې د خلکو په خوله کې وو. په ۱۹۲٦ م کال کې چې کله ددې پلار حمیدالله خان په لندن کې په رسمي توگه نواب اعلان کړل شو.نو عابده هغه وخت له خپلې مور او خویندو سره یو ځای وه.او بهوپال ته ببرته په راتگ چې اورگاډی ښار ته رانژدې شو نو دا په ستر کېنول شوه.د عابدې لپاره دا یو عجیبه حالت وو.هغې خپل ټول ماشومتوب په لوبو او منډو کې تېر کړی وو.دیوې عادي مېرمنې غوندې ژوند کول هغې ته گران وو.خوڅو میاشتې وروسته دا د کوروایي د نواب سرور علي خان ته په نکاح کړل شوۀ.هغه د اوورکزو له فیروزخېلو څخه وو.راتلونکي پینځه کاله هغې خپل رسمي تعلیم او زدکړې پوره کړې .او کله چې د ۱۷ کالو شوه نو د پلار له کوره رخصت شوه.او په کوروایي کې یې ژوند پېل کړو.
د سرورعلي خان او عابدې خوی خصلت او ژوند له یوه بله سره ډېر په توپیر کې وو.عابدې د آس ځغاسته،بایسکل،پولو،لوبې او ښکار خوښول.او د هغې د خاوند شطرنج او تاش لوبه خوښه وه.دی د ساړه طبعیت خاوند وو او په کور کې د اوسېدو او مطالعې شوقین وو او هر وخت به یې بدنې لوبې نه خوښېدې. نتیجه دا شوه چې د دوی ترمنځ شخړې کېدې.عابدې یوڅو میاشتې ورسره تېرې کړې او ببرته د پلار کور ته راغله.هغې په خپل کتاب کې د خپل واده کړي ژوند د ناکامۍ پړه پر خپلې غاړې اخیستې ده.

یو کال وروسته دا د یوه ماشوم مور شوه چې شهریارخان ونومېدو.بیا عابدې په خپله سرورعلي خان ته اجازه ورکړه چې بل واده دې وکړي.خو په خپله یې تر مرگه له هغه طلاق وانه خیست او نه یې بل واده وکړ.
عابده د خپل پلار لخوا د بهوپال مشره وزیره وټاکل شوه.او په ۱۹۳۷ م کال کې له خپل درې کلن ماشوم زوی او مور پلار او خویندو سره یوځای د انگلستان د پاچا څلورم جورج د تاجپوشۍ مراسمو کې د گډون لپاره ولاړه.
عابدې سلطان له خپل پلار سره د مشرې وزیرې په توگه سرکاري کارونه سرته رسول او د خپل زوی شهریارخان د تربیې او تعلیم سره سره یې د الوتکې چلولو او ښکار او لوبو کې ځان له مصروفیت موندلی وو. په ۱۹٤٦ م کال کې د هند او پاکستان د وېش معامله په ځینو ځایونو کې د خونړیو جگړواو بلوو سوب گرځېدلې وه. پدې حالاتو کې عابدې خپل زوی انگلستان ته بوتلو او هلته یې په ښوونځي کې داخل کړلو. په دې کال د هغې پلار دآفتاب بېگم نومې انجلۍ سره دویم واده وکړوچې له عابدې سره په ښوونځي کې وه.مېمونه سلطان او د عابدې نورو خویندو دا خبره په صبر سره وزغمله.تر یوه حده عابده بېگم هم ددې واده مخالیفه نه وه خو حمیدالله دوی ټولو ته امرکړی وو چې آفتاب بېگم ته به هر ورځ سلام کولو ته حاضرېږي.دعابدې لپاره دا خبره د منلو وړ نه وه.دا هسې هم ډېره سرتمبه او دېره سرکشه ښځه وه.اوو پلار ورته ډېر گران وو . پدې خبره د هغې زړه ځینې مات شو.او له بهوپاله مایوسه شوه.دلته ورته ژوند عبث ښکاره شو.
په ۱۹٤۹ کال کې د هغې پلار د خپل علاج لپاره په انگلستان کې وو.عابدې خپل کالي پترې راټول کړل او تر ټولو نژدې خدمتگارې ته یې وروسپارل او دا یې بمبۍ ته ورواستوله.څو ورځې وروسته دا په خپله هم بمبۍ ته وورسېده.هلته یې د سکواش په اتلولیو کې برخه واخیسته او بیا په بېړۍ کې کېناسته او د هند خاوره یې پرېښوده.دې په خپلې مانۍ کې نوکران،موټرې،آسونه او د کور هرڅه همدغسې پرېښودل او تر ډېرو ورځو څوک خبر نه وو چې دا به بیا نه راتله.څو ورځې وروسته یې په انگلستان کې یو جیپ واخیستو او د سړ ک له لارې اروپا،ترکیې اوله ایرانه څخه پاکستان ته ولاړه.هغه مهال ددې زوی شهریارخان په کېمبریج پوهنتون کې سبق ویلو.

د کراچۍ په ملیر سیمه کې هغې ځان له مزکه وواخیستله او خپل کور یې پرې جوړ کړو.چې تر ډېرې مودې پورې نامکمله پاتې وو او برېښنا پکې نه وه.هغې خپل کالي خرڅول او شهریار ته یې د سبق لپاره پیسې وراستولې.ځکه د هغه د تعلیم لپاره لا پخوا د بهوپال سرکاري وظیفه بنده شوې وه.د هغې په وتلو سره نواب حمیدالله خان ټول اړیکي شلولي وو.د هغې د مزکو ګټه هم وربانديې بنده شوه او د نورالصباح ماڼۍ سرکاري شوه.عابدې سلطان اته کاله ډېر په خوارۍ ژوند تېرکړ خو له پلاره یې چرې هم پیسې ونه غوښتلې.یو واري ددې په کور کې غلا هم وشوه او یو څه کالي پټري چې ورسره وو هغه هم ترې ولاړل دا په خپل کتاب کې لیکي."یوازې زما رېښتوني ملګري زما کور ته راتلل ځکه زما کور ته له کراچۍ ښار څخه د نیم ساعت لاره وه.زما په کور کې د خدمت لپاره کله ناکله بنګالیان راتلل.دوی تاوده زړونه او خوشاله روح لرلو.کله به د هند مهاجر راتلل چې ډېر با ادبه خو دېر بې اعتباره وو.کله به پښتانه راتلل چې ډېر مودبه نه خو پتمن وو.او پنجابیانو به کار ډېر کولو خو پتمن نه وو"
په ۱۹٦۰ کې عابده حسین د خپلې خور ساجده سلطان د لیدو لپاره ډیلي ته ورغله.ساجده د پټوډې په پښتون نواب منصورعلي خان واده وه. په دې وخت د هغې مور مېمونه سلطان ورته ټېلیفون وکړو چې پلار یې سخت ناروغه دی .دا له خپلې خور سره یو ځای په الوتکه کې بهوپال ته ورسېده.
عابده سلطان لیکي

"مونږ د خپل پلار د شخصي ساتونکي لخوا په پوړو ودرول شو او راته یې وویل چې هیڅوک اجازه نلري له دې ځایه وړاندې ولاړ شي.مونږ دواړه خویندې سختې خوابښنې بهر ولاړو.بیا بهر په باغ کې کېناستو زمونږ مور له ډاکټرانو سره جنجال کولو.دوی ډېر مودبه وو او ویېل "چې په مناسب وخت به اجازه ورکړي.چې نواب صېب ووینې"که څه هم بهوپال په ۱۹٤۹ کې له هند سره یو ځای شوی وو خو تر ۱۹٦۰ پوره ځینو نوابانو خپل رسمي حثیت هم هغسې ساتلی

وو.دوی څه خاص امتیازات نه لرل او تش په نوم پاتي وو.زیاتره یې د خپلو مزکو او باغونو په آمدن ژوند تېراوه.
په بله ورځ عابدې او د هغې خور ته اجازه وورکړل شوه چې خپل پلار نواب حمیدالله خان ووینې.عابدې دولس کاله خپل پلار نه وو لیدلی او په وروستي ځل خپل پلار ورته په یو سخت لیک کې خبرتیا ورکړې وه چې دا د بهوپال په مزکو او جایداد کې هیڅ برخه نه لري.
اوس د هغه سترګې کمزورې شوې وې او کله چې یې د خپلې لور غږ واورېدو نو له خوشالۍ یې غېږه پرانیستله .او عابده یې تر غاړې ووتله.څو ورځې وروسته د ۱۹٦۰ کال پر ٤ فروري نواب حمیدالله خان له دې فاني دنیا سترګې پټې کړې.د هغه د جنازې د مراسمو لپاره عابدې هلې ځلې وکړې.او غوښتل یې چې پلارېې په پوره سرکاري درناوي سره خاورو ته وسپارل شي.او د بهوپال د یوویشتو توپو سلامي ورته وکړي،دې ته اطلاع ورکړل شوه چې اوس په بهوپال کې توپې نشته.دلته بیا د عابدې سرټمبګي کار وکړو.هغې فیصله وکړه چې مقصد د بارودو د ډز نه دی. په څه ستړو یې یوویشت د بارودوګولې تیارې کړې او د جنازې پر وخت یې وار په وار خلاصولې.د نواب حمیدالله مړی یې د بهوپال په شاهي جنډۍ کې خاورو ته وسپارلو.د عابدې کورنۍ اوس پر هغې فشار راوړو چې دا دې پاتې شي او د پلار میراث دې سمبال کړي.د هغې میرې آفتاب بېګم هم ورته په ټینګار وویل .خو عابدې اوس په بهوپال کې ځان پردی احساسولو. په ۱۹۸۰ م کال کې دا یوواري بیا د خپلې ناروغې مور میمونه سلطان لیدو ته له پاکستانه هند ته ولاړه.
په بمبۍ کې ورته وویل شو چې اوس به داپه پولیس تانه کې خپل نوم لیکي.ځکه چې دا د پاکستان اوسېدونکې ده.دې هلته د اورګاډې ددریمې درجې ټکټ واخیستلو.او څلورویشت ساعته یې د نورو خلکو په شان نیمه ویښه اونیمه ویده بهوپال ته ورسېده.دې ځان دومره په بدحال احساسولو چې خپل پېټۍ یې پر سر کېښوده او د ټیکسي موندلو په لټه کې شوه.دې فکر کولو چې څوک به یې ونه پېژني او نه یې غوښتل چې څوک یې وپېژني. په دې وخت کې یو پولیس واله ددې لوري راغلی او ورته یې وییل "ته بیا حضور یې (بیا په بهوپال کې

خورکۍ یا مورکۍ په مانا کارېږي.خو عابده سلطان ته به ټولو "بیا"وییل.")
کله چې دې ورته ځان وروپېژندلو نو نور خلک ترې هم راټول شول او آخر په یو ټانګه (ګاډي) کې تر خپل منزل وروروسوله.
هلته په شاهي ماڼۍ کې عابدې خپل مور او کشره خور رابعه سلطان ډېر ناآسوده لیدل.هر څه په زړېدو وو.باغونه یې شاړ او د لوبو میدان له وښو او وحشي بوټو ډک وو.کله کله به یو چا سر ورته ښکاره کړو .ځیني پخواني خدمتګاران لا پاتې وو.میمونه سلطان ډېر شاهي خویونه لرل او لکه د یوې صبرناکې مېرمنې هرڅه بې په خاموشي زغمل خو د ژوند وروستۍ شپېې یې په یوازیتوب تېرې شوې.د بهوپال د نوابۍ وروستۍ وارثې عابدې سلطان چې کله پاکستان ته کډه وکړه نو په لومړیو څو کلونو کې یې ځان له نویو حالاتو سره برابرولو. په ۱۹۵۸ م کال کې دا په برازیل او وروسته په چیلي هېواد کې سفیره شوه.ددې دکورنۍ په درناوي د پاکستان هر حکومت ورته ارزښت ورکولو.د ۱۹۶۰م کال په لسیزه کې هغې د واکمن جنرال ایوب خان پر ضد د مسلم لیګ لخوا په هغو انتخاباتو کې کمپین وچلولو چې مشره یې د محمدعلي جناح خور فاطمه جناح وه.
په عملي سیاست کې داپه لومړي ځل فعاله شوه خو ددوی ګوند رایې ونه ګټلې او ورسره ددې سیاسي ژوند هم پای ته ورسېدو.کله چې ددې زوی شهریارخان د خارجه وزارت لخوا مسلکي ډیپلومات وټاکل شو او واده یې وکړو نو عابدې ټولنیزو کارونو ته لاس واچولو. په خپل کور کې یې د ملیر د غریبو او بې وزلو ماشومانو لپاره د زدکړې اسانتیاوې برابرې کړې.او تر مرګه په لیک لوست بوخته وه.

# يولسم باب
## د بهوپال اوسني پښتانه

په بهوپال کې هغه پښتانه چې د دوست محمد خان په وخت کې ورغلي وو د استوګنې ځایونه یې نه لرل.زیاتره په کې مېشتي خېل وو.اولکه چې د پښتنو دود دی. په پردېس کې هر وخت چې یوه ډله ځان ځای کړي نور ورپسې ځي.د بهوپال د ویالو او تالابونو په غاړه یو بوټۍ کېږي چې مېز رو ته ورته وي او دې ته "برور" وایي.دې لومړنو پښتنو چې کله ځان ته جونګړې او کوډلې جوړولې نو د "برور"بوټي به یې پرې کول او په چتونو به یې غوړول،له همدې کبله ورته دهندوستان خلکو دوی ته "برووکټ"یا (برووپرېکوونکي ) ویل په شلمه پېړۍ کې هم ددې پښتنو اولادونو د کرکټ او هاکي لوبو کې نوم وګټلی یو پکې منصورعلي خان چې د پټوډي نواب او د هند د کرکټ نامتو لوبغاړی وو او بل د هاکي اتل اسلم شېرخان وو .کله چې دوست محمدخان په بهوپال کې ځای پر ځای شو نو له تیراه یې خپل خپلوان راوبلل.چې شېرمحمد،الف محمد ،شاه محمد ،میراحمداو عاقل نومیده.د عاقل علاوه نو ټول په بېلا بېلو جګړو کې ووژل شول.له دې وروسته په لومړۍ جوپه کې نژدې پنځوس تنه راغلل چې زیاتره مېرازي خیل وو.ورپسې مېشتي خېل او فیروزخېلو ټبرونه ورغلل.له بهوپاله لرې د کوروایي نوابي دلېرخان حوړه کړې وه.چې فیروزخېل اورکزي وو.دی په ۱٦۷۰ کې په کندهار کې زېږېدلی وو او له دوست محمد سره یو ځای په ډېرو جنګونو کې لکه د ښو ملګرو جنګېده.

په ۱۷۱۷ کې مغل پاچا فرخ سېرورله له بهوپال سره نژدې ۳۰ پرګنې ورکړې.تر دې وړاندې دلېرخان دلته ۱۷۱۳ کې یوه د خټو کلا جوړه کړې وه.دا سیمه په ۳٦۸ مربع کلومېتره غزېدلې ده.او په ۱۹۰۱ کې هلته دیارلس نیم زره خلک مېشت وو.دلېرخان په ۱۷۲۰ کې د جې پور د راجه تر قوماندې لاندې د کوټه په جنګ کې برخه واخیستله او هم په دې کال له حیدرآباد سره وجنګېدو.خو دوه کاله وروسته دوست محمدخان دی له خپلو زامنو سره یوځای یوې

مېلمستيا ته بېراسييه ته وربللو.او له خپل زوی  سره يو ځای يې ووژلو.دا مالومه نه ده چې له دوست محمدخان سره يې څه وخت او څنگه مخالفت پېدا شو.
دلېرخان د مغل پاچا محمدشاه لخوا شاهي نشان او د اميرالدوله لقب اخيستی وو او د پينځو زرو عسکرو منصب دار وو.دده مېرمن شاه درۍ بي بي د يوه بل  سردارنصرالله خان خور وه.دده زوی عزت خان د پلار پر جاگير وارث شو.او څه وخت چې دوست محمد له مرهټوو سره په جنگ اخته وونو دی د پښتنو د دښمنۍ له کبله د خپل دښمن له دښمن سره لاسونه يو کړل. په ۱۷۶۱ کال چې احمدشاه ابدالي پر هندوستان حمله وکړه او د پاني پت په ميدان کې د مرهټو او د افغان پوځونه يو بل ته مخامخ شول نو    عزت خان د مرهټو په صف کې ولاړ وو.هم په دې جنگ کې دده خپل ماما د احمدشاه ابدالي په پوځ کې جنگېدو. په سختې جگړې کې عزت خان ټپي شو او هم دغه ماما ووپېژندلو.او د درملني لپاره يې له مېدانه خپلې خيمې ته يووړو.کله چې يې ټپونه جوړشول نو د احمدشاه ابدالي خدمت ته يې حاضر کړلو.ده ورله د لقب او د جاگير نه علاوه د يوې لويې جنگي ډلگۍ قومانده وسپارله.دی کوروايي ته د يوه معزز او مېړني په توگه بېرته ولاړو.خو لږه موده وروسته مړ شو.مرهټو دده غداري هېره نه کړه.اوو څه موده وروسته د عزت خان زوی نواب حرمت خان د پلارځای ناستی شو.نو ډېر ژر د مرهټو لاس ته ورغلو او د پلار په بدل کې يې ونيولو او تر  درې کاله د هغوی بندي وو. په بندي خانه کې شکنجه شو او ډېره بده وضع ورسره وشوه.مرهټو غوښتل چې دده خزانه اوپرگنې ترې  واخلي.اخر دی مجبوره شوو او يو شمېر کلي يې مرهټو ته وسپارل.له دې علاوه ده  درې لکه روپۍ د خوشي کېدو په بدل کې ورته ومنلې.له بنده څخه له خلاسېدو سره سم هغه د نويو ملگرو په لټه کې شو او انگرېزانو ته يې مخ واړولو.ده داسې فکر کاوه چې انگرېزان به د مرهټوو د ماتې وروسته  هغه کلي بېرته وورته ورکړي.خو هغوی دغه مزکې په خپل واک کې وساتلې.د حرمت خان دوه زامن مظفرخان او نجف خان يوپه بل پسې نوابان شول.خو د دواړو د مړيني وروسته دوی نارينه اولادونه نه لرل.چې نواب شي. په دې وخت کې د بسوده نواب

په دې ګدۍ دعوا وکړه.خو آخر دا دعوا د نجف خان لمسي منورعلي خان وګټله.د منور مور د نجف خان لور وه.د منورخان هم زامن نه وو او دغسې دده له مړينې وروسته نوابي دده ورويعقوب علي خان ته ورکړل شوه.
يعقوب علي خان له خپلې کونډې وريندارې عمرالنساۀ سره واده وکړو.ده يو زوی او يوه لور لرله.دی هم ددېرشو کالو په عمر کې مړ شو.نو دده ماشوم زوی سرورعلي خان د څلوروکالو په عمر کې نواب اعلان شو.انګرېزانو د هغه د سرپرست په توګه يوه شورا وټاکله چې مشره يې د سرورعلي خان مور عمرالنساۀ وه.دا د "سرکاراماه" په نامه پېژندل کېده.اود بهوپال د نوابې سلطان جهان ملګرې وه.نو د هغې خبره به يې ډېره منله. هغې د واکمنې په توګه په کوروايي کې د غريبو خلکو لپاره اداري جوړې کړې.يوه کليوال بانک به کروندګرو ته د تخم د وېشلو او بې له سوده پوروونه ورکول چې مزکې وکرې.هم د سلطان جهان په وينا نواب سرورعلي خان او دده خويندې د نوې زمانې تعليم او زدکړو لپاره ښوونځيو او کالجونو ته ورواستول شول. په خپله سرورخان د اندور په ډالي کالج او بيا د اجمير په مايو کالج کې د زدکړو لپاره ولېږل شو. په ۱۹۲۱ کې سرورخان دلندن په سينډهرسټ کې پوځي زدکړو لپاره ولاړو.او په ۱۹۲۳ کې نواب شو. په ۱۹۲۶ کې ده د بهوپال له شهزادګۍ عابده سلطان سره واده وکړو.د نکاح نامې يو شرط دا وو چې د سرورخان مشر زوی به دبهوپال نواب وي. په ۱۹۳٤ کې دده زوی شهريارخان وزيږېدی خو دا څرګنده وه چې عابده سلطان او نواب سرورعلي خان يو ځای ژوند نشو کولای.دوی بيل شول.او څه موده وروسته سرورخان دويم او بيا دريم واده وکړ.له دريمې ښځې دده زوی ظفرعلي خان ددۀ له مړينې وروسته نواب شو.نواب سروورعلي خان د هندوانو له ټيټې طبقې سره ډېره خواخوږي او زړه سوی لارۀ.اوپه خپل حکومت کې دوی ته ډېره ونډه ورکړې وه.دکوروايي په ولسي جرګه کې يې ددې طبقې ډېر خلک راووستل.ده دزوررودونو اوجهېز پر ضد هم ډېرې هلې ځلې وکړې.دی په ۱۹۸٦ کې مړشو.

کله چې عابده سلطان له  سرورعلي خانه بېله شوۀ،نو هغه ته یې وویل چې بل واده دې وکړي.نواب سرور د "وای" د نواب لور عایشه سره واده وکړو.دوی درې اوولادونه لرل چې قیصر زمان،ظفرعلي خان او منورعلي خان نومېدل.
قیصرزمان اوس په بهوپال کې یو شخصي ښوونځۍ پرانیستې دی.او لور یې د شهریارخان په دویم زوی علي واده ده او په لاهور کې ژوند تېروي.

د دليرخان يو بل زوى محمداحسن الله خان د بسوده نومي ځاى نواب وټاکل شو.د نواب حرمت خان يو بل زوى نجف خان هم د خپل ورور له مړينې وروسته نواب شو خو ده صوفي طبيعيت لرلو او قادريه طريقې منونکى وو.زيات وخت به يې په عبادت کې تېرلو.دده مېرمن لاډلي بېگم د محمدګړ د نواب احمدقلي خان لور وه.

د نجف درې زامن په ماشومتوب کې مړه شول او چې دى مړ شو نو دده خور کرامت الزماني بېگم نوابه شوه او د بسوده دا دواړه نوابۍ يانې کوروايي او بسوده يو ځاى شول.د ميمونه سلطان دويمه خور ساجده سلطان د پټوډي په نواب افتخارعلي خان واده شوه چې د پښتنو يوه بله نوابي وه.دى د هند د کرکټ لوبغاړى وو.د ساجده سلطان زوى منصورعلي خان هم د پلار په شان د کرکټ لوبه غوره کړه او يووخت کې د هند ستورى وو.ده د هندي فلمونو له بنگالۍ اداکارې شرميلا ټېگور سره واده وکړ.د منصورعلي خان درې اولادونه دي چې دوه يې اوس د هند د بالي ووډ په فلمونو کې د سيف علي خان او سوها علي خان په نامه پېژندل کېږي.

دده يوه لور چې سباعلي خان نومېږي اوس په بهوپال کې د هغو لسگونو زيارتونو او جوماتونو متولي ټاکل شوېده چې په تېرو دريو سوو کلونو کې پښتنو جوړکړي وو.د "اوقاف شاهي" په نوم اداره په بهوپال کې ټول مذهبي ځايونه اداره کوي.له دې علاوه سکندربېگم چې په مکه کې د حاجيانو لپاره کوم رباطونه (وړيا اوسېدو ځايونه)جوړکړي وو.دا د هغې مسوليت هم په غاړه لري.ددې خبرې څه مخاليفت هم کېږي ځکه چې د ساجده سلطان کورنۍ له بهوپاله وتلي گڼل کېږي.او ځينې خلک پدې باور لري چې اوس د نوابانو او دراجه گانو دورختم شوى دى.لکه چې د بهوپال نورې څانگې (شعبې)د حکومت لخوا اداره کېږي. پکار ده چې د نوابې کورنۍ اوقاف هم له حکومت سره وي. په دي اړه راته شهريارخان د يوه ډيپلوماټ ځواب راکړورهغه دا چې "څه په هندوستان کې پاتې دي هغه په ما پورې اړه نلري.زما مور چې بې له هغې هم د پلار په مېراث چې دعوى کړې وه ورته هيڅ تر لاسه نشول.زه خپل ښه ژوند لرم"

د اورکزو یوه بله کورنۍ د جلال خېلو وه چې له دوست محمد خانه ډېر وړاندې د لوهارې په سیمه کې اوسېدل.دا سیمه د هند د اترپردېش د ولایت سهارن پور ولسوالۍ(ضلع) ته نژدې ده.چې د دیوبند مدرسه پکې ده.
د سردار جلال خان څو پشتونه د مزکه والو په توګه د لوهارې خواوشا مېشت وو.د سردارجلال خان د پلارنوم میرحضر خان وو.او د دولسمې پېړۍ په نیمایي کې د مغل پاچا اورنګزېب پر وخت ددې سیمې مزکه وال وو.جلال خان ته دده د خدمتونو په بدل کې منصب ورکړلی شوی وو او دی د "بهیم" نومې ولسوالی تانه دار وو.د جلال آباد د د نوابۍ بنسټ هم ده اېښی وو.دی په ۱۷۱۷ کې مړ شو او هم هلته په جلال آباد کې ښخ وو.د جلال خان له کړوسیو یو احمدعلي خان وو چې د دولس کلونو په عمر کې د بهوپال نوابې سکندربېګم د خپلې کونډې مور او وړې خور سره خپلې ماڼۍ کې وساتل .وروسته احمدعلي له سلطان بېګم سره واده وکړو.

پټهاري

دا سیمه هم بهوپال ته نژدې ده دا سیمه په ۷۸ مربع کلومیټره غزېدلې ده.او دلته د بارکزو د قبیلې خلکو خپله نوابي جوړه کړه.بنایي د ۱۷۹٤ راهیسې پکې پښتانه مزکه وال وو او په ۱۸۰۷ کې نواب حیدرمحمدخان واکمن وو.وروسته دده زوی عبدالکریم او لمسی عبدالرحیم خان نوابان وو.د هند تر وېش پورې (۱۹٤۷)عبدالغني او دده زوی ابوبکر غني دلته نوابان وو.بیا وروستی نواب آصف محمدخان په ۱۹۷۰ کې له دې ځایه کډه وکړه.او بمبۍ ته ولاړل.د هند او پاکستان د وېش وروسته د بهوپال ډېرو پښتنو په تېره بیا هغه چې د اورکزو یا درانیانوله ټبره نه وو پاکستان ته کډه وکړه.دوی زیاتره په کراچۍ کې ژوند کولو،د امراولدوله(دسلطان جهان خاوند)کړوسی انورکمال د پاکستان لخوا په بنګله دېش او بیا په مصر کې سفیر پاتې شو.

د دوست محمدخان د کورنۍ دوه نور مهم غړي غضنفر محمدخان او اسلم محمدخان د پاکستان په پوځ کې د ډګرمن چوکۍ ته ورسېدل.

د امرالدوله لمسۍ منورجهان د جوناګړ نواب ته واده شوه.

د مېمونه سلطان خورزه شهزادګۍ فرحت سلطان د پاکستان د هوایي ځواک مشر (اېیرمارشل)نورخان ته واده شوه.

د بهو پال په پوځ کې به تل پښتانه زیات وو او د نوابۍ د ساتنې په لاره کې دې پښتنو ډېر لوی رول لوبولی دی.د مېمونه سلطان ورو سلطان عزېز خان ته به له پېښوره ځینې خلک راتلل او ده به ورته کار روزګاروركولی.

په دوی کې ډېر خلک چې ژوند یې ښه شوتراوسه په بهوپال کې اوسېږي. دوی به د واده لپاره انجونه او هلکان د پښتنو په کورونو کې لټول.خولکه چې په نورو ځایونو کې هم کېږي.له لومړي کول څخه دویم ته ژبه کډه نه کوي.او په تېره بیا چې په چاپېریال کې پښتو نه وي.دوی پښتو له لاسه ورکړېده.د نوابې کورنۍ زیاترو خلکو خپلې ماڼۍ یا په کرایه ورکړې اویا یې هوټلونه ترې جوړکړي دي.

د عابدې سلطانې کشره خور رابعه اوس هم په بهوپال کې ده او پخپل کور کې یې یو ښوونځی جوړکړی دی.

نور یا په بمبۍ او یا هم په ډيلي کې اوسيږي.ځينو پخوانيو پوځيانو یا ښار او کليو کې مزکې اخيستې دي کورونه يې جوړ کړي او هم هلته اوسيږي. په داسې کورنيو کې يو څه پښتو پاتې ده.او د هغې علت دا دی چې دوی په پاکستان کې له خپلو خپلوانو سره رابطه لري .او کله چې د هند او پاکستان ترمنځ پولې پرانستې وې نو دوی د يوه بل کره تګ راتګ هم کوي .نوې واده شوې مېرمنې له ځانه سره پښتو راوړي او دغسې ژبه يو څه تازه شي.نور په اردو کې د پښتو ټکي راګډ کړي.يو ځای د ډوډۍ پر وخت ښځو په خپلو کې خبرې کولې.لکه اینې ،مړی،مړا،خو چپ شه،زه،ځه مې تر غوږ و شول.
د بهوپال يو اغېزمن شخصيت مفتي عبدالرزاق نوميږي.دده کورنۍ نژدې سل کاله پخوا د سوبه سرحد(پښتونخوا)له مردانه هند ته تللې وه.ده هم هلته ديني زدکړې کړې دي.دده يوه زوی د مدهيه پردېش له يوې حوضې (حلقې) څخه د لوک سبها (پارلمان) غړی دی.د بهوپال په ښار کې دده يوه لويه مدرسه ده.او دلته له څلورو سوو زيات ماشومان د ديني زدکړو لپاره ورځي.خودا مدرسه د سپينږيرو پښتنو لپاره د راټولېدو يو مرکز هم دی.د مدرسې د انتظام لپاره څه ناڅه ۸۰ کسان کارکوي. په دوی کې د مفتي صېب د کورغړي هم شامل دي.ده راته وويل"مونږ هره ورځ دوه نيمو سوو خلکو ته دوه وخته ډوډۍ ورکوو"ډوډۍ خوړونکي زياتره هغه کوچينان وو چې دسبق لپاره هلته ورتلل. په مدرسه کې دننه يو دالان کې ښځې ناستې وې .دوی وريژې او نوره غله پاکوله.د مفتي صېب يو زوم هره ورځ د پخولو لپاره غوښه او ترکاري په خپله راوړله.
له ښاره شل کلومېتره لويديځ لوري ته په يو کلي کې مفتي عبدالرزاق يوه مدرسه جوړه کړې وه.او هم هلته يې يوه ورځ د خپلې کورنۍ غړي او ځينې نور خلک مېلمانه کړل.هرچا ته يې د صحبت بلنه ورکړې وه.د ښځو لپاره د مدرسې په دويم پوړ کې يوه برنډه غوره شوې وه.د مفتي صېب لور راته وويل مونږ دې ډوډۍ ته 'وړه ډوډۍ 'وايو.بياد چېلې (اوزې)د غووښې لويې لويې ټوټې چې په يوه غټ دېګ کې پخ شوې وې راوړل شوې. په شوروا کې پاستي(چپاتي) واړه شو. په غټو غټو خانکونو کې يې دا ډوډۍ راوړه او مونږ په ډلو کې کېناستو او وموخوړله.د ښاريو څو ښځې ناارامې

وې.دوی  په لاسونو وړه ډوډۍ نشوای خوړلای او قاشوغې یې غوښتې.
 په بهوپال کې ددوست محمدخان کلا چې  فتح ګړ نومېږي اوس هم شته.خو ددې له یوه دېوال سره سرې وړې جنډۍ رپېدلې او دا ددې نښه وه چې هندو مذهبي سخت ګیرو دلته  درام  دمندر کېدو دعوی لري.
د دوست محمدخان د استوګنې ځای ډېر ساده وو.ددې کوټې او دالانونه  هم هغسې دي لکه چې په  تیراه کې د ځینو خانانو کورونه وي.
د نوابې کورنۍ هغه ښکلې ماڼۍ چې صدر منزل موتي محل او تاج نومېږي.اوس پکې هوټلونه جوړدي.د بهوپال د نامتو جهیل (تالاب)خواوشا ټولې ودانۍ اوس د سپلانیانو لپاره په کرایه ورکول کېږي.
د دوست محمدخان دکور په برنډه کې د تېرو سلو کلونو تصویرونه ځوړند وو. په دوی کې د وروستي نواب حمیدالله خان او دده د مشرې لور عابدې سلطان عکسونه ډېر  وو.عابدې له ماشومتوبه پوځي لباس اغوستلو  او په آس به یې  ډېره سپرلی کوله.مونږ سره مل د بونیر یو پښتون طالع زرخان چې دعوی یې کوله دی له سلو کلو زیات عمر لري او د بهوپال په پوځ کې عسکر پاتې شوی وو.د عابده سلطان یو عکس ته یې ګوته ونیوله او ویې ویل "مونږ چې کله پوځي پرېډ کاوه او نواب حمیدالله خان به کتنې ته راتلو نو عابده سلطان به ورسره مله."
د رای سین ولسوالۍ د بهوپال له ښاره ۶۰ کلومیټره د لویدیځ پر خوا ده.د یوې غونډۍ له پاسه د رای سین د مشهورې کلا کنډوالې له سرکه ښکارېدې.دا کلا په شپاړلسمه پېړۍ کې شېرشاه سوري له یوې محاصرې وروسته نیولې وه.دوه سوه کاله وروسته هم دغه کلا دوست محمدخان نیولې وه.ددې غونډۍ په  شاوخوا کلیو کې دپښتنومېنې دي. په دوی کې یوځو نومونه داسې دي.،سیلواني،اوچیره،باولییه،خان
ډېره،نښتره،دهنورا،بهولايي،تلايي،ګوبندا،مولټا،اګر،بورلايي،
څارنپور  او داسې نور....

په باولیه کې محمدایوب او د هغه وروڼه په خپل هغه لوی کور کې ژوند کوي چې دده پلار پنځوس کاله پخوا جوړکړی وو.او تقریبا د ټول کلي مزکې د دوی خپلې دي.دده د پلار نوم شمس احمد وو اودی له سواته بهوپال ته تللی وو.هغه وخت په خان ډېره(کهنډېره) کې دوه نور پښتانه وورونه د عابدحسین او ماجد حسین په نومونو اوسیدل.دوی به د بهوپال د ځنګلونو لرګي پرېکول.چارتراش به یې ترې جوړول،او دکورونو او فرنیچر جوړولولپاره  به یې پر خلکو پلورل.شمس احمد هغه وخت د دوی دا لرګي په یوه ټرک کې د هند بېلابېلو برخو ته رسول.د لارئ (ټرک)چلولو کار ده پخوا هم کولو.خو اوس یې پکې ګټه ډېره وکړه.ورروسته ده هم د لرګیو کار پیل کړو،او په باولیه کې مزکه واخیستله.
د شمس دوه مېرمنې وې .یوه عایشه بي بي نومېده چې ما ورسره په بهاولییه کې ولیدل.او زما له تګه یو کال وروسته وفات شوه.دویمه خوشاله بي بي ده ،تردې دمه چې زه دا لیکنه کوم لا ژوندئ ده.
خوشاله بي بي د ایوب احمد مور ده او په وړوکي عمر کې له سواته راواده شوه.او د بهوپال په دې وړوکي کلي کې ژوند پیل کړو. په باولییه کې د ټیلي فون او د برق آسانتیاو ې شته خو د کلي سړک پوخ نه دی.
زما په پوښتنه ایوب احمد راته وویل دا کلي همدغسې ښه دی.مونږ سړک نه غواړو.
اوس د کروندې لپاره دوی ټرېکټر او سره کاروي.او تېرکال یوازې د غنم حاصل (پالېز)یې دوه زره  کلوګرام وو.د غنمو برسېره دوی چڼې او دالونه او په لږه مزکه ترکاري هم کري.دوی بزګران هم لري چې  زیاتره هندوان دي.د دوی مېرمنې هم د کور په کارونو کې بوختې وي.هر یوه خدمتګار ته دوی څلورسوه روپۍ تنخواه ورکوي.
په واده ښادي  کې ورته نوې جامې او پیزار اخلي.د پښتنوله هر کور سره جوخته یوه هجره ضرور جوړه وي.سړي ماښام په هجره کې راټولېږي،او څراغ (لالټین) په رڼا کې کیسې کوي.یا راډیو اوري.ددې کلي پښتانه په اسلامي اصولو سخت ولاړ دي.کله  چې یې ښځې  د یوه بل کور ته ځي نو پړوني  پرسروي.خو چې له بهوپال ښاره بهر وزي نو بیا چادري(برقعې)اغوندي.ځینو سپین ږیرو د

نوابئ دوخت په ښه ټکو کې يادولې.خو د کلي ځوانانو يې په هغه اړه هيڅ مالومات نلرل.داسې ځوانان هم شته چې په پښتو خبرې کوي او په دې وياړي چې دوی پښتانه دي.او نور بيا د اسلاميت او د مسلمانئ او د مسلمانانو د يووالي په خبره ټينګ دي.
په بهوپال کې د کونړ اوسېدونکي يوه وکيل وحيدخان د صديق حسن ذکر په ښه ټکيو کې وکړ.صديق حسن د شاهجهان بېګم دويم خاوند وو او د انګرېزانو پر ضد يې تبليغ کاوه.وحيدخان په دې نظر وو چې صديق حسن يو لوستی سړی وو.او هغه د اسلام د دين لپاره له يوه لوی قدرت سره ډغره وهله.
په اوسني هندکې مسلمانان خپل ځان ډېر ترګواښ لاندې احساسوي .ځکه خو په بهوپال کې پښتانه د پېژندګلو لپاره د خپلې ژبې يا کلتور پر ځای تر اسلامي چتر لاندې خپل ځان زيات خوندي ګڼي.
په بهوپال کې زياتره پښتانه اوس د ځايي خلکو غوندې ژوند تېروي.دوی خپله ژبه هېره کړېده.د نوي کول ځوانان اردو وايي خو لوستلای يې نشي ځکه چې په هند کې رسمي ليکنې په ګورمکهي رسم الخط باندې کېږي. د پښتنو پرته (علاوه)چې دلته نور مسلمانان ژوند کوي په کړو وړو کې يې ډېر توپير نشته.دهندوستان له وېشه وروسته هغه هندو مهاجر چې د پاکستان له سندسوبې (اېالت) څخه ورغلي وو د دوی ګڼ شمېر په بهوپال کې ځای کړل شو.

ځينې پښتانه په دې خبره په تشويش کې دي چې په پاکستان او افغانستان کې  د دوی د قام خلک په ترهگری بدنامېږي. دوی هلته د امريکا او اروپايي ځواکونو په شتوالي هم خواشيني وو. په بهوپال کې ورته د يوه لږکي ( اقليت )په توگه ژوند  گران نه دی.خو کله کله د خپلو مشرانو د وختونو او د هغه  دور يادونه ضرورکوي.چې په دې خاوره يې حکومت کړی وو

د دوست محمدروزنامچه

د سلطان جهان د نوابۍ پر وخت هرکال د اختر پر موقع د کورنۍ ټول غړي به په لوی تالار کې راټول شول.او هغه وخت به د دوست محمدخان روزنامچه د هغه د اوسپيني له لويې پېټۍ راواېستل شووه او ټولو به لکه د تبرک دا وليدله.بيا به يي هم هغسې سنبال کېښوده. پر دې موقع به يې د حضرت محمدصلم وېښته مبارک هم ليدو چې ورته ترکي سلطان ډالی کړی وو.عابدې سلطان په خپله دا دواړه شيان کال پر کال ليدلو.
د دوست محمد روزنامچه د هغه ديوان (وزير)بيجي رام ورته په فارسي کې ليکلی وو.د نواب حميدالله د مړينې وروسته لکه چې د هغه نور شيان ورک شول.ددې روزنامچې درک ونه لګېدو.
کله چې شهريارخان د بهوپال د تاريخ ليکلو لپاره له خپلوانو سره رابطه وکړله نو دا روزنامچه له هيچا سره نه وه. په ۱۹۶۲ م کال کې د هندوستان يوه اردو مجله "شعله حيات"ددې روزنامچې ژباړه په قسطونو کې چاپ کړه.عابده سلطان وايي دا د اصل متن ژباړه ده.شهريار خان راته وويل چې د ددمجلې له چلونکو سره هم رابطه وکړه خو دوی خبر نه وو چې اصل روزنامچه له چا سره وه.ان تر دې چې د هند په ملي آرشيف کې هم نشته.خو مهمه خبره داده چې ددې روزنامچې له مخې د قدسيي بېګم د زمانې راهيسې د بهوپال تاريخ ليکل شوی دی.شاهجهان بېګم په خپله هم د بهوپال د تاريخ د ليکلو پر وخت له دې روزنامچې څخه پېښې ليکلي دي.

ماخذونه


۱. دبهوپال بېگمات. شهريارخان

۲. د باغي شهزادگی يادونه. عابده سلطان ۲۰۰۵ مکال آکسفورډ يونيورسيټي پرېس کراچي.

۳. د هندستان طلايي کتاب. سر روپر ليت برج ۱۹۰۰

٤. انسايکلوپيډيا اېشياټيک.۱۹۷٦ اېډورډ بال فور کوزمو خپرندويه

٥. په بهوپال ، ډيلي او لندن کې د د نوابې کورنۍ او نورو پښتنو او غېرپښتنو سره مرکې.

٦.مسلماني ښځې .اصلاحات او شاهي ساتنواله (patronage )
د بهوپال نواب سلطان جهان بېگم ....سيوبان لومبرټ-شاهي اېشيايي ټولنه هرلي روټ لاج ۲۰۰٦

۷. په هند کې زما سفرونه( ۱۹۲۷ )گرېس تهامسن سي ټون
ختيځ او لويديځ (مجله)

سلطان جهان

گریس تهامس سیټون په ۱۹۲۷ کې خپلې سفرنامې کې لیکي.

"اوسنۍ بیګم د جینکو لپاره ښوونځۍ ،د ښځو یو روغتون او د لاسي کارونو یو پوهنځۍ پرانستی دی.دا هر څه په پرده کې کېږي.محترمه نوابه هر څه چې ددې په وس کې وي او اسلامي قانون ورله اجازه ورکوي د ښځو لپاره یې کوي.

"نواب سلطان جهان بېګم د شپږو کتابونو یوه باصلاحییته لیکواله ده.دا د انجینېرۍ ،موسیقي ،پخلی او د ستنې د کار پورا علم لري.او د علي ګړه پوهنتون ریسه (چانسلره )ده."

وروسته نوابې سره د چای د څښلو لپاره چې ورځې نو د سلطان جهان په اړه لیکي.

"ددې د واورې په شان سپین ویښته وو.لباس یې یو توکمی لرونکی کمیس او ورېښمین پرتوګ یې وو.او نسواري کشمیری شال یې پر اوږو لکه د سارۍ تاوکړی وو.نه ددې پر سر تاج وو نه ورېښمینه چپنه او نه هم ځلېدونکي کالي پتري خو وقار او دروند شخصیت ددې له مهربانو سترګو څرګند وو .داسې سترګې چې هم یې غم لیدلی وو او هم یې بریالیتوب ترلاسه کړی وو. her highness جلالت مآب په انګرېزي هم خبرې کولای شي.خو ماسره خپله ژبه اردو کې خبرې کولې.چې په دې ژبه کې یې لېکنې هم کړې دي په دوی کې یو ددې د مور او نیا او یو ددې د خپل ژوند لیک دی.نور کتابونه یې د یوې مسلمانې کورنۍ او د پردې په دفاع کې لیکلي دي."

مېرمن ګریس وروسته بیا د سلطان جهان د دریو لمسیو ذکر کوي.چې د خپلې نیا د سلام او تعظیم وروسته ترې یې د د لوبو اجازه واخیسته.د مېمونه سلطان په اړه وایي دا به د درویشتو کالو وي او ډېره نرۍ او ښایسته وه.ددې کړه وړه شاهانه وو او خوشاله مالومېده.دا په سخته پرده کې د خپلې خوانې سره د شاهي مانۍ په نورو خونو کې ژوند کوي.